خراسان غږ

18
ګڼه

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

خراسان غږ

خراسان غږ پنځلس ورځنۍ مجله العزائم خپرندویه اداره یې وړاندې کوي
اته لسمه ګڼه / دوشنبه 22 رجب 1444هـ

پاکستان
د اسلامي وجود
سرطان



مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي
خراسان غږ مجله 18 مه ګڼه
رجب 1444 هـ

سرليک

سرمقاله 3

اعلامي جګړه لا تونده کړئ!

د کفر او اسلام ترمنځ په مختلفو محاذونو او ډګرونو کې لا هم جګړه روانه ده ، د معرکو له دې ډګرونو یو هم اعلامي سنګر او ډګر دی، د تاریخ په هر پړاو کې د اسلام بچو همدا اعلامي مورچل تود ساتلی...

سياسي برخه

جنګ په توحيد الحاکمية دی 09

طالبان د کفري استخباراتو نيابتي جګړه ماران(2) 28

طالبان د پلک او سندان په منځ کې(2) 33

متکې مه ژاړه! 40

د حق محک (2) 49

د الله حد او د طالبانو بد (2) 52

پاکستان د اسلامي وجود سرطان 57

ديني برخه

خلافت پېژندنه 17

الله جل جلاله ته زمونږ سفر دی 24

سوال ځواب 73

ادبي برخه

لنډه کيسه سرې تيږې 71

اعلامي جګړه

لا تونده کړئ !

د کفر او اسلام ترمنځ په مختلو محاذونو او پګرونو کې لا هم جګړه روانه ده ، د معرکو له دې پګرونو یو هم اعلامي سنګر او پګر دی، د تاریخ په هر پړاو کې د اسلام بچو همدا اعلامي مورچل تود ساتلی، نن هم د ابن خطل او کعب بن اشرف د بچو په وړاندې د حسان بن ثابت ، کعب بن مالک، ثابت بن قیس او عبدالله بن رواحه رضي الله عنهم په پلونو تلونکي غازیان میدان ته راوتلي او د کفر له بچو یې سترګې ویستلي .

هو!

دا جګړه ورځ تر بلې پیچلې کیږي ، کفار هڅه کوي چې په ډیر مکر او فریب د اسلامي امت د بچو ذهنونه تخریب کړي ، دوی ته خپل ارزښتونه پردي او پردي ارزښتونه ورته خپل معرفي کړي .

همدا فکري او اعلامي جګړه وه چې د طالب په نامه حشرات یې د ټولو کفارو په ساتونکوعسکرو او ددوی د اهدافو په پالونکو مامورینو بدل کړل ، اوس نو دادی دوی ته خپل کفر اسلام او اسلام ورته کفر ښکاري ، دا د همدې اعلامي جګړې اغیز دی چې طالب مشران او کشران یې په ډیر اخلاص شپه او ورځ نه ستړي کیدونکي هڅې کوي چې څنګه په دوحه کې ډیزاین شوی دیموکراسي د اسلامي نظام په نامه په خلکو تحمیل ، تطبیق او ومني ، او ریښتنی حقیقي اسلامي نظام او ددغه اسلامي نظام حامیان د اسلامي دولت سربښندویان په ډول ، ډول نومونو بدنام کړي

او دادی د همدې اعلامي جګړې په لړ کې کفارو خپلو لاس پوڅو مرتدو عسکرو طالب مرتدینو ته پراخه زمینه سازي کړې ده ، هم یې د افغانستان په داخل کې په سلګونو رسنی په واک کې ورکړي او هم ورته بهرني نړیوالې رسنی په پراخه کچه لابي او تبلیغات کوي او د طالب توره څېره له خلکو پټوي او منفي کړنو ته یې هم مثبت انعکاس ورکوي ، دوی له نورو هر اړخیزو رسنیو راواخله په ټولنیزه میډیا کې هم د کفارو له لوري په پراخه کچه حمایه کیږي خو ډیره د تعجب خبره داده چې که د اسلامي دولت د اعلامي دګر اتلان د طالب مرتدینو کفر او ارتداد نړۍ ته راڅرګندوي په دې اړه لیکنې کوي ، بیانات، رسالې ، ویډیوګانې او نور اړوند مواد خپروي نو د ټولنیزي میډیا په مختلفو چینلونو او کانالونو کې ادرسونه ډیر ژر له منځه ځي نه هم فس بک ، نه تویټر ، نه تلګرام او نه نور کانالونه د طالبانو بدي برداشت کولای شي ، که د طالب په خلاف دې یو حرف ولیکه ولو که سل په سلو په حقایقو بنا وي او مستند شواهد او ثبوتونه ولري خو بیا هم تاته یاد کانالونه دا اجازه نه درکوي چې د طالب مرتدینو په خلاف څه خپاره کړي ، خو برعکس د اسلامي دولت په خلاف د طالب ملیشو په شمول د ټولي نړۍ د

کفارو ، طواغیتو او مرتدینو هر ډول تبلیغاتو او پروپایګنډو ته په پراخه کچه انعکاس ورکوي . خو د دومره سختو محدودیتونو ، په اعلامي برخه کې د هر اړخیزو فشارونو باوجود د لوی الله عزوجل په فضل د اسلامي دولت د اعلام د ډګر اتلان په دې توانیدلي چې په ډیرو کمو امکاناتو د ټولو کفارو او ددوی د مرتدو مزدورانو طالب ملیشو خوبونه حرام کړي.

کفارپه دې تمه ووچې طالب ملېشو ته یې د اسلام په نامه په دوحه کې ډیزاین شوې دیموکراسي د تطبیق لپاره وسپارله اوس به نو د ټولې نړۍ مسلمانان د خپلې مکارۍ او دروغجنې میډیا په زور په دې قانع کړي چې دا حقیقي اسلام او طالب ملېشې حقیقي مجاهدین او فاتحان دي ، ځکه یې نو په ډیرو مکرونو او مانورونو ددغه ادعاوو تمثیلونه وکړل ، خو لله الحمد د اسلامي امت میندو داسې میړني بچي د اعلامي سنګر داسې نه ماتیدونکي غازي زلمي زیږولي او روزلي چې د کفارو ټول ارمانونه یې له خاورو سره خاورې کړل ، دطالب کفر یې خلکو ته رابرسیره کړ او دادی په ډیر ښه شکل یې د کفارو او طالب ملیشو له شریکو اسلام دښمنه پلانونو څخه پردې پورته کړې او ورځ تر بلې د هغه قناعت کونکو تعداد زیاتیږي چې د طالب ملیشو په کفر یقیني کیږي ، ځکه نو له طالب ملېشو لار ورکه ده ، حیران دي چې د اسلامي دولت د اعلامي زمرو مخه څنګه ونیسي ، لله الحمد په دې ورستیو کې د اعلامي ډګر اتلانو د طالب مرتدینو ټولې کفري کړنې او نواقض یو ، یو مستند او مدلل رسوا او رد کړل ، د اسلامي دولت د اعلامي موادو په لیدو او لوستو د طالب په لیکو کې هم تزلزل ترسترګو کیږي او هغه څه چې دوی خپلو کشر خیلو ته د اسلام په نامه وریپیژندلي وو، نو هغه ټول ورته د اعلام د سنګر غازیانو سره له ثبوتونو د کفر په نامه وریپیژندل ، نور ددوی په پوچو تبلیغاتو غولیدلي ګڼ عوام هم د طالب د مکر او فریب په دروغجنو فعالیتونو نه غولیږي او ددوی څېره یې په هر اړخیز ښکل ډیره ښه پیژندلې ، دوی که اوس هر څومره د خپلې مسلمانۍ تمثیل وکړي او هر څومره په دوحه کې ډیزاین شوې دیموکراسي د اسلامي نظام په نامه خلکو ته مخ ، مخ ته کړي خو اوس خلک ټول په دې پوهیدلي دي چې طالب څوک دی او نظام یې څه دی؟!

نو د اسلامي دولت د اعلامي ډګر اتلانو او مناصرینو ورونو!

اعلامي جګړه مو نوره هم تونده کړئ .

دښمن مو نور د هلاک د مرګوني کمر په څنډو ولاړ دی، د خپلو کفري کړنو د توجیه کولو لپاره ورسره نور هیڅ هم نه دي پاتې ، څومره وسه یې چې درلوده ټوله یې تمامه کړه ، او لله الحمد تاسې په ډیره ښه طریقه ددوی هر تبلیغاتي دسیسه او اعلامي پروپایګنډه د لوی الله په مرسته ناکامه او بدنامه کړه .

نو اې د اعلامي سنګر اتلانو ، مناصرینو او نورو عامو مسلمانانو ورونو او خویندو !

د خپل اعلامي جهاد په ارزښت خبر یاست ؟

ته پوهیږی ، د سپیڅلي اسلام د نصرت په پار ستا د قلم او د ژبې کاري ګزار د غازي د لغړې تورې شرنګهار او د تور ټوپک درازار څخه کم ندی؟

کله کله خو ستا حیدري ګزار پدې کفارو د مجاهد د ټوپک شپیلۍ څخه وتونکي او د کفارو او مرتدو سینې غلبیلونکي غازي مردکي، ماین او خونړي کمین څخه هم خورا زیات سخت او دروند تمامیږي.

هو، دا حقیقت وایم.

له ځانه یې نه وایم ، پدې دعوه د نبوت د ملغلرو څخه روښانه دلائل لرم.

راځئ د سیرت پاڼې په شریکه واړوو او له ما او تا څخه مخکې د اعلامیانو حال وګورو لکه هر یو عبد الله بن رواحه، حسان بن ثابت ، کعب بن مالک، ثابت بن قیس رضي الله عنهم په اړه نبي علیه السلام څه فرمایي ، کوم زیري یې ورته ورکړي ، کومې دعاګانې یې ورته کړي ؟

حسان بن ثابت رضي الله عنه په اړه صحیح البخاري او صحیح مسلم روایت ذکر کړی چې محمد رسول الله علیه السلام ورته وفرمایل:

«یَا حَسَّانُ، أَجِبْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، اللَّهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ القُدُسِ» متفق علیه.

اې حسانه د الله د رسول صلی الله علیه وسلم څخه جواب وکړه، یا الله د جبریل علیه السلام په واسطه د حسان کومک وکړه.

دغه امر هر اعلامي ملګري ته متوجې دی چې د خپل دین ، اسلام، منهج او نظام څخه دفاع وکړي او د نبوي دعاګانو څخه ځان برخمن کړي.

اعلامي مجاهدینو شان دومره لوړ دی چې نبي علیه السلام ورته د ځمکې په سر یو غوره جمات مسجد نبوي کې منبر ږدي او هغه په نبوي منبر ودروي ترڅو اعلامي کارونه په ښه توګه پرمخ یوسي.

اعلامي وروره! آیا دا فضیلت دې کافي ندی ؟

آیا نورو مسلمانانو لپاره داسې فضیلت ثابت دی ؟

آیا کوم بل مسلمان ته نبي علیه السلام منبر برابر کړی ؟

آیا د نبي علیه السلام په حضور کې کوم صحابي د هغه منبر ته پورته شوی؟

راځئ د نبوت د باغ یو بل خوشبو دار ګل څخه د عمل په نیت خوند واخلو: عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ لِحَسَّانَ مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ يَقُومُ عَلَيْهِ قَائِمًا يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَيَقُولُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ بِرُوحِ القُدُسِ مَا يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. سنن الترمذي.

عائشه رضي الله عنها فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به په مسجد نبوي کې د حسان لپاره منبر کیښودو، هغه به پرې ودریدو، د نبي علیه السلام څخه به یې دفاع کوله. او نبي علیه السلام به فرمایل: یقینا الله عزوجل د جبریل علیه السلام په واسطې سره د حسان کومک کوي تر څو چې دا د الله رسول علیه السلام څخه دفاع کوي.

عَنِ البَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ قُرَيْظَةَ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ: «اهْجُ المُشْرِكِينَ، فَإِنَّ جِبْرِيلَ مَعَكَ» صحيح البخاري.

براء بن عازب وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم د قریظه په ورځ حسان ته وویل: د مشرکانو بدي بیان کړه یقینا جبریل تا سره دی.

نو اې اعلامي ګلالیو!

تاسو پدې نه خوشحالیږئ چې الله عزوجل ستاسو په کومک کې د جبریل علیه السلام په شان مقرب ملائک لګیا کړي دي ؟

د صحابه وو مبارک ټولي څخه یو بل اعلامي مجاهد ثابت بن قیس رضي الله عنه دی، چې

محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم به ځان سره ګرځوو، او د " خطیب رسول الله " لقب يې ګټلی وو، د مسلمانانو وياند وو. هرې غونډې ته وینا او د قومونو استازو سره د لیدنې پرمهال به نبي علیه السلام ثابت اعلامي ځان سره بوتللو ترڅو پدغه اعلامي برخه کې مسلمانان پاتې رانشي.

صحيح البخاري کې حدیث ذکر دی، يو ځل مسيلمة الكذاب د خپل قوم سره په شان او شوکت کې مدينې ته راغی، او نبي علیه السلام څخه يې د واک او نيابت غوښتنه وکړه، نبي علیه السلام لاړو او ورته يې وفرمايل: وَهَذَا ثَابِتٌ يُجِيبُكَ عَنِّي. او دا ثابت به درته زما لخوا جواب وکړي.

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي: يو ځل د مدينې مشرق لخوا دوه خطيبان (عمرو بن الأهتم التميمي او زبرقان بن بدر التميمي رضي الله عنهما) راغلل، بيانونه يې وکړل، خلک يې سخت تعجب کې کړل نبي عليه السلام وفرمايل دا بعضې بيان هم خپل سحر او جادو لري (معنا دا چې د جادو په شان د خلکو زړونه جلبوي) نو د مسلمانانو لخوا ثابت رضي الله عنه پاڅيدو او داسې نطاقي يې وکړه چې هغوی هم ورته حيران شو. لکه دا زيادت په حديث د ابن حبان کې دی:

فَقَامَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ خَطِيبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَتَكَلَّمَ فَعَجِبُوا مِنْ كَلَامِهِ. صحيح ابن حبان.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم خطیب ثابت بن قيس پاڅيدو او بيان يې وکړو نو هغوی دده بيان څخه تعجب وکړو.

دغه ثابت اعلامي يو ځل د يو آيت په نازليدو سره په کور کې ځان کلابند کړ او پدې يې ژړل چې زه خو خطيب او نطاق يم د نبي عليه السلام پر وراندې زما غږ پورته کيږي، او طبعا يې هم غږ لوړ وو، او الله عزوجل فرمايي که چا د نبي عليه السلام د غږ څخه خپل غږ پورته کړ نو اعمال به يې برباد شي، کله چې نبي عليه السلام ددې کيسې څخه خبر شو نو دغه اعلامي مجاهد ته يې زيري وليږو:

فَقَالَ: " اذْهَبْ إِلَيْهِ فَقُلْ لَهُ: إِنَّكَ لَسْتَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ، وَلَكِنَّكَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ " صحيح البخاري.

لاړ شه او ثابت ته ووايه: ته د اوور والاو څخه نه يې بلکې ته د جنت والاو څخه يې.

دا د صحابه وو اعلامي مجاهدينو لپاره زيري وو چې نبي عليه السلام په ژوند کې ورته د جنت په شان بې مثاله کور بشارت ورکوي.

د صحيح البخاري او د صحيح مسلم روايت دی چې يو ځل عامر بن أکوع (چې دا هم اعلامي مجاهد وو)، د خيبر د غزوې پر لاره يې اعلامي خدمت شروع کړو، اشعار يې ويل تر څو مجاهدين ورونه يې په جهادي کاروان کې ستړي او ستومانه نشي، نبي عليه السلام تپوس وکړو دا څوک دی ؟ صحابه وو وويل عامر بن أکوع دی. قَالَ: «يَرْحَمُهُ اللَّهُ». وايي الله عزوجل دې پرې رحم وکړي. ددغه اعلامي خدمت له امله يې ورته دعا وکړه او بيا پدغه جنګ کې شهيد شو.

يو نآشنا فضيلت د اعلامي مجاهدينو هغه په حديث د سنن ترمذي کې ذکر شوی:

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ فِي عُمْرَةِ القَضَاءِ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ بَيْنَ يَدَيْهِ يَمْشِي وَهُوَ يَقُولُ:

خَلُّوا بَنِي الكُفَّارِ عَنْ سَبِيلِهِ ...
اليَوْمَ نَضْرِبْكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهِ
ضَرْبًا يُزِيلُ الهَامَ عَنْ مَقِيلِهِ ...
وَيُذْهِلُ الخَلِيلَ عَنْ خَلِيلِهِ

فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: يَا ابْنَ رَوَاحَةَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي حَرَمِ اللَّهِ تَقُولُ الشِّعْرَ؟ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَلِّ عَنْهُ يَا عُمَرُ، فَلَهِيَ أَسْرَعُ فِيهِمْ مِنْ نَضْحِ النَّبْلِ» سنن الترمذي.

انس رضي الله عنه وايي چې نبي عليه السلام د عمرة القضاء پرمهال مکې ته ننوت پداسې حال کې چې عبد الله بن رواحه رضي الله عنه (بناء بر قول أصح) يې مخې ته روان وو او دا اشعار يې ويل:

اې د کفارو بچيو لاره پريږدئ ... نن به مونږ تاسو د قرآن د نزوله له امله وهو (يا د نبي عليه السلام مکې ته راتګ او ستاسو د مخالفت په صورت کې مو په تورو وهو) داسې ګزار چې ښتونه د تنې څه جدا کوي ... او يو ملګری د بل څخه هيروي.

عمر رضي الله عنه ورته وويل: اې د رواحه ځويه، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخکې او د الله

په حرم کې ته شعر وايې ؟

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: اې عمره پرېږده، دا کلمات (اشعار) پدې کفارو د غشو ګزار څخه سخت تماميږي.

الله أكبر!

دې حديث کې د اعلامي فعاليتونو څومره فضيلت او غوره والی ذکر شوی، چې د غشي ګزار څخه زيات مؤثر بلل شوي نو ان شاء الله چې اجر به يې هم د غشي ويشتونکي په څير او بعضې حالاتو کې د هغوی څخه هم زيات وي.

اعلامي مجاهده! وس د قتال فضائل ګوره او دا حديث پرې تله چې د اعلامي کارونو د اجر څخه خبر شې تر څو نيت دې برابر، حوصله دې لوړه، عزم دې قوي، ګامونه دې غښتلي، قلم دې تاند او ژبه دې جاري اوسي.

چې په غشي دجنت واجبيدل دي، د يو ساعت په بګر کې ودريدل د شپيته کاله عبادت څخه غوره دي، يوه غزا د پنځوسو حجونو څخه غوره ده، په ميدان د جهاد کې لس پنځلس دقيقې تيرول د ليلة القدر پرمهال بيت الله کې د حجر اسود په خوا کې عبادت څخه غوره دي، يو سهار او مازيګر يې د دنيا او مافيها څخه غوره وي نو اعلامي مجاهده ته هم دغه ټول فضايل د قلم او ژبې په فعاليت ترلاسه کولای شي، ان شاء الله.

دا يو حديث ندی چې حرم کې نبي عليه السلام د اعلام ګزار د غشي ګزار په شان وبلله بلکې زيات نور روايتونه هم شته لکه:

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَنْزَلَ فِي الشِّعْرِ مَا أَنْزَلَ، فَقَالَ: " إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَكَأَنَّ مَا تَرْمُونَهُمْ بِهِ نَضْحُ النَّبْلِ".

مسند أحمد (27174) "مصنف" عبد الرزاق (20500) ، وابن حبان (5786) ، والطبراني في "الكبير" 19/ (151) ، والبيهقي 10/239، والبغوي في "شرح السنة" (3409).

كعب بن مالک رضي الله عنه نبي عليه السلام ته وويل: اې د الله نبي عليه السلام يقينا الله عزوجل خو د شعر په اړه بدي نازل کړې (نو مونږ يې څنګه اوويو) هغه وفرمايل: يقينا مومن په توري او ژبې سره جهاد کوي، قسم مې دې په هغه ذات وي چې د هغه په لاس کې زما نفس دی، تاسو چې کوم اشعار واياست د هغه مثال د غشو ويشتلو په شان دی.

حافظ ذهبي په تاريخ الاسلام کې دا اثر ذکر کړی:

مشهور تابعي ابْنُ سِيرِينَ رحمه الله فرمايلي: أَمَّا كَعْبٌ فَكَانَ يَذْكُرُ الْحَرْبَ وَيَقُولُ: فَعَلْنَا وَنَفْعَلُ وَيُهَدِّدُهُمْ. وَأَمَّا حَسَّانُ فَكَانَ يَذْكُرُ عُيُوبَهُمْ وَأَيَّامَهُمْ. وَأَمَّا ابْنُ رَوَاحَةَ فَكَانَ يعيّرهم بالكفر.

وقد أسلمت دوس فرقا مِنْ بَيْتٍ قَالَهُ كَعْبٌ:

نُخَيِّرُهَا وَلَوْ نَطَقَتْ لَقَالَتْ ... قَوَاطِعُهُنَّ دَوْسًا أَوْ ثَقِيفًا

سيرة ابن هشام 4/ 118، والاستيعاب 3/ 289، وأسد الغابة 4/ 248، والإصابة 3/ 302.

هر چې کعب وو هغه به د جنګ په اړه اشعار ويل چې مونږ داسې وکړل، داسې کوو، او هغوی ته به يې اخطار ورکوو. او هر چې حسان وو هغه به د کفارو عيبونه او جنګي حالات ذکر کول او هر چې ابن رواحه وو هغه به ورته په کفر پيغور ورکوو.

او دوس قبيلې د کعب ديو شعر د پاره اسلام قبول کړی وو.

مونږ هغې (تورو) ته اختيار ورکوو کچيرې خبرې وکړي نو خامخا به هغه تېرو تورو ويلي وی چې دوس او يا هم ثقيف قبيله (باندې حمله کوو)

دا وګورئ کله کله په اخلاص سره اعلامي فعاليت ترسره شي نو رب پدغه يوه ليکنه ، يو شعر ، يو بيان ، يوه ويډيو ، يو اخطار کې دومره خير او برکت واچوي چې لوي قبيلې هم اسلام راوړي او جهاد او مجاهدينو ملګرتيا او نصرت ته آماده کيږي.

او چې ستا په ليکنه، بيان ، شعر او ويډيو باندې يو کس ته هدايت وشو نو دا ستا لپاره د سرو اوښانو څخه غوره دي.

فَوَاللَّهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ. متفق عليه.

قسم په الله که الله عزوجل ستا په وجه يو کس ته هدايت وکړي نو دا ستا لپاره ددې نه غوره ده چې ته سره اوښان ولرې.

هغه وخت سره اوښان د عربانو غوره مال وو او دا يو ضرب المثل وو.

نو اې د اسلام په نصرت بوختو اعلاميانو!

تاسو د توحيد داعيان ياست، تاسو د حق مدافعين او د باطل پر وړاندې په هر بګر ولاړ مبارزين ياست، تاسو ته په يو حرف باندې يوه نيکي ميلاويږي او يوه نيکي په لس چنده ده او کله رب ذو الجلال دا اووه سوه چنده زياتوي او کله خو بيخي د حساب څخه پورته بدلي ورکوي چې دا مراتب اخلاص او سنت پورې زياته اړه لري.

او د رب په دربار کې د ذرې ذرې نيکی ثواب او د بدی عذاب هم شته. الله عزوجل فرمايلي:

{فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ. وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ} سورة الزلزال.

بيا چا چې يوه ذره قدرې نيکي کړې وي وبه يې ګوري. او چا چې يوه ذره قدرې بدي کړې وي،

وبه يي گوري.
{وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا} سورة الكهف.
هر څه چې هغوی کړي ول، هغه ټول به خپلې مخې ته حاضر ومومي.
نو چا چې څومره خواري زياته کړي وي او د قيامت په ورځ دده اعمال نامه د اسلام د نصرت په پار د زرگونو ليکنو، ژباړو، ويډيو گانو، غږيزو پيغامونو څخه ډکه وي او رب تري تپوس وكړي: بنده تا عمر څه کې تير کړی وو، تاته مې ځواني درکړی وه، قوت، صلاحيت او استعداد مې درکړی وو، تا په څه کې مصرف کړی وو ؟
نو د رب په فضل سره به دا اعلامي مجاهد خپل د شپو او ورځو خواري او محنت مخکې کړي چې ربه د نيمايي شپې پورې به لگيا وم د اسلام او مسلمانانو لپاره مې خدمتونه کول، د ژمي په سختو شپو کې خلک ټول په خواږه خوب ويده شول خو ماته به خپل احساس او ضمير دا اجازه نه راکوله ځکه کارونه به مې نيمگړي پاتې وو، او ورځ به مې ټوله ستا دين ته وقف کړې وه، ربه خلکو چکرې وهلې، خلکو ددنيا ژوند څخه خوندونه اخستل خو ما ځان ستا دين ته وقف کړي وو، نه پيسې وی، نه بشپړ امکانات وو، نه سهوليات وو، هرې خوا نه راپسې کفار او مرتدين گرځيدل، د يهود نصارا د خوشحالۍ ترلاسه کولو لپاره همدا د مسلمان په نوم مرتد زما په سر ډالري مقرر کړي وي، هر خاص او عام څخه يې زما د جاسوسۍ مطالبه کوله چې څنگه د اسلامي نظام غږ بند کړي، زرگونو خلکو ته يې ميليونونه ډالري ورکولې چې زما د اعلامي کارونو مخه ډب کړي، بدنام مې کړي، پروپاگنډ راپسې وکړي. خو ربه ما خپله ځواني همدې اسلام نصرت کې تيره کړه تر دې چې ستا لخوا راته مرگ راغې. نو هغه ورځ به د جايزې، ډالۍ او خوشحالۍ ورځ وي ان شاء الله.
ورونو ! همدا د اعلام اداري غږي چې د حق بيان کوي، امر بالمعروف او نهي عن المنكر کوي، عقيدوي او فکري روزنه خلکو ته رسوي، دوی په خلکو کې تر ټولو غوره خلک دي:
{كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ } سورة آل عمران.
تاسو هغه غوره ډله ياست چې د انسانانو (اصلاح) لپاره منځ ته راوړل شويده، تاسو به په نيکۍ امر کوئ او له بديو منع کوئ.
د اعلام اداري د هدف د تحقق په صورت کې د رب العالمين عذابونه دفع کيږي.
عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلَا يُسْتَجَابُ لَكُمْ». سنن الترمذي. 4/ 2169 حسنه البعض وفي سنده ضعف.
قسم مې دی په هغه ذات وي چې هغه لاس کې زما نفس دی، تاسو به خامخا په نيکيو امر کوئ او له بديو به منع کوئ او يا نزدې ده چې الله عزوجل په تاسو باندې د خپل طرفه عذاب نازل کړي، بيا به دعاگانې کوئ خو نه به قبليږي.
همدا د اعلام اداري غايه په ځمکه کې د اسلامي نظام مقصود ده.
[الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ] سورة الحج.
هغه کسان چې مونږ ورته ځمکه کې قدرت ورکړو نو لمونځ به قايم کړي، زکات به ورکړي، په نيکيو به امر وکړي او له بديو څخه به منع کوي.
همدا ستاسو د اعلام اداري غايه چې د کتاب او سنت رسول دي، د انبياؤ د بعثت ځانگړي هدف دی.
{وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ} سورة النحل.
مونږ نازل کړی دی په تا دا ذکر (قرآن کريم) چې ته خلکو ته د هغه شريعت لارښوونه وکړې چې هغوی لپاره نازل شوی دی او دې لپاره چې خلک غور او فکر وکړي.
{يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ} سورة المائده.
اې رسول (صلی الله عليه وسلم) څه چې پر تا د رب له لوري نازل کړی شوي دي هغه خلکو ته ورسوه، که داسې دی ونه کړل نو د هغه د رسالت حق دې ادا نه کړ، الله عزوجل به تا له خلکو څخه ژغوري.
نو لنډه دا چې د اعلام هغه اتلان چې د قلم او ژبې پر مټ د نړۍ هر کونج ته د توحيد ، سنت او د خلافت غږ رسوي نو هغوی لپاره په دنيا او آخرت کې خوشحالي ده.
د باطل هر اعتراض او د شبهې ازاله کوي او په عمري توره د يهودو ، نصاراو ، بې دينه سيکولرانو او د ملحدينو شبهاتو ځتونه پرې کوي.
هغه مجاهدين چې د قلم، ژبې او ويډيو پرمټ د امت مسلمه څخه د غفلت لرې کولو په هڅه کې بې ساري تکليفونه گالي او د اسلامي نظام قيام يې د ژوند د خواريو ځانگړي هدف او ارمان دی.
هغه اعلامي شازليو ته دې مبارک وي چې ورځ تر بلې په اعلامي استعداد کې پرمختگ لپاره نقشې مطرح کوي او خپله شرعي او ايماني فريضه ادا کوي.
هغه اعلامي مجاهدينو ته مو دا څو کرښې ډالۍ کړی چې د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه امر ته يې لبيک ويلي او د اسلامي امت پر وړاندې د فکري استعمار جرړې يې وويستلې او لا هم لگيا دي.
عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

" جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ، وَأَمْوَالِكُمْ، وَأَيْدِيكُمْ" مسند أحمد.

مشرکانو سره په ژبو، نفسونو، مالونو او لاسونو وجنګیږئ.

نو په آخر کې درته وایم اې اعلامي اتله! پام چې د لسګونو ګواښونو، شبهاتو، بې وسیو، د امکاناتو قلت او نورو اندیښنو له امله ستړی، ستومانه، ناامیده، ناهیله او په شا نشې، ته پدې مبارزه کې یواځې نه یې بلکې ستا په تایید کې رب العالمین د جبریل علیه السلام په څیر مقرب هم ملائک لګیا کړي دي. نو فعالیتونو ته دې لا زور ورکړه ترڅو له دې هم غوره نتائج لاس ته راوړې.

ورونو تاسې پوهیږئ چې کفارو په هر ډګر کې د اسلام په خلاف خپله جګړه تونده کړې، په ځانګړې ډول په اعلامي ډګر کې کفار شپه او ورځ په دې هڅه کې دي چې څنګه د اسلامي امت د بچو فکرونه تخریب کړي او په څه ډول دوی په سکولر عقیده او نظریه وروزي.

د اسلامي خلافت اعلامي زمرو په یوازې ځان د ټولو کفارو په مقابل کې دا اعلامي مورچل تود ساتلې او دوی ته یې په هره برخه کې غابښ ماتونکې ځوابونه ورکړي.

داچې موږ او تاسې ټولو په درسته توګه خپل مسولیت اداء کړی وي، د کفارو له شومو پلانونو او اسلام دښمنه دسیسو څخه مو پرده پورته کړې وي، او اسلامي امت مو خپلو مسولیتونو ته متوجه کړی وي، د اسلام حقیقي تصور مو ورکړی وي او د اسلامي نظام د قیام په لاره کې مو هر اړخیزې مبارزې ته چمتو کړی وي نو په کار ده چې په دغه برخه کې خپل استعدادونه په کار واچوو.

د العزائم خپرندویه اداره له تاسې ټولو هیله لري، که اسلامي دولت صف ته له راتللو عاجزه یاست، که مجاهدینو سره د نورو مرستو او کومکونو وسه او توان نه لرئ او د اسلامي دولت سره مینه لرئ او غواړئ چې په درسته نړۍ د الله عزوجل نظام حاکم او د کفر تغر ټول شي نو که په اعلامي ډګر کې په هره برخه کې مهارت لرئ نو له موږ سره رابطه وکړئ، که تاسې علماء کرام یاست، که لیکوالان یاست، که ډیزاینران او اېډیټران یاست او که د تیارو اعلامي موادو د نشر په برخه کې وړتیا لرئ نو موږ په لاندې ادرس د رابطو لارې ښارو، په دې تمه چې الله عزوجل درکړي استعدادونه مو ونه سپموئ او د الله د نظام مرستې ته راودانګئ. همدا راز که د خراسان غږ مجلې اړوند کوم نظر لرئ کومه مرسته او همکاري کولای شئ او یا هم د اسلامي دولت مجاهدینو سره رابطه کول غواړئ نو په دغه ادرس مو د رابطې لارې ښارو.

(@F_Farooq)

په درنښت.

په ټوله نړۍ د اسلامي نظام د قیام په هیله

مؤسسة العزائم الإعلامية

يې وړاندې کوي

جنګ په
توحيد الحاکمية
دی!
لا إله إلا الله
الله
رسول
محمد

جنګ په توحيد الحاكمية دل

الحمد لله رب العالمين والصلاة على خيرخلق الله محمد الأمين
أما بعد:

درنو لوستونکو: کوشش به وکړو چې په دې مقاله کې د توحيد حاکميت په موضوع رڼا واچوو، تاسې پوهيږئ چې دا موضوع تر ټولو مهمه ده ،همدغه د الله عزوجل حاکميت مسئله ده چې د نړۍ انسانان يې په دوه سنګرونو ، دوه محاذونو دوه ډلو او دوه خيمو ويشلي، يوه ډله يې په همدې ايمان او باور لري چې واک به ټول د الله عزوجل وي او په نړۍ به يوازې د يو الله قانون حاکم وي فيصلې به ټولې الله ته وړل کيږي او حاکم به يوازې الله وي ، او بله ډله بيا په دې باور دي چې نړۍ کې د دوی په لاسونو جوړ شوي خود ساخته قوانين د تطبيق وړ دي ، دوی د فيصلو واک خپل ګڼي او د خپلو خواهشاتو په بنا جوړ کړي قوانين د نړۍ لپاره د کاميابۍ او پرمختګ باعث بولي ، په يوه خيمه کې ټول مومنان راټول دي هيح کفر او نفاق په کې ځای نه لري او په بله خيمه کې بيا ټول کفار راټول دي چې مومنانو ته په کې ځای نه شته ، او د همدې تحاکم الله مسئله ده ، چې د کفر او اسلام ترمنځ د جګړې اور بل او ګرم دې او تل به همداسې ګرم وي چې تر څو توحيد حاکم او شرک محوه او نابود شي ، نو له همدې معلوميږي، چې دا توحيد په د توحيد په ټولو اقسامو کې د مهيمن يعنې د نګران او ساتونکي حيثيت لري، اوپه دی کې شک ځکه نه شته چې همدا توحيد دی چې په عملي کولو او نافذولو يې دتوحيد نور أقسام ساتل کيږي،دا چې ځنګه ساتل کيږي، په کوم صفت او کوم کيفت ساتل کيږي ، دغه به إن شاء الله تعالى په خپل ځای کې ذکرشي ،خو له دې هرڅه مخکې دا ضروري ګڼو چې دتوحيد په ټولو أقسامو وغږيږو ترڅو ددې موضوع په ټولو اړخونو د الله عزوجل په فضل پوهه شو، او دا راته جوته شي چې د توحيد پيژندل او پرې عقيده، ايمان او باور لرل څومره مهم دي .

درنو لوستونکو! الله تبارك وتعالى خپلو مونکو بنده ګانو ته سُورَةُ البَقَرَة ٢٠٨ نمبرآية کريمه کې په کامل اوپوره ډول اسلام کې د داخليدو أمر کړی دی:

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوٰتِ الشَّيْطَٰنِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ

(ژباړه) اې هاغه کسانو چې تاسې إيمان راوړی! تاسې په پوره اسلام کښې ننوځئ او د شيطان پيروي مه کوئ، بې شکه هغه ستاسې ښکاره دښمن دی.

نومعلومه شوه چې د الله عزوجل په نيزد همغه اسلام معتبر دی چې الله راليږلی او محمد صلى الله عليه وسلم اود هغه په موجودګۍ کې دهغه صحابه کرامو په هغې عمل کړی اوأمت ته يې په کامله توګه ذاتاً صفتاً په همغه کيفيت پريښې دی ،نو که اوس يو انسان دا دعوی کوي، چې زه مسلمان يم نو دهغه اسلام ته به کتلی شي، چې ايا دا ريښتيا هم هغه اسلام ته منقاد دی چې کوم الله راليږلی او که نه فقط په خوله يې دعوی کوي اويانيم مني او دنيم مقابله کوي، ځکه که يو انسان ځانته مسلمان وايي نو بايد ړومبی د اسلام په تعريف پوهه شي او د هغې څخه معلومات ولري ،مونږ به هغه وخت ديو انسان په اسلام اومسلمانۍ په ظاهره حکم کوو چې د اسلام تعريف وپيژنو او د هغې څخه علم اوخبر ولرو او د اسلام تعريف چې دشريعت دنصوصو څخه أهل علمو مستنبط کړی دی، په دی ډول دی: الإسلام هو الإستسلام لله تعالى بالتوحيد والإنقياد له في الطاعة والبراءة من الشرك وأهله ”

دتعريف معنا داده : اسلام دا تسليميدل دي الله ته په يو والي دالله کې او تابع کيدل دي هغه لره په طاعت کولو کې اوبيزاري کول دي دشرك او مشركانو څخه نو أوس دې هرمسلمان دې تعريف کې وګوري چې دا تعريف داسلام ترجماني په څه ډول کوي؟

ايا همدی اسلام کی دا داخل دی او که نه ؟

مثلاً که ځان موحد ګڼي نو بيادې وګوري چې د توحيد د دعوې څخه بعد دا د الله هرأمر ته په طاعت کې منقاد دی او که نه؟

اوس که يو کس دا دعوی هم کوي چې دا خپل رب ته په هرأمر منلو کې منقاد دی، نو أوس به کتلی شي چې دشرك او مشرك نه براء ت هم کوي او که نه ؟

که بالفرض دادعوی هم وکړي نو مونږ مخکې له دې څخه چه د براءت معنا او ارکان ذکرکړو بيا راستنيږو او د توحيد په مسأله لږه رڼا أچوو داځکه چې دالله تبارك وتعالى دعمده او مرکزي حقوقوعملي کول له وحيدڅخه عبارت دي .

په صحيح البخاري کې أنصاري صحابي معاذ رضي اللَّهُ عنْه څخه روايت دی هغه فرمايي زه دنبي صلى الله عليه وسلم پسې وروسته په خر سپور وم ،چې عفَيْر ورته ويل کيده نو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل ” يَا مُعَاذُ هَلْ تَدْرِي حَقَّ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ ؟ ، قُلْتُ : اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ ، قَالَ : فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ ، وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ، وَحَقَّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا ، فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، أَفَلَا أُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ ، قَالَ : لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا.

(ژباړه) أی معاذه! أيا تاته دا علم شته چې د الله عزوجل حق په بنده ګانو او د بنده ګانو حق په الله سبحانه وتعالې څه دی؟ معاذ فرمايي ماورته وفرمايل: الله أودهغه رسول ډير پوهيږي ،په دې باندې، نوفرمايي چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل : بېشکه دالله حق په بنده ګانو دادی چې دوی دهغه عبادت وکړي او هيڅ شی دهغه سره(په عبادت کې) شريک نه کړي

او دبنده ګانو په الله عزوجل دا باندی دا حق دی، چې هغه به هغه چاته (په دوی کې) عذاب نه ورکوي، چې دده سره يې څوک شريک کړی نه وي، نوما (معاذ) ورته وفرمايل: أی دالله رسوله ! ايا زه په دې خبره زيری ورنه کړم خلکو ته ، نوپس هغه (نبي صلى الله عليه وسلم) وفرمايل نه زيری مه ورکوه بيا نورو أعمالو کې سستي کوي.

صحيح البخاری رقم الحديث ٢٦٥٧کتاب الجهاد والسير

دلته له دې حديث څخه د استدلال مقام دادی، چې دالله حق په بنده ګانو هغه دهغه عبادت کول دي او دغه عبادت سره دخپلو أقسامو دا په توحيد کې راګير دي، ځکه خو حديث کی د عبادت په ضد او مقابل کې شرک ذکر شوی ،نو که يو انسان بوت ته سجده ږدي، اوبل انسان دا کار شرک ګڼي، خوخپله طاغوت ته فيصله وړي نو دا دواړه مشرکان او دالله د حقوقو بربادونکي دي، علامه

محمد أمين الشنقيطي رحمه الله فرمايي:

اعلَموا أيُّها الإخوانُ: أنَّ الإشراكَ باللهِ في حُكمِه، والإشراكَ به في عبادتِه كِلاهما بمعنًى واحدٍ، لا فَرْقَ بينهما ألبتَّةَ؛ فالَّذي يتَّبِعُ نظامًا غيرَ نظامِ اللهِ، وتشريعًا غيرَ ما شرَّعه اللهُ وقانونًا مخالِفًا لشرعِ اللهِ مِن وَضْعِ البشَرِ، مُعْرِضًا عن نورِ السَّماءِ الَّذي أنزَله اللهُ على لسانِ رسولِه، مَن كان يفعَلُ هذا، هو ومَن كان يعبُدُ الصَّنَمَ ويسجُدُ للوثَنِ، لا فَرْقَ بينهما ألبتَّةَ بوجهٍ مِن الوجوهِ، فهما واحدٌ، فكلاهما مُشرِكٌ باللهِ، هذا أشرَكَ به في عبادتِه، وهذا أشرَكَ به في حُكمِه، كِلاهما سواءٌ

(ژباړه) اي ورونو! پوه شئ چې شرك كول دالله سره په حكم (فيصله اوقانون) كې اوشرك كول (دهغه سره) په عبادت كې دواړه په يوه معنا دي، هيڅ فرق يې نه شته ددې دواړو ترمنځه ، پس هغه څوک چې هغه د يونظام تابع وي، چې د الله عزوجل له نظام څخه پرته بل نظام وي، اوداسې شريعت چې د الله عزوجل له شريعت څخه پرته (غير) وي، او د داسې قانون چې مخالف وي دشريعت دالله څخه ، چې دبشر دتخليق څخه وي اعراض كونكى وي، د نور د اسمان څخه هغه چې هغه الله نازل كړى په ژبه د رسول خپل، نو كوم كس چې دا كوي او هغه چې د بوت عبادت كوي او بوت ته سجده كوي هيڅ فرق نه شته ددوى ترمنځه په هيڅ وجه دوجوهاتو څخه، پس دوى دواړه يو دي، دا دواړه په الله مشركان دي، ده په عبادت كې ورسره شرك كړى دى او دې بل په حاكميت كې ورسره شرك كړى دى ، نو دواړه (په جرم كې) برابر دي.

العذب النمير ٥/٤٤١

نو دا ضروري شوه چې دغه رب ته به يو بنده په پنځه واړه قسمه توحيد منلو اوعملي كولو كې قائل كيږي، نو راځو او د توحيد په مسائلو لږ په تفصيل سره غږيږو :

د توحيد تعريف :

توحيد په لغت كى دتفعيل له باب څخه دى، دا د يو شي يوګڼلو ته وايي نواوس چې يو انسان دادعوى كوي چى زه موحد يم نو دا ددې خبرى ثبوت وړاندې كوي، چې ده الله يو ګڼلى دى بيا دقرآن د بې شماره اياتونو او دصحيح بى شميره أحاديثو څخه معلوميږي، چې دغه توحيد دالله، دا په پنځه قسمه دى ،يعنى الله تعالى چې څوک يو(تنها)مني نو دابه په پنځه أمورو كې يو مني، شريک به ورسره په دې يو كې هم نه كوي او هغه دادي:

(١) توحيد فى الذات :

له دې دامطلب دى چې الله متعال به د ذات په اعتبارسره يک (تنها) ګڼي، عقيده به دا وي ،چې دالله متعال پشان بل ذات وجود نه لري، بيا په دې ډير بى شميره دلائل موجود دي، خو دا يو دليل چې هر مسلمان نارينه او ښځينه يي په ياد لري چې هغه سورة الإخلاص دى، په دې سورت كې درب د وحدانيت في الذات اړوند كامل وضاحت ذكر شوي مثلاً الله متعال فرمايي:

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ...

(ژباړه) ته ووايه اى بيغمبره (هغه تاسې يې چې په أړه پوښتنه كړى وه) هغه الله يک ،يو(تنها) دى

اللَّهُ الصَّمَدُ

(ژباړه) دغه الله دهرڅه نه پوره دى، هيڅ چا او هيڅ څه، ته محتاج نه دى.

لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ

(ژباړه) نه هغه څوك زيږولى دى او نه هغه زيږول شوى دى. ځكه كه اولاد ولرى نو أحد في الذات نه شو ځكه دده په شان بل ذات پيداشو ، نو دا خو د وحدانيت فى ذات منافي كارشو ، اودغه ډول"صمد" هم نه شو ځكه چې اولاد ته حاجت واقع شو اوصمد خو بې حاجته اوبې پروا ته وايي، دغه ډول كه داسې شي، نو بيا به يي مور او پلار هم ومنل شي، نوچې څه وخت دا د توحيد فى الذات منافي اوضد صفات دي، نو ځكه په دې سورت كې الله متعال ټول نفې كړل اوبالآخره ويې فرمايل:

وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ

(ژباړه) او هیڅوک د هغه سیال (اوهم صفته) نه شته

داشو توحید فی الذات ، خو داخبره دې هم فکر کې وي، چې دغه قسم توحید به هم عقیدتاً منې او هم عملاً عقیدتاً مطلب داچې څنګه الله سبحانه وتعالی بیان کړی ، همداسې به یې عقیده لرې او عملاً داچې عمل به هم داسې نه کوې، چې ددې توحید مخالف وي، څکه نن صباح أکثرحال د کلمه ویونکو صوفیانو د تصوف چې داچغې وهې، چې بې شکه الله یو دی شریک نه لري، خو چې عمل ته یې وګورئ نو عمل یې ددی قول تکذیب کوي، څکه د هغوی دا اعتقاد دی، چې د مخلوق وجود دا أصلاً دخالق وجود دی چې دیته وحدة الوجود وایي، نو هغوی دغه واړه مخلوقات دخالق سره په وجود کې شریک ګڼي، نو وګوره دلته صوفیانو عقیده دتوحید فی الذات ماته کړه ،په شرک فی التوحید فی الذات سره په عمل کولو دشرک سره ، څکه ده بل ذات تسلیم که چې هغه هم دالله غوندې دی او همدا دوحدت الوجود معنا ده ،چې شک او تردد په کې هسې ضد او مکابره ده ،بل هیڅ نه دي.

(تنبیه!!) دمزید رد دپاره دتصوف په مذمت کې زمونږ لیکل شوی کتاب" نیل التشرف " وګورئ.

(۲) توحیدفی الربوبیة ..

نوبالفرض که اوس یو انسان دتوحید دغه قسم کې الله په یو والی منلی وي اوهیڅ قسم شریک یې ورسره نه وي کړی، نه عقیدتاً او نه عملاً نو دا پوره توحید بیا هم نه دی، بلکه اوس له دې بعد ورته دویم توحید متوجه دی، نو أوس مونږ ګورو چې دا یې هم پوره منلی او عملي کړی او که نه؟!

او هغه نه دی مګر توحید الربوبیة ،توحید الربوبیه دې ته وایي، چې څنګه چې الله په ذات کې عقیدتاً او عملاً یو (تنها) ګڼلی، دغه ډول به یې په پالنه روزنه او دمخلوقاتوپه تربیت کې هم یو تنها ګڼي، د اعتقاد او عمل دواړه شرطونه دلته هم ضروري دي، داسې نه لکه دمکي دمشرکانو چې هغوی هم په خوله یې ددې اقرار کولو خو عملاً یې دهرکار دپاره جدا،جدا اربابان خاص کړي وو، چې کتاب اوسنت ددوی دغه مرض په پریمانه مقاماتو کې په صراحت اوتفصیل سره ذکر کړی دی ، د ربوبیت په یوالي او یا په بله معنا د ربوبیت په توحید هم بې شماره دلائل موجود دي، دټولو رانقلول به یې دا مقاله ډیره اوږده کړي نو په دې خاطر موږ کوشش کوو چې په لنډه توګه دا موضوع واضحه کړو ، خو البته یو له هغې څخه چې هرمسلمان نارینه او زنانه ته معلوم دی هغه به ذکر کړو او هغه هاغه دی چې په هره ورځ اوشپه کې یې په کراتو او مراتو سره لولي اوهغه دادي چې په سُورَةُ الفَاتِحَة ۲ نمبر ایت کریمه کې موجود دی، الله متعال فرمایي:

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ

(ژباړه) ټوله ثنا او ستاینه یواځې الله لره ده، چې د ټولو کائیناتو پالونکی دی "

اوددې توحید منلو فایده وروسته دوحدانیت فی الذات نه هغه داده چې ددې توحید منلو سره عظمت وقار او عزت دالله تبارک وتعالی دانسان زړه ته ننوځي. مثلاً داسې چې وګوره زمونږ رب د ذات په اعتبار سره یک تنهادی اوسره دیواځې والي د خپل ټول مخلوق تربیت او پالنه کوي، بیا

د هرمخلوق چې شمار یې بغیر دالله نه هیڅ چاته هم نه دی معلوم ،دهریوه ځانته ،ځانته پالنه کوي، تراوسه دغه پالنه کې نه پاتې راغې، نه ستړی او بې وسه شو او نه یې هم نائب او معین ته ضرورت راغی ،چې دی واړه أمورو سره دانسان زړه کې یو حرکت دشوق پیداشو اوهغه داچې عبادت هم اوس دهمدې ذات پکار دی ،څکه صرف دغه دوه توحیده منل درب حق نه پوره کوي اونه یې انسان دنجات مستحق ګرځي، نوضرورت راغی توحیدالألوهیة ته

(۳) توحيد الألوهية:

نو اوس له وروسته دتوحید اولوهیت نوبت رسیږي، ددې بل نوم دی توحید العبادة، معنا یې دا ده چې دعبادت چې څومره أقسام دي، دی ټولو کې به رب یو تنها ګڼې اوددې حق دار به صرف یو الله وي، دتوحید دې قسم کې به هم عقیدةً او هم عملاً هیڅ قسم شرک نه کوې، دي باندې هم بې شماره دلائل موجود دي خو یو دلیل چې دإختصار دتقاضا په وجه یې ذکر کوو ،هغه هم همداسورة الفاتحه ده چې تعلیماً په کې الله متعال خپلو بندو ګانو ته دهغوی دحقوقو سره ،سره خپل حقوق هم ذکرکړي دعبادت دحق متعلق په ۵ نمبر آیة کریمه کې فرمایي:

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ

ژباړه : موږ خاص همدا ستا عبادت کوو او هم خاص دا ستا څخه مرسته غواړو "

ددې ایت دتخصیص څخه معلومه شوه، چې عبادت سره دټولو أقسامو دا د الله متعال حق دی ،که هغه بدني عبادت وي، لکه: لمونځ ،روژه، ذکر، دعا، فریاد ،مرسته او نصرت طلب کول . او که مالي وي، لکه زکات: صدقات ،قرباني، ضیافت وغیرها .

او که مرکب وي، دمال اوبدن دواړو څخه، لکه حج ،جهاد وأمثالها

څکه معنا دعبادت شیخ الإسلام ابن تیمیة رحمه الله داسې کوي فرمایي : العبادة هي اسم جامع لكل ما يحبه الله ويرضاه من الأقوال والأعمال الباطنة والظاهرة (ژباړه) عبادت دا داسې یوجامع نوم دی، چې شامل هرهغه څه ته دی ، چې دالله خوښ وي او راضي کیږي پرې، د ویناوو او أعمالو پټو او ښکاره وو څخه. الفتاوی الکبری ۵/۱۵۴ .

نو چې کله د عبادت دا تعریف شو نو که څوک یو عبادت ددې عباداتو څخه بغیر دالله څخه بل چاته وکړي، نوداکس مشرک شو په شرک فی الألوهیة کې ، نودا دتوحید او داسلام په دعوه کې دروغجن دی او که دا قسم توحید منې نو عملاً او اعتقاداً دواړو طریقوسره به یې منې، نه لکه د دیوبندیانو، بریلویانو اوسیفي مشرکانو غوندې ،چې حقدار دعبادت په خوله الله ګڼې، خو عملاً یې دغه مقام خپلو پیرانو، مشائخو او استاذانو ته ورکړی دی، خو که یوڅوک داسې وي، چې دتوحید مخکنیو اقسامو سره یې دادریم قسم توحید هم منلی او روغ پاتې وي، نو په دې هم نجات نه مومې، بلکه ده ته اوس څلورم قسم توحید متوجه دی ،چې که دایې عملاً او اعتقاداً ونه منې، دامسلمان نه پاتې کیږي، چې هغې ته توحید فی الأسماء والصفات ویل کیږي.

(۴) توحید فی الأسماء والصفات:

ددې توحید دامعنا ده چې څنګه مو مخکې ومنل چې ذات دالله

يو دی، ربوبيت کې يو دی ، ألوهيت کې يو دی نو بعينه دغه ډول چې دغه الله څومره نومونه لري او څومره صفات لري ،کوم چې الله متعال ځان ته ثابت کړي او ياهم ورته رسول الله صلی الله عليه وسلم ثابت کړي، داټول دالله نومونه او د هغه صفتونه دي، هغه ذاتي صفات دي که فعلي.. بيا دائمي صفات دي او که اختياري دي، ټولو کې الله تعالی يوتنها دی هيڅ شريک او همنامي او همصفتي نه لري، دليل په دې دا قول دالله متعال دی چې په [سُورَةُ بنَىَ اسرآئيل ١١٠ نمبر آيت کريمه کې فرمايي:

قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَٰنَ أَيًّا مَّا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا

(ژباړه) ووايه ته دوی (أی يغمبره) که تاسې د الله په ويلو (دا الله) وبلئ او که د الرحمان په ويلو، په هر نامه يې چې وبلئ، د هغه لپاره ټول غوره نومونه دي او خپل لمونځ مه په ډير لوړ اواز سره کوه او مه په ډير ټيټ اواز سره، ددې دواړو په منځ کښې منځنۍ درجه لهجه غوره کړه

نو څنګه چې هر نوم دالله تعالی دا معنا لري او دغه معنا صفت دالله متعال وي نو څنګه چې الله تعالی څخه په نوم سوال او دعاء جائز ده ،دغه ډول ترينه په صفاتو هم جائز ده ،نو که يو کس څوک الله سره په نوم دهغه او يا په يو صفت دصفاتو د هغه کې شريک کړي، داسې چې دغه نوم اويا صفت دالله متعال دکوم مخلوق دپاره هم ومني نو دامشرک شو په توحيد فی الأسماء والصفات کې، لکه نن چې زمونږ دزماني داکثرو کلمه ويونکو حال دی چې درب ډيری صفات يې قبرونو کې غافلو اوکمزور ناخبرو مړو ته ورکړي دي اوکه چا ددې صفاتو څخه کوم صفت يا ټول معطل کړل انکار يې تري وکړ او يا يې تشبيه ددې ورکړه دمخلوق دصفاتو سره او يا يې هم دهغې کيفيت بيان کړ، نو دا کس په دې کار د اسلام له دائرې څخه خارج شو او د الله تعالی د الأسماء والصفات په توحيدکې مشرک او کافر وګرځيده اګرکه مخکني ټول أقسام دتوحيد يې روغ منلي او عملي کړي وي!!

نو که يوکس بالفرض دتوحيد دمخکينو أقسامو سره، سره داتوحيد هم عقيدتاً اوعملاً ومني اوهيڅ قسم شرک اوشبهه دشرک ترينه په کې واقع نه شي، نو توحيد يې بياهم ناقص دی، نجات پرې نه شي موندلای،ترڅو يې چې په توحيد الحاکمية عقيده او ايمان نه وي راوړي او عملي کړی يې نه وي .

(٥) توحيد الحاکمية

ددې بل نوم دی تو حيد الحکومت! دا وايي دې ته چې په ځمکه به حاکم الله وي، حکومت به دالله وي، چې همدې ته اسلامي دولت ،اسلامي خلافت او اسلامي حکومت ويل کيږي. لکه څنګه چې يو مؤحد دا دعوی کوي، چې الله متعال په ذات کې يو دی ، په ربوبيت کې يودی، په ألوهيت کی يو دی ،په اسماء اوصفاتو کې يو دی ،دغه ډول به دا عقيده هم لري، چې الله په حاکميت قانون أونظام کې هم يودی ، لکه څنګه چې په نورو أقسامو د توحيدکې مخلوق شريکولو سره انسان مشرک ګرځيده ،همدا ډول که يو إنسان ځلور مخکني دتوحيد اقسامو کې مؤحد وي خو قانون، نظام او حکومت له الله عزوجل پرته د بل چا مني ، د بين الملل اصول مني ، ديموکراتيک نظام مني ، فيصلې بل چاته وړي ،په طاغوت ايمان لري او دغه ټولو ته منقاد وي، يا پرې رضا لري او يا يې طرف دار او دفاع کونکی وي، نو دا انسان مشرک دی، په توحيد الحاکمية کې.

نو زمونږ دبحث موضوع هم همدا توحيد الحاکميت ده.

درنو لوستونکو ! په ډير تأسف سره بايد ووايو چې چې ډيری مسلمانان ددې توحيد له احکامو څخه خبر هم نه دي، بلکه بيخي يې پيژني هم نه ،ځينو خوبه يې لانوم هم نه وي أوريدلی، سره له دې چې دا يوه عظيمه شعيره ده دشعائرو دالله څخه او يو عظيم عبادت دی دعباداتو د الله څخه، د تحاکم جمله مسائل اوأحکام له همدې څخه اخذ کيږي، مستقل حيثيت لري، بل دا چې دا أصل دی ،داصولو ددين څخه ،حتی په دې باندې جهل هم عذر نه دی، لکه دا وضاحت به وروسته هم راشي ان شاء الله ،علامه ابن القيم رحمه الله فرمايي: وكثير من الناس يبتغي غيره حكما، يتحاكم إليه، ويخاصم إليه، ويرضى بحكمه. وهذه المقامات الثلاث هي أركان التوحيد

(ژباړه) او ډيرې له خلکو څخه دالله پرته بل فيصله کونکی غوره کوي، چې هغه ته فيصلې وروړي اوهغه ته رجوع په اختلافاتو کې وکړي اوراضي کيږي په فيصله دهغه او حال داچې دغه درې واړه مقامات دا أركان دتوحيد دي.

مدارج السالكين ٢/١٧٩

نومعلومه شوه چې توحيد الحاکميت دا اصل اورکن ددين اودتوحيد دی، چې دا ختم شو، توحيد ختم شو، بې شماره مقاماتو کې دا الله تبارک وتعالی ځان ته خاص کړی او هرنوع شراکت يې په دې کې منعه ګرځولی دی، چې يو مقام له هغې څخه سورة الكهف ٢٦ نمبر آية کريمه دی الله تبارک وتعالی فرمايي:

ولا يشرك في حكمه أحدا

(ژباړه) اونه شريکوی (الله) په خپل حکم (فيصله اوحکومت) کې دځان سره هيڅ څوک.

علامه ابن جرير الطبری رحمه الله ددې ايت باره کې فرمايي: يقول: ولا يجعل الله في قضائه، وحكمه في خلقه أحدا سواه شريكا، بل هو المنفرد بالحكم والقضاء فيهم، وتدبيرهم وتصريفهم فيما شاء وأحب.

(ژباړه) الله فرمايي او نه ګرځوي الله په فيصله خپله او حکم خپل کې په مخلوق کې هيڅ څوک له ځانه بغير شريک، بلکه هغه يو(تنها) دی ،په حکم کولو او فيصله کولو کې په دوی(مخلوق) کې اوپه تدبير چلولو کې په دوی کې او په تصرف کولو کې په دوی کې، په هغه څه کې چې ويې غواړي او خوښه يې وشي.

تفسير الطبري ١٧/٦٥٠ .

نو داچې دا توحيد دومره مظلوم اودخلقو دفهم څخه دومره لرې پاتې شوی، ددې عمده دوه وجې دي ،يوه داچې عام أهل علم دغه د حاکميت توحيد د ربوبيت دتوحيد په ضمن کې ذکرکوي ،خوکه د موجوده عصر داسلام حال ته وګورئ، چې ددې توحيد حق څومره ضايع شوی او برباد شوی نو دا د أهل علمو فرض جوړيږي چې دا مستقل ذکر کړي، ځکه ددې احکام هم مستقل دي، په قرآن کې به فکرنه کوم چې ددې په تأکيد چې څومره اياتونه موجود دي، هغه دې د بل کوم حکم متعلق وي الا ماشاء الله او ځينو ملايانو خو بيخي پريښې دربوبيت په

تفصيل کې ورته هم نږدې نه ورځي اوکه مخې ته يې کوم ايت ياحديث په درس تدريس کې راشي، بس لفظي ترجمه يې وکړي او خويه تري تيرشي، هغه هم داسې انداز کې چې د اوريدونکو ذهن ته داهم رانه شي، چې ګويا ددې توحيد څخه دې کوم کلمه ويونکي مخالفت هم کړی وي؟!

دويمه وجه داده چې دموجوده طواغيتو له لوري په دې باندې سخته پابندي لګيدلې، تردې که څوک دی موضوع باندې درس تدرس او خطبه وکړي ،نو زندان يې ځای وي، عمده وجه ددې پابندۍ داده چې موجوده تش په نوم مسلمان حکّام اود دوی نظامونه دالف نه تر ياء او دسرنه تر اخره ددې توحيد څخه مخالف اوشرکي اوطاغوتي نظامونه او حکومتونه دي ،ځکه خو دوی په سعودي وغيره ملکونو کې دحکومتونو له طرفه تياري برابري شوي خطبې په مسجدونو کې لولي او بس، هغه مسائلو ته اجازه شته چې ددوی طاغوتي اقتدار ته پرې خطر نه متوجه کيږي او که کوم بحث خطبه او يا مسأله ددوی شيطاني دولت ته خطرجوړوي، نو قطعاً دهغې اجازت نه شته اودا بديهي معلوم حيثيت لري، چې په کفري او ردتي قوانينو او اقتدارونو باندی ردّ نه واقع کيږي، مګر په ياد توحيد باندې دعمل کولو اود هغې په بيانولو او نشرولوسره ، نوغرض داچې همدا هغه توحيد دی ،چې ددې په وجه دتوحيد جعلي دعوی کونکي د أصلي دعوی کونکو څخه جدا کيږي، ځکه ځانونو ته په خوله مؤحدين ويونکي ډيرشته ،خو که دحاکميت په توحيد يي نظر واچوی، نو په دې کې په پخه تيره مشرک ګرځيدلی دی ،د سعودي حکومت ددې شکاره نمونه ده، دعربو موجوده ټول دولتونه ددې مصداق دی، دپاکستان برای نام جمعيت اهل حديث اوجماعت الدعوة داټول ددې مصداق دي، ځکه ځانونه مؤحدين ګڼي تقريرونو اوبيانونو کې يې له خولو نه لګه دښکاری سپو لاړی باديږي، خود حاکميت د توحيد په شرک کې تر مرۍ ورډوب شوي دي، قبحهم الله

نو داچې په دنيا کې دتوحيد الحاکميت څخه بغير دبل يو توحيد هم دمنلو اوعملي کولو مقابل کې دکفارو أو مرتدينو له طرفه مسلحانه جد اوجهد اومقابله نه کيږي اونه يې څوک په دې صفت سره مخې ته ودريږي ددې عمده او مرکزي ستري پنځه وجې دي.

(۱) دا چې ددې په وجه دتوحيد مخکنې أقسام محفوظ پاتې کيږي! اودشرک جمله أقسام محوه کيږي.

(۲) ددې په وجه اسلام او اسلامي شعائر غالبيږي او محفوظ پاتې کيږي اوکفر او د کفر شعائر مغلوبيږي

(۳) ددې په وجه مسلمانانو ته حريت او کفارو ته عبديت (غلامي) په برخه ور رسيږي

(۴) د توحيد ددې قسم په عملي کولو سره اسلام او ددې أهل دمظلوميت څخه بچ کيږي او د کافر دظلم مخه نيول کيږي.

(۵) داسلام واک ، اقتدار، حکومت اودولت قايميږي او د کفر اقتدار واک او دولت ټول په ټوله له منځه ځي، نو چې څه وخت ددين دښمنان ددې توحيد دا زور ويني نو کله بيا هغوی د مخنيوي کوشش کې سستي کوي کلا وحاشا.

خو که دلته څوک دا اعتراض په موږ کوي چې تاسې خو مخکې وويل چې د توحيد الحاکميت څخه بغير د بل يو توحيد هم داسې مقابله ددين دښمنانو نه ده کړی او حال داچې ابتداء کې مسلمانان صرف د توحيد فی الذات او ألوهيت په سر تعذيب شوي او د کور او کلي ويستل شوي؟

نو جواب بعون الله الوهاب هغه دادی چې دی کې شک نه شته چې د توحيد په نورو أقسامو هم مسلمانان درديدلي او کړيدلي دي، انکار ترينه دقران د لوی برخې څخه انکار دی ،خوکه کفارو دغه کارکړی دا يې له همدې داره کړې چې دا خلک که پاتې شي نو د خپل معبود نظام او حکومت په مونږ قائمول غواړي، ګنی دخپل قوميت او رواجي قانون په برخه کې خو هغوی نبي صلی الله عليه وسلم ته مشری ورکولو ته هم قائل شوي وو ، تاسې نه ګورئ کله چې ابوالوليد عتبه ابن ربيعة قريشو نبي صلی الله عليه وسلم ته وروواستوه چې خبره ورسره وکړه چې نور دخپلې نظريې څخه واوړي، نو دهغه اوله خبر دا وه ، ورته وايې: يا ابن أخي، إن كنت إنما تريد بما جئت به من هذا الأمر مالا جمعنا لك من أموالنا حتى تكون أكثرنا مالا، وإن كنت تريد به شرفا سودناك علينا، حتى لا نقطع أمرا دونك، وإن كنت تريد به ملكا ملكناك علينا.....الخ

(ژباړه) أی وراره که چرته ته په دې (دعوی دنبوت) مال غواړې، نو مونږ به درته دخپلو مالونو څخه مال راجمع کړو تردی چې ته به مونږ کې له ټولو

د زیات مال خاوند شې او که ته په دې باندې عزت او دبدبه غواړې، نو تاته به عزت درکړو په خپلو ځانونو باندې، تردې چې مونږ به هیڅ کار له تا څخه بغیر نه کوو او که ته په دې سره مشري او بادشاهي غواړې نو تابه بادشاه کړو په خپلو ځانونو باندې.

تفسیر ابن کثیر ۱۱۸/۵

دقریشو د بار، بار پیشنهادونو مقابل کې اخري فیصله د نبي صلی الله علیه وسلم دا وه چې خپل تره ابو طالب ته یې وفرمایل : یا عم لو وضعت الشمس في یمیني والقمر في یساري ما ترکت الأمر حتى یظهره الله أو أهلك في طلبه،

(ژباړه) ای کاکا که زمانښي لاس کې لمر اوچپ لاس کې سپوږمۍ کیږدې، زه به داخپله وظیفه پرېنږدم ، تردې چې یامې الله غالب وګرځوي اویا زه دهغې (دغلبې)په طلب کې ختم شم.

سیرة ابن اسحاق صـ۵۴ .

له دې معلومیږي چې مشرکانو دمشرۍ او نورو دنیوي هرقسم لذتونو لالچونه نبي صلی الله علیه وسلم ته وړاندې کړي وو او دا ټول له دې ډار اوخوف څخه چې دده دنهج موافق حکومت په مونږ غالب نه شي، خو له څه چې بریدل نو هماغه واقع هم شوو ، نو کله چې وروستنیو کفارو د مخکنیو کفارو دغه جنګ او نقشه ناکامه اعلان کړه، نو راولګیدل او په دې جنګ کې یې حربي نقشه مکمله بدله کړه لونځ کونکو ته یې مسجدونه ازاد کړل، د دین زده کونکو ته یې دمدرسو ازادي ورکړه، کوم ملک دی دکفارو چې هلته مساجد او مدارس نه شته ، په خوله د توحید دځلورو ږومبنیو اقسامو دعوت هم ازاد دی ، لنډه دا چې ددې سره متعلق ټول أمور آزاد او جایز ګڼي، ددې عمده وجه داده چې دی سره نه د دوی مال ته تاوان رسیږي او نه ددوی سرونو ته او نه یې سلطې او کفري حکومتونو ته خطر پیښیږي، بلکه ددې سره د دوی نور هم واک او اقتدار پراخیږي، نه یوائې

په خپلو کفارو بلکې په بې شمیره مسلمانانو هم حکومتونه کوي،تاسې وګورئ چې کفار هغه خلکو ته پوره ازادي ورکوي چې یوازې دعوت کوي او هغه دعوت چې د فردي عباداتو پورې منحصر وي ، تبلیغیان ګورئ چې هر چرته او هر هیواد ته اذاد تشکیلونه کوي او دعوتونه کوي همدا راز ډیرې د توحید دعقیدې دعوه لرونکي داعیان وینئ چې د امریکا اروپا په لارو او چوکونو کې ازاد دعوتونه کوي ، هر قسم فردي عباداتو ته په مکمله توګه اذادي ده ، ان زمینه سازي هم ورته کوي او دا هر څه د ګنو نورو اهدافو لپاره کوي ، د نورو سترو مخو ترڅنګ یې یوه عمده هدف دغه دی چې دوی په دې سره د دیموکراسۍ یو ښه تصویر خلکو ته وړاندې کوي او دا ذهنیت خلکو ته ورکوي چې دیموکراسي یو داسې نظام دی چې اسلام سره منافي نه دی او که هر مسلمان هر چرته هر ډول عبادت ترسره کوي ورته اذادي ده ، کوم دیموکراتیک نظام چرته د کوم مسلمان د عباداتو مخه نیولي ، نو له دې لارې یې ډیرې مسلمانان په دیموکراتیک دین ایمان ته اړ کړل او ډیرو خپله قبله بدله کړه ، خو ددې هر څه باوجود که کوم مسلمان دتوحید الحاکمیت خبره وکړي نو بیا دا ددوی او ددوی د لاس پوڅو مرتدو حکومتونو دحکمرانانو په نزد دهیڅ ترحم قابل نه وي، قتلیدل یې جایز دي، زنداني کیدل یې جایز دي، تعذیبول یې جایز دي، حتی دمال او جایداد ضبطول یې هم جائز او رواه ګڼي، اود داسې خلکو مخه دبمونو په پلار او دبمونو په مورنیسي، ددې توحید دعملي کولو صرف په خوله غږ پورته کونکي ددوی په قانون کې د ژوند حق نه لري ، دمسلح اوغیر مسلح ترمنځ په تعذیب ،قتل او اسارت کې هیڅ فرق نه کوي.

دایوه اجمالي خبره شوه ، اوس به په دې ځان پوهه کړو چې د توحید حاکمیت له لارې څنګه د توحید د نورو اقسامو حفاظت او ساتنه کیږي .

تاسې پوهیږئ چې په یوه سیمه کې توحید الحاکمیت (توحید الحکومت) حاکم وي نو په هغه سیمه کې به به هیڅوک دا جرآت ونه کړي چې د الله عزوجل د ذات سره دبل چا ذات برابر او مساوي وګڼي، ځکه دلته اوس توحیدالحاکمیت غالب او قائم دی، فوراً د داسې مشرک سر په توره وهي.

صحیح مسلم کي په نمبر ۲۴۹ باندې حدیث موجود دی ، عمرو بن عبسة السلمي رضي الله عنه مکي ته راځي د نبي صلی الله علیه وسلم څخه پوښتني کوي ،یوه پوښتنه داسې کوي فرمایي ما ورته وفرمایل: وبأي شيء أرسلك، قال: «أرسلني بصلة الأرحام، وكسر الأوثان، وأن یوحد الله لا یشرك به شيء»

(ژباړه) او ته (الله) په څه(کار) باندې رالیږلی یې؟ (فرمایې) هغه وفرمایل زه یې رالیږلی یم، دصله رحمی په ساتنه اودبوتانو په ماتونه اوپه دی چې الله یو وګڼلی شي او هیڅ شریک ورسره ونه نیولی شي، نودلته دحدیث څخه صفا معلومه شوه ،چې دنبي صلی الله علیه وسلم د راتللو مقصد دشرکي مراکزو نړول او د توحید د مرکزونو ابادول دي ، او دا چاره هغه مهال شوني ده کله چې د توحید حکومت او واک وي، همدا وجه وه چې د اسلام په لومړیو کې د توحید في الذات د پیژندنې څخه شروع وکړه ، تر دې چې په مدینه کې یې د توحید د حکومت د بنسټ ډبره کیښوده ، نو اوس که توحید الحاکمیت قائم وي، نو د توحید فی الذات ددفاع صورت دادی چې نصاری چه عیسی علیه السلام او یهود چې عزیر علیه السلام دالله ځامن ګڼي نو دوی ته به اسلامي حکومت درې طرحې وړاندې کوي.

(۱) اسلام راوړئ! (۲) جزیه راکړئ! (۳) جنګ ته تیارشئ!

که هریو په دې درې امورو کې ومنې دوی مغلوب شو او غلبه داسلام راغله د تو حید فی الذات څخه دفاع وشوه، همدا حکم دالله دی او همدا د الله سبحانه وتعالی ددې أمر تعمیل دی، چې په سورة التوبة ۲۹ نمبر ایت کریمه کی فرمایي : قَٰتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ

(ژباړه) له اهل کتابو څخه د هغو خلکو په خلاف وجنګیږئ، چې په الله او د اخرت په ورځ ایمان نه راوړي، او څه چې الله او د هغه پیغمبر حرام کړي دي، هغه نه حراموي او حق دین خپل دین نه ګرځوي. (له هغو سره وجنګیږئ) تر دې پورې چې په خپل لاس جزیه ورکړي او ذلیل شي اوکه څوک بوت اویا هرهغه څه چې د الله د ذات سره یې برابرګڼي، هغه به نړیږي، لکه بوت،شرکي مزارات .. وغیره.. نو چې دا ونړیدل ، نو دا د توحیدالألوهیت دفاع شوه ، او

همـدا دنیا تـه درسالت او نبـوت سره د رسـول الله صل الله علیه وسـلم د راتللـو هـدف هـم دی ، لکـه مخکـې مونږ دصحيح مسلم پـه حوالـې سره د عمروبـن عبسـة السـلمي رضـى اللـه عنـه څخـه ذکـر کـړل چـې هغـه تـه نبـي صلـى اللـه علیـه وسـلم دهغـه دپوښـتنې په ځواب کې فرمایلي:
أرسلني بصلة الأرحام، وكسر الأوثان، وأن يوحد الله لا يشرك به شيء»
(ژبـاړه) (فرمايـي) زه يـې راليږلـى يـم، دصلـه رحمـې پـه سـاتنه اود بوتانـو پـه ماتونـه اوپـه دې چـې اللـه يـو وګڼلـى شي او هيڅ شريک ورسره ونـه نیولـى شي، نـو هـدف همـدا شـو چـې شرک ختـم او توحیدقائـم شي او دا نـه قائمیـږي، پـوره اوپـوره نـه قائمیـږي، مګـر پـه توحیـد الحاکمیـت سره، تاسـې دتوحیـد الحاکمیـت زور اوطاقـت تـه وګـورئ. کلـه چـې مسـلمانان پـه مکـه کـې وو، دیارلـس ۱۳ کلونـو څخـه کـم او زیاتـه زمانـه پـرې تیریـږي دومره نـا امنـه وو، چـې خپـل لمونځونـه يـې هـم پـه داړ نـه شـول کـولاي،د مشرکینـو لـه اړخـه چـې ورتـه نـور څومره تکالیـف او تعذیبونـه متوجـه وو، هغـه خـو لـه حـده اوښـتي وو، داللـه سـبحانه وتعالـى توهيـن دنبـي صلـى اللـه علیـه وسـلم توهيـن او داسـلام دشـعائرو توهيـن اوسـپکاوی پـه ښـکاره او علنـي شـکل کاوه ، خـو کلـه چـې مدینـه کـې توحیدالحاکمیـت اعـلان شـو ،بیاخـو دي کـوم مـور راوړي داجـرأت کـړی وی چـې دکـوم مسـلمان ګریـوان تـه يـې لاس أچولـي وی اوکـه داسـې څـوک پیدا شـوی نـو يـو پـه دوه يـې مظبوط جـواب کتلـى.

يـاد سـاتئ ! دا پـه سـلګونو بلکـې پـه زرګونـو صحابـه کـرام او همـدا راز د تابعینـو او وروسـته بیـا د اسلامي امـت پـه لکونـو او میلونونو کسـان شـهیدان شـول ، بلکـه دنبـي صلـى اللـه علیـه وسـلم غابښـونه مبـارک چـې شـهیدان اوسرمبـارک زخمـي شـو دابـل هيـڅ نـه وو مګـر دتوحیـد الحاکمیـة دقیـام لپـاره وو، علامـه محمـد بـن ابراهیـم آل الشـیخ رحمـه اللـه فرمايـي: وتحکیـم الـشرع وحـده دون کل ماسـواه شـقيق عبـادة اللـه وحـده دون ماسـواه إذمضمـون الشـهادتين أن يكـون اللـه هـو المعبـود وحـده لاشريـك لـه وأن يكـون رسـول الله هوالمتّبـع المحکـم مـا جـاء بـه فقـط ولا جـردت سـيوف الجهـاد الا مـن أجـل ذلـك والقيـام بـه فعـلا وتـركا وتحکیمـا عنـد النـزاع

(ژبـاړه) اوحاکمیـت دشریعـت یواځـې داللـه څخـه غیـر د هـر هغـه چاڅخـه چـې دهغـه نـه بـې غیـر دي داعیـن عبـادت داللـه دي ،بغیردبـل دعبـادت نـه ځکـه چـې مضمـون دشـهادتینو دادی چـې وي بـه صرف اللـه معبـود پـه داسـې حـال کـې چـې يـو دی هیڅ شریـک نـه لـري او داچـې رسـول اللـه (صلـى اللـه علیـه وسـلم) بـه قابـل داتبـاع وي فیصلـه کونکـی بـه ګڼلـی شي، پـه هغـه څـه چـې راتلـل يـې پـرې کـړي فقـط (نـه پـه بـل څـه ځکـه) نـه دي لوڅـې شـوي تـوري دجهـاد مګـرد همدې (هـدف) لپـاره اودهمـدې نظـام دقیـام لپـاره چـې فعـلا قائـم شي اوچـې څـوک يـې تـرک کـوي، چـې مخـه يـې ونیـولي شي اوفیصلـه وکـړای شي (پـه دې بانـدې) پـه وخـت داختـلاف کـې.

فتـاوی الشـیخ محمـد بـن إبراهیـم ۱۲/۲۵۱

نـو معلومـه شـوه چـې إعـلاء دکلمـة اللـه نـه راځـي مګـر پـه توحیدالحاکمیـة ګنـې هسـې دی يـو حـال أخسـتونکی نـن دمرتـدو حکمرانانـو حکومتونـه وګـوري، د تیربـرم اوتاریـخ څخـه اوس پـه دی ملکونـو کـې مسـاجد زيـات دي، لمونـځ کونکـي زيـات دي، روژه نیونکـي زیـات دي، زکات ورکونکـي زیـات دي، صدقـه ورکونکـي، علـم زده کونکـي، قـران لوسـتونکي او دهغـې تفسـیر اوترجمـه کونکـي دبـل هـر وخـت څخـه زیـات دي، کال پـه کال د حاجیانـو تعدادوګـورئ، پـه هیـڅ وخـت کـې دومـره حاجیانـو پـه یوځـل حـج نـه دی کـړی اونـه ورتـه داسـې سـهولت فراهـم شـوي، خـو باوجـود ددی دغـه ممالکـو کـې شریعـت مغلـوب دی، هیـڅ صحیـح العقیـده عـالم بـه دا جـرأت ونـه کـړای شي، چـې هغـه دافتـوی ورکـړي، چـې دغـه ملکونـو کـې شـعائر داللـه غالـب اوشـعائر دکفـر مغلـوب دي اونـه بـه دغـه ممالـک دارالاسلام نـوم خپـل کـړي اونـه دغـه حاکـم ددې سره کـوم شـوق لـري، چـې هغـه دی دغـه نـوم دی ملـک او وطـن تـه ورکـړي داولي؟!

داځکـه چـې دی ملکونـو کـې دحاکمیـت توحیـد مـات شـوی او دطاغـوت اوکفرحاکمیـت قائـم شـوی ،یواځـې دحاکمیـت توحیـد دی چـې پـه عملـي کولـو اوقیـام سره يـې ځمکـه اوپـه ځمکـه کـې اوسـیدونکي او پـه هغـوی نافـذ قانـون رنـګ شـکل صفـت صـورت اوتولـه نقشـه بدلـوي دتوحیدالحاکمیـت نافذونکـي سربـراه تـه خلیفـة المسلمین ویـل کیـږي، دهغـه دسـلطې لانـدې اراضي تـه دارالاسلام ویـل کیـږي، قانـون يـې چـې نافـذ کـړی هغـې تـه اسـلام اوشریعـت ویـل کیـږي، دالـف نـه تـرد یـاء او دأول نـه تـرد اخـره پـه کـې فیصلـې داللـه پـه رالیـږلي اود نبـي صلـى اللـه علیـه وسلم پـه شرح کـړي شریعت بانـدي کیـږي اوهمـدا هـدف دی دهغـه جهـاد چـې ترقیامتـه يـې داللـه نبـي صلـى اللـه علیـه وسـلم ددې امـراو خـبر ورکـړی دی .

دوام لري .....


خلافت پیژندنه
قال الله تعالى: وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ. سورة النور؛ 55

خلافت پېژندنه

۴

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يومِ الدِّينِ أَمَّا بَعْدُ ؛

قال الله تعالى! وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ. سورة النور؛ ۵۵

مسلمانانو ورونو! مونږ د خلافت د پېژندنې په اړه درس شروع کړی ؤ، نو په مخکې درس کې د خلیفه شرطونه ذکر شول، چې څلور شرطونه ذکر شول اوس راځو باقي شرطونه ذکر کوو بإذن الله.

په مختصر ډول د خلیفه شرطونه دا دي:

لومړی شرط : مسلمان به وي کافر اصلي او مرتد به نه وي .

دوهم شرط : عاقل به وي لیونی او ماشوم به نه وي .

دریم شرط : د دوو طریقو څخه به په یوه طریقه ټاکل شوی وي .

څلورم شرط : ازاد به وي غلام (مرئی) به نه وي.

پنځم شرط : نارینه به وي ښځه به نه وي .

شپږم شرط : عالم به وي جاهل به نه وي .

اووم شرط: عادل به وي فاسق فاجر به نه وي.

اتم شرط : الكفاءة النفسية يعني شجاع او بهادر به وي چې حدود تطبیقولی شي.

نهم شرط : الكفاءة الجسمية يعني سلیم الاعضاء (روغ اندامونو واله) به وي .

لسم شرط : پخپله به د امامت او مشرۍ غوښتونکی نه وي او نه به د هغې حرص کوي .

یوولسم شرط : قریشي به وي.

دولسم شرط : ممکن به وي یعني عملاً به په ځمکه مسلط وي د هغه د تسلط لاندې به څه ناڅه سیمه موجود وي او قوت او طاقت به ورسره وي.

مسلمانانو ورونو! مخکې درس کې څلور شرطونه ذکر شول اوس راځو پنځم شرط د خلیفه ته.

پنځم شرط " هغه دا چې نارینه به وي ښځه به نه وي:

دا هم د أسلامي امت تر منځ متفق علیه شرط دی او هیڅوک په امت مسلمة کې د ښځې په امامت قائل نه دي سوا د ځینې خوارجو نه چې هغوی ته شبیبه وائي هغوی د ښځې په امامت په هغه صورت کې قائل دي کله چې د دوی په گمان د دوی منشور تطبیق او عملي کړي.

او په دغه شرط باندې عقل او نقل دواړه گواه دي اول به نقل ذکر کړو بیا به عقل ته راشو

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ ...قَالَ: لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ فَارِسَ، قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى، قَالَ: «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً» رواه البخاري وغيره.

ژباړه " د ابوبکره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه حدیث نقل دی هغه فرمایي " کله چې رسول الله ﷺ ته خبر ورسید چې (اهل فارس) د کسرۍ لور خپله بادشاه او مشره وټاکله نو رسول الله ﷺ وفرمایل " کله به هم هغه قوم کامیاب نشي، چې خپلې چارې یې ښځې ته وسپارلې.

ددې حدیث څخه صراحتا معلومیږي چې ښځه د مسلمانانو امیره نشي کیدلای ځکه چې رسول الله ﷺ فرمایي هغه قوم به کله کامیاب نشي چې خپلې چارې زنانه ته وسپاري نو چې فارس پرې ناکامیږي نور امت به پرې څنگه کامیاب شي؟

او همدا راز د قرآن کریم په گڼو ایتونو کې دا خبره ذکر شوې ده چې نارینه په زنانه ؤ باندې اوچت دي او رسول الله ﷺ زنانه ناقصات العقل گڼلې دي او د انسانانو مشرۍ ته او بیا د مسلمانانو مشرۍ ته خو زیرکه ، هوښیار او عقلمند انسان پکار دی.

او عقل هم ددې تقاضا کوي چې د مسلمانانو مشر دې نارینه وي ځکه چې د خلیفه په غاړه داسې مسؤولیتونه دي چې هغه زنانه نشي کولای ځکه خلیفه ژوند د اجتماعیت دی، خلکو ته امامت کول، خطابت کول، د خلکو تر منځ فیصله کول، د جهاد قیادت کول چې دا کارونه د کور څخه بهر ته د وتلو ضرورت لري، خلکو سره لیدنې کتنې او د خلوت او جلوت حالات پرې راځي سره د دې چې ښځې ته په کور کې د ناستې حکم شوی.

همدغه رنگه د بې شمیره حکمتونو او د بشري تقاضاؤ په بناء الله تعالی سړي په میرمنو حاکمان گرځولي دي، نو ځکه میرمن د سړیو مشره نشي کیدای. دا خلاف الشرع او خلاف العقل ده. الله تعالی فرمایي " الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ. النساء ـ ۳۴

ژباړه " سړي به حاکمان وي په زنانه ؤ باندې.

لهذا اوس چې کوم طاغوتي نظامونو کې میرمنو ته لوړ منصبونه ورکول کیږي دا د کتاب الله او سنت رسول الله علیه السلام صریح مخالفت دی او که مونږ تاسې وگورو دغه قومونو پرمختگ هم نه دی کړی، که چیرې په همدغه منصب باندې یو ماهره سړی وای نو نتیجه به یې له فعلي لاس ته راوړنو څخه لوړه وای. نن سباني کفري نظامونو بنسټگر سوچونه کوي ، چې اسلام د نظام په حیث له کومو اصولو او قواعدو څخه منع کړې ده، دوی همدغه اصول خپلو خودساخته نظامونو کې ورځای کوي ،لکه حکومت کې میرمنو ته لوړې چوکۍ ورکول، دا د سیکولر طاغوتي نظامونو یو مهم اصل دی، همدغه رنگ اصلي کفارو ته خپل طاغوتي پارلمان کې ونډه ورکول هم د شریعت خلاف اصل دی، نو هر کله چې نظامونو کې د اسلام ضد قوانین موجود ول نو نتیجه به هم د دې قوانینو تابع وي، هغه نظام اسلامي نظام نه وي، کفارو او کفر ته تري خطر نه وي، د الف نه تر یاء پورې ټوله گټه یې کفارو ته ورځي.

شپږم شرط " هغه دا چې عالم به وي جاهل به نه وي :

په دې خبره د لائل په لاندې ډول دي

الله تعالی په قرآن کریم کې د طالوت په اړه ذکر کړي دي چې دا له دې کبله د مشرۍ لائق او مستحق دی چې دا په تاسو کې د علم او جسم په لحاظ غوره دی

الله تعالی فرمایي " { وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا قَالُوا أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ }. سورة البقرة ۲۴۷

ژباړه " او وویل دوی ته پیغمبر د دوی یقیناً الله تعالی ستاسو لپاره طالوت بادشاه مقرر کړی، دوی وویل څنگه کیدلای شي دده له بادشاهي په مونږ باندې او مونږ ډیر حقدار یو په بادشاهی سره دده نه او دده ته نه ده ورکړې

شوي پراخي د مال، وويل نبي يقينا الله تعالى ده ته په تاسو باندې غوره والى وركړى او زياته كړې يې ده ، ده لره پراخي په علم او جسم كې او الله تعالى وركوي خپله بادشاهي چې چاته يې وغواړي او الله تعالى د ډير فضل والا دى پوهه دى په هر څه.

او د داود عليه السلام په اړه فرمايي " وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ. سورة ص

ژباړه " او كلكه كړې وه موږ بادشاهي دده او وركړې وه موږ هغه ته پوهه ددين او فيصله كوونكې خبرې.

او د يوسف عليه السلام په اړه فرمايي " { قَالَ اجْعَلْنِي عَلَى خَزَآئِنِ الأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ } سورة يوسف

ژباړه " يوسف عليه السلام وويل چې مقرر كړه ما په خزانو د زمكې د مصر يقيناً زه ساتونكى او پوهه يم.

او بله وجه داده چې د خليفه په كارونو كې يو كار دادى چې هغه به د خلكو تر منځ فيصلې كوي او فيصلې په علم باندې كيږي جاهل سړى د خلكو په منځ كې فيصلې نشي كولاى او كه كوي نو مجرم او گناهگار دى لكه حديث كې راځي " عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ: وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ، وَاثْنَانِ فِي النَّارِ، فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ، وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ، فَهُوَ فِي النَّارِ، وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ "،

التخريج : أخرجه أبو داود (3573)، والترمذي (1322)، وابن ماجه (2315) والنسائي في السنن الكبرى (5922).

ژباړه " رسول الله ﷺ فرمايي " چې قاضيان درې قسمه دي يو به جنت ته ځي او دوه د جهنم اور ته هر چې جنت والا قاضي دى نو دا هغه يو سړى دى چې حق يې وپيژنده او په حق يې فيصله وكړه او هغه سړى چې حق يې وپيژنده او په حق يې فيصله ونكړه دا به جهنم اور ته ځي او بل سړى هغه دى چې خلكو ته په جهل او ناپوهى سره فيصله وكړي نو دا به هم جهنم اور ته ځي. الله تعالى د داوود عليه السلام په اړه فرمايي " يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ. سورة ص

ژباړه " اى داوده ته موږ په زمكه كې خليفه گرځولى يې نو د خلكو په منځ كې په حق فيصلې كوه او د خواهشاتو تابعداري مه كوه چې د الله د لارې څخه به دې گمراه كړي يقينا هغه خلك چې د الله د لارې څخه خلك گمراه كوي د هغوى لپاره سخت عذاب دى ځكه چې دوى د حساب ورځ هيره كړې. نو په خليفه كې علم شرط دى بيا په دې كې اختلاف دى چې څومره علم ورته ضرور دى جمهورعلماء وايي چې بايد خليفة المسلمين د اجتهاد درجې ته رسيدلې وي او ځينى بيا د اجتهاد درجه نه شرط كوي خو بايد كافي علم ولري او په ځانگړې ډول په هغه شيانو بايد ضرور پوهه وي كوم چې د خلافت اړوند وي او په دې پوهه شي چې شريعت څنگه په چا او په څه وخت كې تطبيق كړاى شي.

اووم شرط " عادل به وي فاسق فاجر به نه وي :

د عدالت تعريف الدميجي په امامة العظمى.ص ٢٥١ كې داسې كړې دى وايي " دا يو كامل صفت دى په نفس كې چې انسان د كبيره او صغيره گناهونو څخه ساتي او د بعضى مباح كارونو څخه يې هم ساتي چې د رجوليت (سړيتوب) خلاف دي. قاضي عياض رحمه الله وايي " چې امامت د فاسق لپاره د ابتداء څخه نه صحيح كيږي. كما في شرح مسلم للنووي ـ ١٢/٢١٩

او ددې شرط لپاره اهل علمو د راتلونكي ايت كريمه څخه استدلال كړى دى :

الله تعالى فرمايي " وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ.

ژباړه " او كله چې په ابراهيم عليه السلام باندې د هغه رب په يو څو كليمو امتحان وكړ پس هغه پوره كړې الله ورته وويل : يقينا زه تا د خلكو لپاره امام گرځوم هغه وويل : زما د اولاد څخه هم (امامان جوړكړه) الله ورته وويل : زما وعده ظالمانوته نه رسيږي.

مفسرينو دلته ليكلي دي چې د ظالمانو څخه مراد دلته نافرمانه بچيان دي او د ايت كريمه مقصد دادى چې د امامت حكم هغوى ته نه شامليږي .

مفسر رازي ددې ايت په تفسير كې ليكلي دي :

(احتج الجمهور على أن الفاسق لا يصلح أن تعقد له الإمامة بهذه الآية { لا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ } ووجه الاستدلال بها على وجهين : الأول : ما بيَّنَّا أن قوله { لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ } جواب لقوله : { وَمِن ذُرِّيَّتِي } طلب للإمامة التي ذكرها الله تعالى ، فوجب أن يكون المراد بهذا العهد هو الإمامة ليكون الجواب مطابقًا للسؤال فتصير الآية كأنه تعالى قال : لا ينال الإمامة الظالمون ، وكل عاص فإنه ظالم لنفسه ، فكانت الآية دالة على ما قلناه) .

ژباړه " جمهورو علماؤ په دې ايت كريمه (لا ينال عهدى الظالمين) باندې استدلال كړې چې فاسق انسان د امامت لپاره نه دى جوړ او په دې ايت باندې استدلال په دوه طريقو سره دى:

اول : هغه چې موږ بيان كړ چې د الله دا قول لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ دى دا جواب دى د دې قول: وَمِن ذُرِّيَّتِي، چې په دې سره يې د هغه امامت مطالبه كړې ده چې الله ذكر كړې نو لازم دي چې ددغه عهد نه به امامت مراد وي دې لپاره چې جواب د سوال مطابق شي نو ايت (معنا) به داسې شي گويا چې الله تعالى فرمايي : چې امامت ته به ظالمان لاس رسى نه لري او هر گناهگار پخپل ځان ظلم كوونكى دى. نو ايت زموږ

په خبره دليل شو
علامه شوکاني رحمه الله هم داسې فرمايلي دي : (وقد استدل بهذه الآية جماعة من أهل العلم على أن الإمام لا بد أن يكون من أهل العدل والعمل بالشرع كما ورد لأنه إذا زاغ عن ذلك كان ظالمًا.)
ژباړه " او په دې ايت کريمه باندې يو جماعت د اهل علمو استدلال کړی په دې خبره چې امام بايد عادل وي او په شريعت عمل کونکی وي لکه څنګه چې راغلي دي څکه که هغه د شريعت څخه کوږ شي هغه به ظالم وي . او بيا يې فرمايلي دي : (فالأولى أن يقال : إن هذا الخبر في معنى الأمر لأن أخباره تعالى لا يجوز أن تتخلف ، وقد علمنا أنه قد عهده من الإمامة وغيرها كثير من الظالمين).
ژباړه " مناسبه داده چې دلته وويل شي چې دا ايت کريمه خبر دی خو په معنی د أمر دی څکه که خبر واخيستل شي نو د الله تعالی په خبر کې خلاف نشي راتلای او دا خو ثرګنده معلومه ده چې داسې خلکو امامت (خلافت) وغيره کړی دی چې زيات يې ظالمان وو.
يعنی چې کله په معنی د أمر شي نو معنا به يې دا شي چې داسې خلکو ته امامت (خلافت) او مشري مه ورکوئ، چې هغه ظالمان وي فسق او فجور کوي او عدل پکې نه وي.
فقيه حنفي عالم أبو بکر الجصاص وايي : (فثبت بدلالة هذه الآية بطلان إمامة الفاسق وأنه لا يكون خليفة).
ژباړه " ددې ايت کريمه څخه دلالةً معلومه شوه چې د فاسق سړي امامت (خلافت) باطل دی او هغه خليفه نشي کيدلای.
علامه زمخشري پخپل تفسير کشاف کې ددې ايت کريمه په تفسير کې فرمايي :
(وقالوا : في هذا دليل على أن الفاسق لا يصلح للإمامة وكيف يصلح لها من لا يجوز حكمه وشهادته ولا تجب طاعته ولا يقبل خبره ولا يقدم للصلاة) .
ژباړه " اهل علم وايي : چې په دې ايت کريمه کې دليل دی په دې خبره چې فاسق سړی امامت (خلافت) ته جوړ نه دی او څنګه به هغه د خلافت لائق وي حال دادی چې د هغه حکم او ګواهي نه ده جايز او د هغه طاعت واجب نه دی او د هغه خبر نه قبليږي او مونځ ته به هم نشي مخکې کولای.
امام ابن عيينة رحمه الله نه نقل دي : لا يكون الظالم إمامًا قط ، وكيف يجوز نصب الظالم للإمامة ، والإمام إنما هو لكفِّ الظلمة ، فإذا نصب من كان ظالمًا في نفسه فقد جاء المثل السائر : من استرعى الذئب ظلم) .ژباړه " ظالم هيڅکله هم امام نشي کيدلی او ظالم به څنګه امامت (خلافت) ته مقرر کړای شي حال دادی چې امام خو ددی لپاره وي چې ظلم بند کړي نو کله چې داسې کس امام وټاکل شي چې هغه پخپله ظالم وي نو بيا به هغه مشهور متل شي چې چا ليوه (شرمخ) شپونکی وټاکه نو ظلم يې وکړ.
دوهم دليل : { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا ... } الآية سورة الحجرات
الله تعالی د فاسق په اړه موږ ته ويلي دي چې د هغه د خبر تحقيق وکړئ او حال دادی چې د حاکم د اطاعت حکم يې کړی نو که حاکم فاسق وي نو موږ بايد د هغه اطاعت ونکړو بلکې لومړی بايد د هغه د هر خبر تحقيق وکړو او بيا يې ومنو او دا خو يو لوی حرج دی نو معلومه شوه چې فاسق بايد خليفه او حاکم نه وي.
او بله داده چې ګواهي کوونکي هم بايد فاسق نه وي نو قاضي خو بايد بلکل نه وي او حاکم او امير خو به په طريق اولی سره نه وي.
دريم دليل : { وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَايُصْلِحُونَ } سورة النمل، الله تعالی فرمائی : د زياتي کوونکو خبره مه منئ هغه چې په ځمکه کې فساد کوي او اصلاح نه کوي.
نو کله چې أمير او حاکم فاسق وي نو هغه مسرف او زياتی کوونکی دی او د زياتي کوونکو د اطاعت نه خو الله منعه کړې او حال دادی چې حاکم خو ددې لپاره ټاکل کيږي چې د هغه اطاعت وکړای شي نو ظاهره داده چې هغه بايد فاسق نه وي چې اطاعت يې حرام وي.
علامه ابن خلدون رحمه الله فرمايي : (وأما العدالة فلأنه منصب ديني ينظر في سائر المناصب التي هي شرط فيها ، فكان أولى باشتراطها فيه) .
ژباړه " او هر چې عدالت دی نو چې هر کله (امامت) دا يو ديني منصب دی دا به په ټولو نورو منصبونو کې عدالت ګوري نو د ټولو نه اول په دی کې پخپله پکار دی .
تنبيه : يادونه دی وي چې عدالت دا په هغه وخت کې شرط دی چې کله ابتداء او اختيار يو کس ټاکلی شي، او که چيرې يو کس ابتداء عادل و خو وروسته پرې فسق راغی، نو دغه فسق له امله دا نه معزوله کيږي بلکې ترڅو چې يې کفر بواح نه وي کړی تر هغه وخت يې اطاعت لازم دی. همدغه رنګه د تغلب په صورت کې هم عدالت لازم شرط نه دی يعنې يو حاکم په زوره بادشاهي ونيسي نو بيا که ځيني شرطونه نه وي يا کم وي نو هم اطاعت ئې لازم دی او په دې باندې لاندې راتلونکي احاديث دلالت کوي :

اول حديث :

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّهُ يُسْتَعْمَلُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ، فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ، فَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ بَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَ فَقَدْ سَلِمَ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ» ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَلَا نُقَاتِلُهُمْ؟ قَالَ: «لَا، مَا صَلَّوْا» رواه الامام مسلم فى صحيحه .

ژباړه " د ام سلمة رضى الله تعالى عنها څخه روايت دى - چې د رسول الله ﷺ بي بي ده – هغه د رسول الله ﷺ څخه روايت نقل كوي چې هغه فرمايلي دي : نيږدى ده چې داسې أميران به په تاسو مقرر شي چې تاسى به ترى ځينې معروف كارونه وينئ او ځينې به منكر چا چې بد وګڼل نو دا بچ شو او چا چې د هغې انكار (رد) وكړ نو هغه روغ پاتې شو ليكن څوک چې پرى راضي شو او تابع يې شو (هلاک شو) ،هغوى وويل : اى د الله تعالى رسوله ! ولې ورسره جنګ نه كوو؟ رسول ا لله ﷺ وفرمايل : نه تر هغه ورسره جنګ مه كوئ ترڅو چې دوى مونځ كوي (يعني مسلمان پاتې وي)

دوهم روايت :

عَبْدَ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً وَأُمُورًا تُنْكِرُونَهَا» قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «أَدُّوا إِلَيْهِمْ حَقَّهُمْ، وَسَلُوا اللَّهَ حَقَّكُمْ» رواه ا لبخارى فى صحيحه .

ژباړه " د عبدالله بن مسعود رضى الله تعالى عنه څخه روايت دى هغه فرمايي : موږ ته رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسې به زما څخه وروسته وګورئ چې په تاسو به خلک نور خلک وړاندې كوي او داسې كارونه به وګورئ چې هغه به تاسو بد ګڼئ هغوى وويل : اى د الله رسوله ! ته موږ ته د څه أمركوې ؟ هغه ﷺ وويل : تاسو هغوى ته د هغوى حقوق اداء كړئ او د الله تعالى نه خپل حق غواړئ.

او په دې موضوع ديته ورته نور أحاديث هم شته چې دلته به صرف په همدغه دوو رواياتو اكتفاء وكړو.

أتم شرط " الكفاءة النفسية يعني شجاع او بهادر به وي چې حدود تطبيقولى شي :

د الكفاءة النفسية څخه مراد دادى چې د مسلمانانو امير او خليفه به په معنوي لحاظ سره هم قوي وي او د شجاعت او بهادرۍ خاوند به وي د كفر په خلاف به د جګړې جرآت لري او د اسلامي شريعت په تطبيق كې به د چا څخه ويره او ترس نه لري بلكې هغه به په ميړانه تطبيقولاى شي لكه قرآن كريم د زنا حد د تطبيق په اړه راځي :

وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ (الاية ٢ من سورة النور) .

ژباړه " او ونه نيسي تاسو لره په هغوى دواړو باندې شفقت د الله په دين كې كه چيرته تاسو په الله او ورځ دآخرت ايمان لرئ.

نو حاكم به شجاع وي چې د الله تعالى حدود جاري كولې شي.

ضعيف او كمزورى انسان د مسلمانانو أمير نشي كيدلې دليل پرې لاندى راتلونكى حديث دى :

عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَلَا تَسْتَعْمِلُنِي؟ قَالَ: فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى مَنْكِبِي، ثُمَّ قَالَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ، إِنَّكَ ضَعِيفٌ، وَإِنَّهَا أَمَانَةُ، وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ، إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا، وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا» رواه مسلم فى صحيحه .

ژباړه " د ابوذر رضى الله تعالى عنه څخه روايت دى هغه فرمايي : ماوويل : اى دالله رسوله ! ما ته ولې ځينې چارې نه راسپارې؟ رسول الله ﷺ زه په خپل مبارک لاس په اوږو باندې ووهلم او بيا يې راته وويل : اى ابوذر! ته كمزورى يې او دا (مشري) امانت دى او داده قيامت په ورځ باندى شرم او پښيمانتيا ده مګر هغه چا چې په حق يې واخيستله او خپل مسؤوليت يې په كې اداء كړ.

د ابوذر رضى الله تعالى عنه دوهم روايت په لاندى ډول دى :

عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضى الله تعالى عنه ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ، إِنِّي أَرَاكَ ضَعِيفًا، وَإِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي، لَا تَأَمَّرَنَّ عَلَى اثْنَيْنِ، وَلَا تَوَلَّيَنَّ مَالَ يَتِيمٍ» رواه مسلم فى صحيحه .

ژباړه " د ابوذر رضى الله تعالى عنه څخه روايت دى چې يقينا رسول الله ﷺ فرمايلي دي : اى ابوذره ! يقينا ته ماته كمزورى ښكارې او زه ستا لپاره هغه څه خوښوم چې ځانته يې خوښوم هيڅكله په دوه كسانو هم مشري مه كوه او مه د يتيم د مال مسؤوليت په غاړه اخله .

نو ددې دواړو احاديثو څخه معلوميږي چې ضعيف سړى بايد يو وړوكې مسؤوليت هم په غاړه وانخلي نو بيا كمزوري انسان ته د ټول امت مسؤوليت څنګه په غاړه اچوى ؟ نو دا ضرور ده چې اميرالمؤمنين او خليفة المسلمين به نفسياتي لحاظ سره قوي شجاع او حكيم انسان وي د كارونو په تدبير به پوهيږي او حكيم به هم وي د سختى په ځاى كې سختي او د نرمى په ځاى كې نرمي به كوي او تقديم الاهم فالاهم باندې به هم پوهيږي.

قاضى ابويعلى په الاحكام السلطانية كې فرمايي : (أن يكون قَيِّما بأمر الحرب والسياسة وإقامة الحدود لا تلحقه رأفة في ذلك والذب عن الأمة) .

ژباړه " او بل دادى چې خليفه به د جنګ او په سياست او د حدودو په قائمولو قادر وي او په هغې كې به پرې شفقت (كمزوري) نه راځي او همدا راز د أمت څخه په دفاع كولو كې به كمزورى نه وي.

نو نن سبا چې تش په نوم د اسلامي ملكونو پاچاهان دي يا د طالبانو ملا هبت الله اخوند دى دوى كې هم دا شرط مفقود دى چې د الله د دښمنانو څخه ډاريږي او د الله تعالى كامل دين نشي تطبيقولاى. حدودو يې تر اوسه معطل كړي دي، بلكې تغير كړي يې دي او تعزيراتو ته يې حدود نوم وركړى، هغه لوطي چې ثبوتونه پرې موجود وي، هغه محصن زاني چې شريعت نصاب ته رسيدلي ګواهان پرې موجود وي يا هم خپله اقرار كوي، هغوى ته هم ٣٩ يا ٣٠ كوړې وركوي، چې پدې سره ټولنه د تباهى په لور روانه ده. او اصلي لامل يې دا دى چې نړيوالو كفارو څخه ډاريږي چې اونيزې ډالري كڅوړې به بندې شي، د ملګرو ملتونو رسميت څخه به مو محروم كړي نو دې وجې نه د دې مرتدينو امارت او اطاعت شريعت كې نشته.

نهم شرط " الكفاءة الجسمية يعني سليم الاعضاء (روغو اندا مونو واله) به وي :

سليم الأعضاء ـ په اندامونو به روغ وي يعني هغه اندامونه چې د هغې د نشتوالي په وجه په عقل او رايه باندى أثر كيږي.

او سلامت د ټولو جسماني عيوبو څخه معتبر نه دى دا خبره ابن حزم په الملل والنحل ـ ١٦٧/٤ـ كې كړى ده.

او دا ځكه چې د صحت نيمګړتيا په عقل باندې أثر لري الله تعالى په قرآن كريم كې د طالوت د اوچتوالي لپاره يو صفت د هغه د جسم مضبوطوالى او خايستوالى ذكر كړې الله تعالى فرمايي :

{إِنَّ اللّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ { سورة البقرة

ژباړه " يقينا الله تعالى ده ته په تاسو باندې غوره والى وركړى او زياته كړې يې ده ده لره پراخي په علم او جسم كې.

لسم شرط " پخپله به د امامت او مشرى غوښتونكى نه وي او نه به د هغې حرص كوي :

ددى شرط مقصد دادى چې د مسلمانانو أمير به داسې شخص نشي مقررولى چې هغه د مشرى حرص كوي او يا يې غواړي ځكه رسول الله ﷺ د مشرى غوښتولو څخه او يا په هغې پسې د حرص كولو نه منع كړې او دې باره كې ګڼ احاديث راغلي دي :

اول حديث :

عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ سَمُرَةَ، لاَ تَسْأَلِ الإِمَارَةَ، فَإِنَّكَ إِنْ أُوتِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا، وَإِنْ أُوتِيتَهَا مِنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا - ...... رواه

البخاری فی صحیحه .

ژباړه " د عبدالرحمن بن سمرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی هغه فرمایي : رسول الله ﷺ فرمایلي دي : ای عبدالرحمن بن سمره ! مشري مه غواړه ځکه که تاته مشري د غوښتلو په وجه درکړل شي نو ته به مشری ته وسپارل شي او که تاته د غوښتلو څخه بغیر درکړای شي نو ستا مدد به پرې کولای شي.

دوهم حدیث :

عَـنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَرَجُلَانِ مِنْ قَوْمِي، فَقَالَ أَحَدُ الرَّجُلَيْنِ: أَمِّرْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَقَالَ الآخَرُ مِثْلَهُ، فَقَالَ: «إِنَّا لاَ نُوَلِّي هَذَا مَنْ سَأَلَهُ، وَلاَ مَنْ حَرَصَ عَلَيْهِ» رواه البخاری فی صحیحه .

ژباړه " د ابو موسی الاشعری رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی هغه فرمایي : زه او زما د قوم دوه کسان د رسول الله ﷺ خواته لاړو نو په هغه دواړو کې یو تن وویل : ای دالله رسوله ! ما (په کوم ځای یا په کوم کار) امیر وټاکه هغه بل همداسې خبره وکړه رسول الله ﷺ وفرمایل : یقینا موږ دا چاري هغه چاته نه سپارو چې پخپله یې غواړي او یا پرې حرص کوي.

امام سفیان الثوري رحمه الله فرمایي : (إذا رأيت الرجل يحرص على أن يؤَمَّر فأخِّره).

ژباړه " کله چې دی یو تن ولید چې دا حرص یې درلود چې أمیر شي نو وروسته یې کړه.

نو نن سبا انتخاباتو شرکي عمل کې یو قباحت دا دی چې دوی خپله ځان لپاره مشري غواړي. او یوسف علیه السلام باره کې چې راځي هغه بادشاه ته خپل اهلیت وښود، هغه دې وجې نه چې بادشاه هغه مقرراوه، نو یوسف علیه السلام چې کله د هغه اصرار وکتلو نو بیا یې خپل فن ورته وښود، چې دې بخش کې مهارت لرم. د نن سبا طواغیتو په څیر کوشه په کوشه نه ګرځید چې ماته رایه راکړئ. لهذا څوک چې مشري غواړي شرعي قاعده دا ده چې هغه به مشر نشي ټاکل کیدای.

یولسم شرط " قریشي به وي :

دا شرط په ډیرو أحادیثو کې راغلی دی چې ځینې د هغې څخه په لاندې ډول دي :

اول حدیث :

عن جبیربن مطعم عن معاویة رضی الله تعالی عنه قال :إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ «إِنَّ هَذَا الأَمْرَ فِي قُرَيْشٍ لاَ يُعَادِيهِمْ أَحَدٌ، إِلَّا كَبَّهُ اللَّهُ عَلَى وَجْهِهِ، مَا أَقَامُوا الدِّينَ» روه البخاری فی صحیحه .

ژباړه " د جبیربن مطعم رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی هغه د معاویه رضی الله تعالی عنه څخه حدیث نقل کوي هغه فرمایي : ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي فرمایل یې :یقینا دا کار (خلافت) به په قریشوکي وي په دې به ورسره هیڅ یو کس دښمني نه کوي مګر الله تعالی به یې پرمخ راګوزار کړي څو ترڅو چې دوی (قریش) دین قائمونکي وي .

دوهم حدیث :

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لاَ يَزَالُ هَذَا الأَمْرُ فِي قُرَيْشٍ مَا بَقِيَ مِنْهُمُ اثْنَانِ» رواه البخاری فی صحیحه .

ژباړه " د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی هغه د نبي کریم ﷺ څخه حدیث نقل کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي : همیشه به دا کار (خلافت) په قریشوکي وي ترڅو چې په دوی کې دوه کسان هم پاتې وي.

دریم حدیث :

عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال : قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم - : « الناس تبع لقريش في هذا الشأن ،مسلمهم تبع لمسلمهم ، وكافرهم تبع لكافرهم ».
رواه البخاری فی صحیحه .

ژباړه " د ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی هغه فرمایي : رسول الله ﷺ فرمایلي دي : خلک په دی کار (خلافت) کې د قریشو تابعدار دي مسلمان یې د مسلمان تابع دی او کافر یې د کافرو تابع دی .

څلورم حدیث :

عن أبي بكر الصديق رضي الله تعالى عنه قال في سقيف بني ساعدة لسعدبن عبادة: ولقد علمت يا سعد أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قال وأنت قاعد : « قريش ولاة هذا الأمر فبرُّ الناس تبع لبرهم ، وفاجرهم تبع لفاجرهم » ، فقال له سعد : صدقت نحن الوزراء وأنتم الأمراء. رواه أحمد

ژباړه " د ابوبکرالصدیق رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی هغه په سقیف بني ساعده کې سعد بن عبادة رضی الله تعالی عنه ته وویل : یقینا تاته پته ده ای سعده چې رسول الله ﷺ - په داسې حال کې چې ته ناست وې - فرمایلي وو : قریش ددې کار(خلافت) واکداران دي د خلکو نیکان ددوی د نیکانو تابعدار دي او د خلکو فاجران ددوی د فاجرانو تابعدار دي. سعد ورته وویل: رښتیا دي وویل مونږ به وزیران او تاسو به امیران یاست.

پنځم حدیث :

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله تعالی عنه فی حديثه الطويل الذی یروی فيه خطبة عمربن الخطاب رضی الله تعالی عنه قال فی خطبته

قال ابوبکر رضی الله تعالی عنه فی سقیف بنی ساعدة للانصار : وَلَنْ يُعْرَفَ هَذَا الْأَمْرُ إِلَّا لِهَذَا الْحَيِّ مِنْ قُرَيْشٍ، هُمْ أَوْسَطُ الْعَرَبِ نَسَبًا وَدَارًا ...... رواه البخاری فی صحیحه .

ژباړه " د عبدالله بن عباس رضی الله څخه روایت دی - په هغه اوږد حدیث کې چې هغه په کې د عمربن ا لخطاب رضی الله تعالی عنه خطبه نقل کوي - فرمایي :عمر رضی الله تعالی عنه په خطبه کې ووېل : ابوبکرالصدیق رضی الله تعالی عنه په سقیف بني ساعده کې انصارو ته ووېل :کله به هم دا کار(خلافت) ونه پېژندل شي مګر په دې قبیله کې چې قریش دي دوی د نسب په لحاظ غوره خلک دي او د کور په لحاظ هم .

علامه ابن حزم الظاهری رحمه الله ددې احادیثو په اړه داسې وایي :

(وهذه رواية الأئمة من قريش جاءت مجيء التواتر رواها أنس بن مالك ، وعبد الله بن عمر بن الخطاب ، ومعاوية وروى جابر بن عبد الله ، وجابر بن سمرة ، وعبادة بن الصامت معناها (الملل والنحل)

ژباړه " دارواېت - چې امامان (امیران) به د قریشو څخه وي - په تواترسره نقل دي دا احادیث د انس بن مالک عبدالله بن عمر بن ا لخطاب ،معاویة رضی الله تعالی عنهم څخه روایت شوي دي او جابر بن عبدالله ، جابر بن سمرة ، او عبادة بن صامت رضوان الله تعالی علیهم اجمعین ددی معنا نقل کړی ده .

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي: (قد جمعت طرقه عن نحو أربعين صحابيًا.....) (فتح الباري)

ژباړه " ما ددی حدیث سندونه راجمع کړل تقریبا څلویښت صحابه کرامو دا حدیث نقل کړی.

الاجماع :

او په دی خبره چې امام به د قریشوڅخه وي د أمت مسلمه اجماع ده او دغه اجماع ګڼو اهل علمو نقل کړی ده :

امام نووی رحمه الله فرمایي :

(هذه الأحاديث وأشباهها دليل ظاهر على أن الخلافة مختصة بقريش لا يجوز عقدها لأحد من غيرهم ، وعلى هذا انعقد الإجماع في زمن الصحابة والتابعين فمن بعدهم بالأحاديث الصحيحة) .

ژباړه " دا او دیته ورته احادیث ښکاره دلیل دی په دې خبره چې خلافت په قریشو پورې مختص دی او جایز نه ده چې ددوی څخه بغیر بل چاته ورکړای شي او په دې خبره باندې د صحابه کرامو او تابعینو په زمانه کې او د هغوی څخه وروسته خلکو اجماع کړې ده ځکه چې په دې باندې صحیح احادیث راغلي دي . (شرح النووی علی صحیح مسلم) .

امام قاضی عیاض رحمه الله فرمایي : (اشتراط كونه – أي الإمام – قرشيًا هو : مذهب العلماء كافة .

ژباړه " دا شرط چې امام به قریشي وي، د ټولو علماؤ مذهب دی . (شرح النووی) .

اوبیافرمایي : وقد عدها العلماء في مسائل الإجماع ، ولم ينقل عن أحد من السلف فيها قول ولا فعل يخالف ما ذكرنا ، وكذلك من بعدهم في جميع الأعصار قال : ولا اعتداد بقول النظام ومن وافقه من الخوارج وأهل البدع أنه : يجوز كونه من غير قريش ، ولا سخافة ضرار بن عمرو في قوله : إن غير القرشي من النبط وغيرهم يقدم على القرشي لهوان خلعه إن عرض منه أمر وهذا الذي قاله من باطل القول وزخرفه مع ما هو عليه من مخالفة إجماع المسلمين والله أعلم) .

ژباړه " او دا مسئله چې امام به قریشي وي اهل علمو د هغه مسائلو څخه شمیرلې ده چې په هغې باندی د أمت مسلمه اجماع ده او په سلفو کې د هیڅا څخه داسې قول یا عمل نه دی نقل چې ددې خبرې خلاف وي او د هغوی څخه وروسته هم په ټولو پیړیو کې نه دي نقل او د نظام او د هغه چا چې د هغه سره یې موافقت کړی که هغه خوارج یا عام مبتدعین دي نو د هغوی خبرې ته هیڅ اعتبار نشته چې هغوی ویلي دي : چې د قریشو څخه بغیر بل څوک هم امام کېدلای شي او نه د ضرار بن عمرو چټیاتو ته اعتبار شته چې هغه ویلی دي :

(په امامت کې د قریشو څخه بغیر نور قومونه لکه نبط وغیره مخکې کولای شي ځکه د هغوی معزول کول اسان وي - کله که د هغوی څخه څه مشکل راښکاره شي - نو دده دا خبره ډیره باطله او مزخرفه خبره ده او له دې سره سره د اجماع نه هم مخالفه ده .

محمد رشید رضا هم دا خبره ذکر کړی ده هغه وایي :

(أما الإجماع على اشتراط القرشية فقد ثبت بالنقل والفعل ، رواه ثقات المحدثين ، واستدل به المتكلمون وفقهاء مذاهب السنة كلهم ، وجرى عليه العمل بتسليم الأنصار وإذعانهم لبني قريش ، ثم إذعان السواد الأعظم من الأمة عدة قرون ...). (الخلافة اوالامامة العظمی) .

ژباړه " د قریشیت په شرط والي باندې اجماع په نقل او عمل دواړو کې ثابته ده دا خبره موثقو محدثینو روایت کړی ده او په دې باندې متکلمینو او د اهل سنتو ټولو مذهبونو استدلال کړی او په دې باندې د انصارو عمل هم جاري ؤ ځکه چې هغوی قریشو ته په دې خبره کې تسلیم شول او بیا د أمت مسلمه دا لوی سواد په دا دومره پیړیو کې دې خبره ته تابع شوي دي.

خلاصه :

په دې خبره باندې چې خلیفه به د قریشي وي اجماع ډیری اهل علمو نقل کړي ده لکه دا اجماع امام ماوردي په الاحکام السلطانیة کې، ابن خلدون په المقدمة کې او غزالي په الفضائح الباطنیة کې او ایجی په المواقف کې نقل کړی ده .

او ددې خلاف صرف خوارجو، معتزله وو او ځینې اشاعره وو کړي چې هغوی وایي : د قریشي څخه بغیر بل قوم والا هم خلیفه او امیر المؤمنین کېدلای شي او ددې زمانې ځینې معاصرو لیکوالانو دا رایه اخیستې ده چې اکثر یې داسې خلک دي چې د غرب څپو وهلي دي او د هغوی دیموکراسۍ نه متاثر دي او د بعضې آیتونو او احادیثو څخه یې استدلال کړی او د غه پورتني صحیح احادیث یې شاته ګوزار کړي والی الله المشتکی لکه په دی ایت استدلال کول : ان اکرمکم عندالله اتقاکم (الایة) او همدغه راز په هغه احادیثو باندې چې په نسب باندې فخر کول څخه یې منع ګڼلې ده او یا یې ویلي چې په نسب انسان الله تعالی ته نشي نیژدی کیدلای او همدا راز په هغه حدیث چې مخکې تیر هم شو چې (علیکم بالسمع والطاعة وان أمر علیکم عبد حبشي) الحدیث ، چې د هغې توجیهات مخکې تیر شول او ځینو ویلي دي چې دا اخبار احاد دي په دې باندې یقین نشي کیدلای والعیاذبالله او ځینو دغه پورتني صحیح احادیثو ته موضوع او منګرت ویلي دي او ځینو بیا یو څه نا څه ګوزاري و اله خبره کړي ده او هغه داچې په دې احادیثو کې صرف خبر ورکړل شوي دی چې امام به د قریشو څخه وي او أمر په کې نشته چې خامخا امیر به نه مقرره وي مګر قریشي لیکن دا ټول شبهات دي چې دوی یې د پورتني صحیح احادیثو په مقابل کې پیش کوي او صحیح خبره داده چې داده عام امت مذهب او رایه ده او هغه دا چې قریشیت په کې شرط دی والله تعالی اعلم.

لهذا د اسلامي امت اتفاق له نظره د قریشي په موجودګۍ کې غیر قریشي خلیفه نشي کیدای. نو د اسلامي خلافت قریشي خلیفه په شتون کې د القاعدې، طالبانو یا نورو ګوندونو مشرانو شرعي امارت لغوه دی پاتې لا دی چې نن سبا د ډیرو ګوندونو مشرانو څخه صریح نواقض صادر شوي دي نو حکم منل او طاعت کول یې شرعا حرام دی.

عزتمندو ورونو! تاسو د اسلامي شریعت مبارک اصول او تعلیمات ولوستل نو اوس خپل واقع پدې باندې وتلئ، نو تاسو ته به د اسلامي خلافت قیادت کې دا شرایط ترلاسه شي لهذا د همدې جماعت بیعت وکړئ او ځانونه د جاهلیت له مرګه وژغورئ.

وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ

الله جل جلاله ته زمونږ سفر دی

زه په اسلامي دولت کې خپلو هغو خويندو ته بلنه ورکوم چې تر اوسه د الله عزوجل په فضل سره صابره او ثابت قدمه پاتې دي چې بايد ماته غوږ ونيسي، ځکه زما په آند مونږ نن ورځ يادونې او اصلاح ته د بل هر وخت نه زيات محتاج يو، د الله عزوجل نه سوال دی چې په مونږ د خپل رحمت باران وکړي او د هغه تعالی څخه اميد دی چې دغه کلمات زمونږ لپاره ګټور او د خير په لور د بدلون نقطه وګرځوي.

ای زما هغو ګرانو خويندو!

چې زه ورسره د الله عزوجل په لور د سفر په مهآل يم، پريږده چې لږ خپل نيت پاک کړو او خپل عملونه اصلاح کړو، لکه زمونږ په انتظار چې د مشکلاتو او سختو ازموينو زمانه راروانه وي، د ايمان او کفر تر منځ د سختو خونړو جنګونو زمانه چې له دغي زمانې وروسته به إن شاء الله اساني راځي، لکه چې الله عزوجل زمونږ سره وعده کړې فرمائي:

{ فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا } [الشرح: 5—6]

ژباړه: يقيناً د سختی سره اساني وي.

او فرمايي: و فی قوله { وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُوْنَ } [الصافات: 173].

ژباړه: او زمونږ لښکري به غالبه وي.

خو اوس دلته سوال دا دی چې آيا مونږ دغو حالاتو ته تيار يو؟ آيا زمونږ نفسونه قربانی ته تيار دي؟ آيا زمونږ زړونه يواځې ايمان ته خالي شوي دي؟ آيا مونږ ديته تيار يو چې په دغې لاره کې نور پرمختګ وکړو؟ آيا مونږ په دي توان لرو چې مظبوط او ثابت قدمه واوسو او هغه څه وواېو چې صحابه کرامو د أُحُد له غزا وروسته ويل:

{ اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَّقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ } [آل عمران: 173]

ژباړه: هغه څوک چې خلکو ورته وويل: خلک درته راجمع شوي؛ تري ويريږئ، خو د هغوی ايمان نور هم زيات شو او ويې ويل: زمونږ لپاره الله عزوجل کافي دی او ډېر ښه ذمه وار دی.

صحابه کرامو رضی الله عنهم دغه وينا ځکه کوله چې هغوی په الله عزوجل او د هغه په

اوس وخت راغلی چې جدايي او توپير راشي؛ ربښتونی له دروغژن، نيک له فاسق، مؤمن د منافق څخه جدا شي او په خپل موقف ټينګ ولاړ د نا اميده څخه بيل شي، وخت راغلی چې د هغو خلکو ترمنځ توپير وشي چې د هغوی د زړه په تل کې د جنت مينه پرته ده او د هغوی چې دغه مينه يې يواځې د ژبې پر سر ده. د الله عزوجل نه سوال دی چې مونږ د هغه خلکو څخه وګرځوي چې تر اخيره ثابت قدمه اوسي؛ ترڅو د کاميابی او نصرت ننداره وکړو او يا راته الله عزوجل قبول شهادت راکړي.

رسول ﷺ ایمان درلود او په الله عزوجل او د هغه په نصرت یې پوره باور ؤ، او ځکه چې هغوی خپل کار الله عزوجل ته سپارلی ؤ او الله عزوجل او د هغه رسول ﷺ ته یې اخلاص درلود، ځکه خو هېڅ داسې شی نه ؤ پاتې چې هغوی د الله عزوجل لپاره نه ؤ قربان کړی، داسې هېڅ لاره نه وه پاتې چې په ازغو غوړول شوې وي او دوی پرې ولاړ نه شي، دا چې کله چې د الله عزوجل او د هغه رسول ﷺ سره د مینې اظهار تر ټولو غوره لار د خپلو مشرکو خپلوانو د سر پرې کول وو نو دوی دغه کار هم وکړ، ځکه د الله عزوجل او د هغه د رسول ﷺ سره د ټولو نه زیاته مینه کول د هغوی په ایمان، تقوی، قرباني او امیدونو کې ښکاره شوه، دغه مینه بیا د هغوی په سوچ کې هم ښکاره شوه، د هغوی الله عزوجل ته د شوق درجه دا وه چې هغوی یواځې د الله عزوجل اراده درلوده، نو الله عزوجل دې له هغوی څخه راضي شي او مونږ ته دې ایمان، تقوی او دومره ځواک راکړي لکه هغوی ته چې یې ورکړی ؤ.

ای زما ګرانو خوېندو، زمونږ رول او مسؤولیت لا تر اوسه پای ته نه دی رسېدلی، بلکې نور هم د شمېر او أهمیت په حیث زیات شوی، په مونږ لازم دي چې خپل نفسونه اصلاح کړو او د خپلو اهدافو د واقعیت لپاره د غفلت له خوبه راویښ شو، اوس وخت رارسېدلی چې مونږ په خپلو واجباتو او خپل رول کې دقیق نظر وکړو او خپل لومړیتوب آخرت ته ورکړو نه دنیا ته، په مونږ مسلمانو میرمنو فرض دي چې خپل مسؤلیتونه په ډېره ویښتیا او زیرکتیا سره ترسره کړو او په دې پوه شو چې په دغه واجباتو کې هر ډول بې غوري به زمونږ په هلاکت تمامه شي، زمونږ مأموریت له هغې ډېر لوی دی چې مونږ یې تصور کوو، ځکه الله عزوجل په مونږ احسان کړی چې مونږ د مجاهدینو، میرمنې، خویندې او میندې شو، نو آیا زمونږ لپاره مناسب دي چې مونږ په مادي ذلیله دنیا مشغوله شو؟ لکه چې زمونږ ډېرې خویندې په دغې بلا کې أخته دي؟ د ځان د تیاری لپاره زمونږ سره ډېر کم وخت دی، ځکه په مونږ لازم دي چې د ناراستی خاوري له ځانه وڅنډو او د دنیا زولنې ماتې کړو، آیا مونږ د څه مودې راهیسې هغه غوره څه نه دي پرېښي چې دنیا یې مونږ ته راوراندې کول؟ آیا مونږ په دې دنیا کې تر ټولو ګران او محبوب خلک هغه مهال نه دي پرېښي چې کله مونږ د هجرت په لاره کې لومړي قدمونه واخیستل؟ نو اوس بیا ولې زمونږ د ځینو خویندو زړونه د شیطان په لومه کې ولوېږي؟ تر دې چې د ډېرو زړونه چټل شوي.

او یو ځل بیا په دنیا پورې تړل شوي، چیرته چې خوراک، څښاک، چغلي، بې ځایه خبرې او مادي اغراض زمونږ لوی قصد ګرځېدلی دی، څومره د خفګان خبره ده چې مونږ خپلې خویندې ګورو چې د دنیا تر شا منډې وهي او د خپل مجاهد خاوند مرستې او د خپلو بچو تربیې ته هېڅ پام نه اړوي تر څو د خالد ابن ولید او عبدالله ابن الزبیر رضي الله عنهما په څېر شي.

الله سبحانه وتعالی فرمایي: { كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ } [آل عمران: 110].

ژباړه: تاسې غوره امت یاست چې د خلکو لپاره مقرر کړای شوي یاست؛ تاسو به د نیکیو امر او د بدیو څخه منع کوئ او په الله عزوجل به ایمان لرئ.

خو ډېرې داسې ښځې وي چې دارالکفر ته ستنې شوي؛ هغوی بل ځل خاوند په دې بهانه نه کاوه چې زه د خپل لومړي خاوند سره ډېره زیاته مینه لرم؛ کوم چې شهید شوی دی -باذن الله تعالی- اګر چې د قیامت په ورځ به هر څوک د "خپل ځان" چیغې وهي، ښځه به د خپل خاوند په غم کې نه وي او خاوند به د خپلې ښځې په غم کې نه وي، نو بیا ولې مونږ خپل خواهشات پرېږدو چې زمونږ په کارونو اغېزه وکړي؟ آیا مونږ کله دغه ایات کې سوچ کړی چې فرمایي:

{ أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ } [الجاثیة: 23]،

ژباړه: آیا تا هغه څوک لیدلی چې خپل خواهش یې د معبود په حیث نیولی وي.

په مونږ کې ډېری هغه دي چې د هغه چا نافرماني کوي څوک چې د دوی د خدمت لپاره مقرر وي، سره له دې چې الله عزوجل مونږ ته امر کړی چې اطاعت وکړو: { يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا أَطِيْعُوا اللهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ } [النساء: 59].

ژباړه: ای مؤمنانو د الله عزوجل خبره ومنئ، د هغه د رسول ﷺ خبره ومنئ، او هم د خپلو مشرانو خبره ومنئ. په مونږ کې څومره ډېرې شته چې د خپل خاوند ژوند یې راتنګ کړی؛ ځکه هغه د یوې نه زیاتې ښځې کول غواړي او دغه سنت را ژوندی کول غواړي، چې د امت لپاره پکې ډېر خیر پروت دی، خو دا خور خاوند تنګوي اګر چې الله عزوجل فرمایي: { یا أیها الذین آمنوا ادخلوا في السلم کافة ولا تتبعوا خطوات الشیطان إنه لکم عدو مبین} [البقرة: ٢٠٨]،

ژباړه: ای مومنانو: تاسې په اسلام کې پوره داخل شئ! او د شیطان په لارو پسې مه ځئ ځکه هغه ستاسې دښمن دی.

په مونږ کې ډېرې داسې دي چې د شیطان سره یې په دې کې مرسته کړې چې د خپل خاوند او بلې ښځې ترمنځ اړیکې سره خرابې کړي، ځکه چې دېته زیات غیرت ورځي، آیا مونږ د الله عزوجل دغه وینا هېره کړې چې فرمایي:

{ من یشفع شفاعة حسنة یکن له نصیب منها ومن یشفع شفاعة سیئة یکن له کفل منها وکان الله علی کل شيء مقیتا} [النساء: 85]،

ژباړه: څوک چې نیک سفارش وکړي د هغه به پکې حصه وي او څوک چې بد سفارش وکړي نو د هغه به پکې حصه وي او الله عزوجل په هر څه حاضر او ګواه دی.

په مونږ کې ډېرې یواځې په دې غم کې دي چې څرنګه د کور نه بهر ولاړې شي او چکرې ووهي، سره له دې چې الله عزوجل فرمایي: { وقرن في بیوتکن ولا تبرجن تبرج الجاهلیة الأولی } [الأحزاب 33]

ای زما ګرانو خویندو الله عزوجل غني ذات دی؛ مونږ او زمونږ اعمالو ته هېڅ ډول اړتیا نه لري، د هغه لپاره د آسمان او ځمکې خزانې دي، الله عزوجل فرمایي:

{ والله الغني وأنتم الفقراء وإن تتولوا یستبدل قوما غیرکم ثم لا یکونوا أمثالکم} [محمد: 38]،

ژباړه: الله عزوجل غني ذات دی او تاسې فقیران یاست او که وګرځېدئ، نو الله عزوجل به ستاسو په بدل کې نور خلک راولي چې ستاسو په څېر به بیا نه وي.

د الله تعالی دین به یا مونږ یا په بل چا وساتل شي، خو آیا مونږ ولې د همېشه لپاره د اجر په لټه کې نه اوسو؟ باید مونږ دا فرضیات مقرر نه کړو چې زمونږ هجرت قبول دی او باید مونږ په الله عزوجل دا ګمان ونکړو چې مونږ د هغه د "لا إله إلا الله کلیمې د بیرغ لاندې راجمع شوي یو، ځکه د هر فرد په اړه حقیقت د دې ګمان برعکس دی او هغه داسې چې الله عزوجل په مونږ احسان کړی چې دلته یې رارسولي یو او دا د هغه فضل دی چې مونږ یې په ډېر متخلفینو غوره کړي یو او همدغه لوی الله عزوجل مونږ ته دا ځواک راکړ چې مونږ د اسلامي دولت په مرسته کې هلې ځلې وکړو، نو دا د الله عزوجل فضل دی چې مونږ ته یې هدایت وکړ او د دې توفیق یې راکړ چې مونږ په دغې لاره د هغه په فضل او رحمت روان شو، نو حقیقت دا دی چې الله عزوجل په مونږ ډېر فضل کړی نو باید د خپل توان سره سم د هغه شکر اداء کړو ترڅو مو په بل چا بدل نه کړي او زمونږ څخه راضي شي او په سمه لاره مو کلک کړي، اګر چې د الله عزوجل لایق شکر اداء کول ممکن نه دی.

آیا مونږ هغه حدیث له یاده باسلی چې بخاري او مسلم د ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «ای د ښځو

ټولیه تاسې خیراتونه کوئ ځکه ما تاسې په جهنم کې ډېرې زیاتې لیدلې یاست» هغوی وویل: ای رسول الله په څه لامل؟ هغه وفرمایل: «ځکه چې تاسې لعنتونه ډېر وایاست او د خپل خاوند ډېره ناشکري کوئ».

ای زما ګرانو خویندو؛ کله چې زموږ ورونه خپل روحونه د الله عزوجل په لاره کې قرباني‌وي، موږ ولې خپلې ژبې د الله عزوجل په ذکر نه لوندوو، کله چې هغوی د کفري ټوالې سره مخ کیږي نو موږ ولې د شپې خپل رب ته اوږدي سجدې نه ردو؟ کله چې هغوی خپل محبوبین تر شا پرېږدي او خپلې قرباني وړاندې کوي موږ ولې د خپل خواهش قرباني نه ورکوو چې روژه ونیسو او په خپلو شهواتو او ژبو کنټرول وکړو؟

الله سبحانه وتعالی فرمایي: { ألم يأن للذين آمنوا أن تخشع قلوبهم لذكرلله وما نزل من الحق ولا يكونوا كالذين أوتوا الكتاب من قبل فطال عليهم الأمد فقست قلوبهم وكثير منهم فاسقون} [الحديد: 16].

ژباړه: آیا په مؤمنانو وخت نه دی راغلی چې د الله عزوجل ذکر او هغه څه ته نرم شي چې الله عزوجل رانازل کړي دي او د هغو اهل کتابو په څېر نه شي چې زمانه پرې اوږده شوه او زړونه یې سخت شول او په هغوی کې ډېر فاسقان وو.

دا وخت راغلی چې موږ خپل زړونه پاک کړو، په خپلو عملونو کې سوچ وکړو او هر هغه څه د خپل زړه څخه لرې کړو چې زموږ پاملرنه ځان ته را اړوي او موږ له خپل هدفه ستنوي، باید موږ الله عزوجل ته په توبه راستانه شو، ګناهونه پرېږدو، پښېماني ښکاره کړو او د الله عزوجل سره وعده وکړو چې بیا به دغه ګناه نه کوو، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

{ قل يا عبادي الذين أسرفوا على أنفسهم لا تقنطوا من رحمة الله إن الله يغفر الذنوب جميعا إنه هو الغفور الرحيم } [الزمر 53]

ژباړه: زما هغو بندګانو ته ووایه چې په خپل ځان یې د ګناهونو زیاتی کړی؛ تاسې د الله عزوجل د رحمت څخه مه نا امیده کېږئ، الله عزوجل ټول ګناهونه ښښي، یقینا الله عزوجل ښښونکی مهربان دی، په موږ لازم دي، چې د الله عزوجل څخه د هغه نصرت او هدایت وغواړو، ځکه الله عزوجل هغه یواځینی ذات دی چې مرسته کوي او نصرت ورکوي، فرمایي:

{ إن ينصركم الله فلا غالب لكم وإن يخذلكم فمن ذا الذي ينصركم من بعده وعلى الله فليتوكل المؤمنون } [آل عمران: 160]

ژباړه: که الله عزوجل ستاسې مرسته وکړي نو بیا درباندې څوک نشي برلاسی کېدی او که هغه مو مرسته پرېږدي، نو بیا به درسره څوک مرسته وکړي د هغه نه وروسته؟ په الله عزوجل دې مؤمنان توکل وکړي.

موږ باید د هغو میرمنو په څېر شو چې په خپل رول پوهېږي او هغه یې په ښه توګه اداء کاوه، ځکه خو ای ګرانې خور ستا د مجاهد خاوند سره مرسته کول د جهاد په خاوره ستا له مهم رولونو او وظایفو څخه دی، په دې اړه موږ د تاکید په باب زیاتی نه کوو خو دومره درته وایو چې باید ستا کور د هغه د راحت ځای شي نه د شکایت کور، دغه کور د هغه د جهاد د ځواک د راجمع کېدو ځاله کړه، د خپل خاوند نه د هغه ټول ځواک مه راکش کوه، خپل غمونه یوې خواته کړه او د خاوند حاجتونو ته لومړیتوب ورکړه، په کور کې د هغه د وجود قدر وکړه او چې کله نه وي نو د هغه په فراق صبر وکړه، ځکه هغه د دار الکفر په څېر په کوم تجارت یا وظیفه کې مشغول نه دی، بلکې د الله عزوجل په لاره کې جهاد او د لوی الله عزوجل د دین خدمت کوي، نو کوښښ وکړه چې خپل مشکلات د توان مطابق له هغه پټ کړې ترڅو د جنګ په ډګر کې د هغه لپاره فتنه ونه ګرځې او د خپل توان مطابق د هغه خدمت وکړه، د الله عزوجل په احسان او فضل به ته د هغې اجر ومومې ان شاء الله، ابن ابي الدنيا د جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت کوي وایي: (موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، یوه ښځه راغله او ویې ویل: ای د الله عزوجل پیغمبره زه تاته د ښځو استازې یم؛ ای د الله عزوجل رسوله د سړو او ښځو رب یو الله عزوجل دی، آدم د سړو او ښځو په ګډه پلار دی، حواء د سړو او ښځو په ګډه مور ده، ته الله عزوجل سړو او ښځو ته په ګډه راستولی یې، خو سړي چې جهاد ته ولاړ شي او ووژل شي نو هغوی د الله عزوجل په نیز ژوندي دي رزق ورکولی شي، کله چې هغوی د الله عزوجل په لاره کې ووځي نو د هغوی لپاره دومره اجر دی چې تاته معلوم دی، خو موږ د هغوی خدمت کوو او خپل نفسونه د هغوی لپاره بندوو، زموږ لپاره څه اجر دی؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: په ښځو زما سلام ووایه او ورته ووایه: د خاوند خبره منل د دغې ټولو سره برابره ده، خو په تاسې کې ډېرې کمې دغه کار کوي). [النفقة على العيال].

همدا ډول باید موږ په عائشه رضي الله عنها پسې اقتداء وکړو؛ کومې ته چې الله عزوجل پوره عقل او عجیبه ذاکره ورکړې وه، چې د هغې په ترڅ کې یې موږ ته پوره برخه احادیث رانقل کړل، تردې چې زموږ اسلامي کتابتون به هله پوره شي ترڅو د هغې علم پکې ځای ونیسي، همدا ډول په موږ لازم دي چې د ټولو امهات المومنین اقتداء وکړو او هم د هغو مسلمانو میرمنو چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم چاپېره وې.

د دې ترڅنګ ګرانو خویندو باید موږ ټول لوی او واړه ګناهونه پرېږدو، د خپلو ګناهونو له اثره په ویره کې شو، موږ باید په تشو امیدونو او هیلو ژوند ونه کړو، ځکه موږ سره دا ضمانت نشته چې زموږ اعمال به قبول وي او نه راسره دا زیری شته چې موږ جنتیانې یو، موږ ته په کار دي چې فرض عملونه د احسان په درجه کې وکړو او همېشه په نفلي اعمالو کې کوښښ وکړو.



نو ای خویندو باید موږ خپل نیتونه تازه کړو، ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایي: (یقینا د عملونو دارو مدار په نیت پورې دی او د هر سړي لپاره هغه څه دي چې نیت یې ورته کړی وي) [رواه البخاري ومسلم]

د نن نه پس باید موږ په خدیجه رضي الله عنه پسې اقتداء وکړو، کومې ته چې الله عزوجل سلام راستولی ؤ او په جنت کې یې د یو کور زیری ورکړی ؤ، دا په دې خاطر چې هغې سمدستي ایمان راوړ او بیا یې د خپل خاوند رسول الله صلى الله علیه وسلم کلکه مرسته وکړه.

په پای کې درته دا یادونه کوم چې باید مونږ دنیا او د هغې ښایست طلاق کړو، باید د مشکلاتو او ازموینو درد مونږ د ایمان په خوند سره بدل کړو او هغه داسې چې مونږ باید وساتو چې دغه درد مونږ الله عزوجل ته نږدې کوي، نو بیا به دغه درد څومره خوندور وي! په موږ کې دې داسې ښځې هم وي چې هغوی د جنګ څخه بغیر له شهادته د خپل میړه او بچو په راستنېدو خفه شي.

نو په بهادری ولاړې شئ! په دې جګړه کې قرباني ورکړئ، لکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې نیکو میرمنو ورکړې وه، هغوی دغه کار په دې خاطر نه کاوه چې سړي نه وو خو هغوی د جهاد او د الله عزوجل په لاره کې د جهاد، قربانۍ او جنت سره مینه وه، په دغو میرمنو کې یوه هم ام عماره نسیبه بنت کعب الانصاریه وه، ذهبي رحمه الله نقل کوي چې هغه احد، حدیبیة، حنین او د یمامې په جګړه کې شریکه وه، هغې به په ډېر شجاعت سره جنګ کاوه، هغې یو لاس هم د الله عزوجل په لاره کې قربان کړی و، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې په اړه ویلي وو: « نن ورځ د نسیبه مقام د فلاني او فلاني د مقام څخه بهتر وو» [سیر أعلام النبلاء].

نو اوس باید مونږ د دغو نیکو میرمنو په پرتله خپل ځان ته وګورو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به زمونږ په اړه څه وایي؟

مقابله په خپل وروستي پړاو کې ده نو زما ګرانې خور خپل کوښښ جاري وساته اګر که مشکلات وي، له الله عزوجل مرسته غواړه او پرې یقین ساته، د هغه په لاره کې په هر مشکل صبر کوه، ځکه الله عزوجل د صابرینو سره دی، (إن الله مع الصابرين) [الأنفال 46].

د الله عزوجل د رضا په ترلاسه کولو کې جذبه ناکه اوسه، او د الله عزوجل په لاره کې د هر قیمتي او ګران بیه څیز قربانۍ ته تیاره اوسه، په دې سره به ستا زړه د الله عزوجل پرته د هر څه د تعلق نه پاک وي، په همدغه مقصد پسې مونږ راغلي هم یو، نو باید مونږ الله عزوجل ته خپل رحلت مکمل کړو.

ګرانې خورې نیکو اعمالو ته مخه کړه او خپل امید د هغې په قبولتیا کې وګرځوه، او د دوه نیکو پایلو څخه د یوې په طمعه اوسه، یا کامیابي او یا شهادت.

خپلې خبرې د الله عزوجل په دغو پوره کلماتو پای ته رسوم چې فرمایي: {وجاهدوا في الله حق جهاده هو اجتباكم وما جعل عليكم في الدين من حرج ملة أبيكم إبراهيم هو سماكم المسلمين من قبل وفي هذا ليكون الرسول شهيدا عليكم وتكونوا شهداء على الناس فأقيموا الصلاة وآتوا الزكاة واعتصموا بالله هو مولاكم فنعم المولى ونعم النصير} [الحج 78]، د الله عزوجل په لاره کې حقه جهاد وکړئ، هغه تاسې غوره کړې یاست، په تاسې یې په دین کې کومه تنګي نه ده راوستې، ستاسې د پلار ابراهیم علیه السلام دین دی، همغه تاسې مسلمانان نومولي یاست، مخکې هم او په دې کتاب کې هم، ترڅو پیغمبر په تاسې ګواه شي او تاسو بیا په خلکو ګواه شئ، نو د لمونځ پابندي وکړئ او زکات ورکړئ په الله عزوجل پوري ځان خلاص کړئ، الله عزوجل ستاسې دوست او مولا دی هغه ډېر ښه مولا او مرستندوی دی.

طالبان د کفري استخباراتو نیابتي جګړه ماران ۲

د خرآسان غږ مجلې درنو لوستونکو!
تاسې (طالبان د کفري استخباراتو نیابتي جګړه ماران) مقالې په لومړۍ برخه کې چې د مجلې په تېره ګڼه کې خپره شوه، د طالب ملېشو او د ایران د رافضي مشرک حکومت سره روابطو په اړه هر اړخیز بحث ولوست، د مقالې په دې دویمه برخه کې د طالبانو او د پاکستان د مرتد نظام په دوستۍ، د دوی ترمنځ د باداریٔ او غلامۍ په اړیکو لنډ بحث کوو بفضل لله.

پاکستان او طالبان:

د پاکستان او طالبانو یارانه لکه د لیلا او مجنون د یارانې په څېر په ډېرو خوږو کېسو او نه ماتېدونکو اړیکو مشهوره ده، که سره خفه هم شي نو دا یې خفګان نه بلکې په یو بل ناز وي...
پاکستان د افغانستان په ټولو امورو کې مداخله کړې او کوي یې، کله هم چې افغانستان کې یوه واقعه رامنځ ته شوې، نو شاته یې د پاکستان د استختباراتو نجس لاسونه دي.
د طالبانو اول ځل حکومت کې به هم سهار او ماښام د پاکستان دیپلوماتان، جاسوسان، خبریالان او علماء سوء راروان وو، او هغه مهال چې په کندهار کې د ملا عمر د دفتر تر څنګ دوی ته کوم خاص مرکز ورکول شوی وو نو هغه بیا د افغانستان ارګ ګڼل کېده او له همغه ځایه د طالبانو او د ټول افغانستان اړوند پرېکړې پاکستاني ایجنټانو کولې.
کله چې اول ځل طالبانو هرات ونیوه، نو په همدې اعتراض چې پاکستان د طالبانو مستقیم حمایت کوي، د رباني د حکومت پلویانو کابل کې مظاهره وکړه او د پاکستان سفارت ته یې اور واچاوه، چې له دې وروسته بیا د پاکستان روابط د رباني د حکومت سره قطعه شول او طالبانو سره یې بیا خپل تعلقات علني او ښکاره کړل او بیا به یې هیئتونو په شکل جاسوسان ښکاره او مخفي طالبانو ته تلل راتلل.
عجیبه لا دا چې طالبان هم اول ځل او هم دویم ځل په داسې افتخار دا روابط ذکر کوي، چې فکر کوې اوس به د قرآن کریم کوم آیت لولي، داسې په خوند ورته غاړه تازه کړي او بیا د پاکستان نوم واخلي چې سړی حیران شي.
د طالبانو لومړنی ویاند عبدالحی مطمئن وایي چې زمونږ روابط د پاکستان سره دومره پیاوړي وو، چې پاکستان د طالبانو لپاره یواځېنی کومکي هیواد وه، زخمیان به مو هلته تداوي کول او سلګونه کسان به د هغه خوا څخه د جنګ بهیر ته راتلل، لکه د دوی خپله اعتراف دی چې سپاه صحابه، حزب المجاهدین، البدر او حرکة المجاهدین رضا کاران، دا ډلو مستقیم د طالبانو صف کې جګړه کوله.
او بیا وایي مونږ د پاکستان سیاسي او دیپلوماتیکو روابطو ته د خپلې واکمنۍ پرمهال سخت محتاج وو، خو پاکستان بیا په دې روابطو کې خپل اهداف درلودل، نو دا کوم تهمت نه دی بلکې د دوی د رسمي مراجعو خبرې دي.
کله چې په نوازشریف باندې پوځ کودتا وکړه او مشرف واکمن شو،

نو طالبانو د ملا محمد عمر په نوم رسمي بیانیه ورکړه، چې په بیانیه کې راغلي و: د افغانستان حکومت او خلک په پاکستان کې امن، سوله او ټینګښت او یو پایدار حکومت غواړي، د پوځ لخوا پرونۍ کودتا د پاکستان خپله کورنۍ مسئله ده او له دې هیواد سره د ځینو بهرنیو کړیو د یو لړ هغه حرکتونو په وړاندې غبرګون دی چې د پاکستان د ولس، پوځ او پارلماني حکومت د غرور او خپلواکۍ پرضد یې ترسره کوي.

دا د طالبانو د پاکستان د کفري نظام د قبولیت اعلان و.

دوی اوس هم په همدې الفاظو چې دا د هغوی داخلي موضوع ده په دې یې د ټولو مسلمانانو څخه د ځان د خلاصولو او د خپل سر څخه د مسولیت لرې کولو یوه بهانه ګرځولې، که د نړۍ په هر هیواد کې په مسلمانانو هر وحشت کېږي نو همغه وحشیانو ته دلته طالبان ښه راغلاست وایي او هغه وحشتونه چې په مسلمانانو یې ترسره کوي د هغوی داخلي موضوع ګڼي، دوی نور له دې کلمې یو حرف هم مخ ته نه ځي.

د طالبانو په دې اعلامیه کې د جمهوریت، پارلماني نظام تائید او پاکستان د مرتد پوځ په نه خرابېدو د خوشحالۍ اظهار موجود دی چې دا ټول له همغه وخته صریح کفر دی او دا د دې ټول کفر قبلولو کره شواهد ثبوت او اسناد دي چې طالبانو کړي او کوي یې.

عجیبه دا ده چې په یوه طرف رسمي بیانیه کې وایي مونږ د پاکستان د حکومت په داخلي چارو کې مداخله نه کوو، بل طرف بیا پرویز مشرف ته ملا محمد عمر د شریعت تطبیق لپاره خط ورلېږي او ورته وایي چې اوس ته واکمن شوی بس شریعت تطبیق کړه.

خبر نه دی چې هغه رزیل د امریکا ایجنټ وو، او خپله یې کلمه هم یاده نه وه، خو ملا عمر ورته داسې خبرې کوي که چرته مشرف دا خبره تش په خوله منلې وای نو هغه مهال به طالبانو هم لکه اخوانیانو چې مرتد اردوغان ته د خلیفه لقب ورکړی نو دوی به هم مشرف ته د پاکستان امیرالمومنین نوم ورکړی وای.

خو هغه چاته چې طالب د شریعت د تطبیق وړاندیز کولو او کودتا باندې خوشحالي کوله، همغوی ورته د لستوني ماران شول او طالبان یې څه هغه وخت بربنډ په امریکایانو خرڅ کړل او څه یې د سیاست په لوبو کې وپلورل.

همداسې څه وخت مخکې به تاسو لیدلي وي چې ملا محسن آخند هم د شهباز شریف ته د هغه انتخاب کېدل مبارک باد وویل چې د مبارک باد ویلو سره ملا حسن او ورسره نور لغړو یې د پاکستان همجنس باز حکومت ته رضایت وښودلو او ټولو کفریاتو باندې یې سترګې پټې کړې.

عبدالحی مطمین چې په خپل کتاب کې ملا محمد عمر باره کې وایي چې د ملا محمد عمر دا مزاج وه چې د هیڅ هیواد په چارو کې مداخله یې نه کوله او د پاکستان علماوو ته یې خاص احترام درلود او خپل دوستان یې ګڼل.

نو طالبانو له پیله، نه عالمي فکر کړی او نه یې کوي او نه یې هم څوک دې فکر ته پرېږدي، نو د دوی جګړه له لومړي سره د قومیت او وطنیت د مردارو عقایدو له خوسا ډنډ څخه څړوبیده، دوی له همغه وخته په قومیت او وطنیت سرونه ورکول،

او د پاکستان له پخوا څخه دا پالیسي ده او خپل ځانته دا حق ورکوي چې که هره ډله په افغانستان کې نظامي فوځ ولري باید رهبري یې د آی ایس آی په لاس کې وي، تاسې لړ د روسانو د مقاومت پر مهال حالاتو ته زیر شئ او له هغې راوروسته چې بیا د سیاف، رباني، مسعود، ګلبدین او نورو مرتدینو ترمنځ کوم داخلي جنګونه روان وو، نو دا ټول همغه مهال هم په پاکستان کې پراته وو، هلته یې یو بل سره ملاقاتونه کول او یو بل ته میلمستیاوې کولې، او دلته به افغانستان کې بیا د یو بل قتل عام کاوه.

د طالبانو او پاکستان روابط او اړیکې له هیچا پټې نه دي، خو یوه عجیبه خبره دا ده چې طالبان بیا په همدې روابطو فخر هم کوي، خوشحاله پرې هم دي او هیڅ برائت ترې نه کوي، کله چې جنرال حمیدګل مردار شو نو اختر منصور پاکستان مرتد پوځ ته د تعزیت پیغام نشر وکړو چې د نورو چټیاتو تر څنګ راغلي وو چې د جنرال حمید ګل مرګ موږ ته د ملا عمر د مرګ په څېر سخت تمام شو، د جنرال حمید په مرګ دومره وردردېدو لکه څومره چې د ملا عمر په مرګ دردېدلي وو، د ملا عمر په مرګ زموږ یو مټ فلج شو او د جنرال حمید په مرګ مو بل مټ پرې شو . او داسې خبرو کې دوی په رښتیا وو ځکه جنرال حمید ګل د طالبانو غمخوار پلار وه.

نو د طالبانو او د آی ایس آی اړیکې له پخوا څخه ډېرې مظبوطې دي، او دا اړیکې د بین الملل د قوانینو په استناد د دوه هیوادونو ترمنځ د اړیکو په چوکاټ کې هم اوس نه دي بندې، بلکې د طالب او پاکستان اړیکې د امېر او مامور اړیکې دي، افغانستان اوس د پاکستان پنځمه صوبه ده، او سفیر یې لکه صوبایي ګورنر دلته د افغانستان ټولې چارې تنظیموي، ملا هیبت او محمد احسن هسې سمبولونه دي..

حال دا چې مرتد حمیدګل ټول افغانان پېژني چې د ټول اسلامي امت خائن او په ځانګړې ډول د مسلمانانو افغانانو قاتل او یو وحشي درنده صفته خبیث و.

د دغه مرتد جنرال ماموریت همدا و چې د اسلام په نامه په هغه مهال راپورته شویو تنظیمونو کې نفوذ وکړي د هغوی مهار په خپل لاس کې واخلي او د اسلام، جهاد، مجاهد له نومونو او ارزښتونو څخه یې د پاکستان د طاغوتي نظام په ګټه او د اسلام د بدنامۍ لپاره کار واخیست.

مجاهدینو ورونو!

د طالبانو واکمن کول او بیرته هغه مهال د صحنې څخه ویستل او شړل دا ټول کار پاکستان هغه مهال د آی آیس آی د دغه جنرال له طریقه وکړ. همداسې جمهوریت سره د خبرو پرمهال د خبرو اصلي طرف طالبان نه بلکې پاکستان و، طالب مشران به چې له خبرو فارغ شول امریکایانو به خپلو مشرانو ته رجوع وکړه او طالب مشران به پاکستان ته ستانه شول

هلته به يې د اي آيس آي جنرالانو ته ګذارش ورکړ هغوی به ورته نوي پلان او د خبرو اړوند نوي شرائط او اصول ورکړل، له غوړونو به يې ورته لارې تاو کړې او مخ په قطر به يې ورمرش کړل.

ورونو !

کله چې هغه وخت امريکا دا اراده وکړه چې طالبان ختم کړي نو بيا هم همدې پاکستان سره مشوره وکړه، پاکستان هغه وخت طالبان او د دوی دا سمبوليک نظام امريکايانو سره معامله کړ، امريکايانو ته يې هډې ورکړې او بيا يې زمينې لارې هم ورکړې او طالبان يې له يوه لورې راټنګ کړل او بل لور يې ورته بيا په خپل تربيت سنټرونه فعال کړل، هغه مهال چې کوم طالب مشران د آينده پروژې په تطبيق کې ښه نه ځليدل او کار ترې نه شو اخستل کيدای نو هغه يې ځينې خپلو پټو روزنځايونو ته د زندان په نوم داخل کړل او ځينې يې بربنډ په امريکايانو وپلورل او هغوی يې بيا تربيت وکړ، او دادی اوس چې طالبان د خپلو ايمانونو، غيرتونو او اسلامي ارزښتونو په سودا کولو سره د کابل ګدۍ ورته وسپارل شوه نو د دې اعتراف هم پاکستان کوي چې دا کار موږ وکړ او طالبان مو د مذاکرې ميز ته کينول، دا همغه مشران وو چې د دوی ذهنيت سازي د زندان په نامه د پاکستان په روزنځايونو کې شوې وه او کله چې امريکا ټلله نو ټول نظامي تجهيزات يې پاکستان ته وسپارل.

امريکايان او پاکستان په دې مطمئن دي، چې د اسلامي خلافت مجاهدين به لومړې په افغانستان ولکه ټينګوي نو طالبانو ته يې شاته يو قطعه يې منتظره ځواک او تجهيزات پاکستان کې تيار ساتلي، کله چې اسلامي دولت په خرآسان کې بيا تمکين ترلاسه کوي او طالبان يې په وړاندې بې وسه او مات شي نو تاسې به بيا وګورئ چې امريکايان به بيا د دوی د حمايې لپاره فقط په طيارو کې راځي نور ټول وسايل يې تيار په پاکستان کې شته په همغه ټانکونو او دلته طالب ته په سپارل شويو نورو وسايلو به طالب سره يو ځای مجهز د اسلامي دولت جنګ ته امريکا يو ځل بيا راکېوزي که څه هم اوس يې د اسلامي خلافت سره نيابتي ملېشې طالب مرتدين په جګړه بوخت دي..

امريکايانو چې طالبانو سره د کومو اهدافو لپاره مذاکرات شروع کړل نو امريکا يوه فايده وکړه او امت مسلمه ته يو لوی تاوان ورسيد، هغه دا چې امريکا د خلافت مقابل کې يو مفت پوځ پيدا کړ، اما عوامو مسلمانانو ته يې په دې سره د جهاد حېثيت بې باوره کړ، ځکه د طالبانو دې لوبو ته په کتلو ډېرى عوام اوس په دې فکر کې دي چې دا دې طالبان هم له شل کلن جنګ څخه وروسته د امريکا د ګټو لپاره ځان وژني، د شريعت په نوم راپورته شوې طالب ملېشې چې د همدې اولس په وينو او قربانيو يې معامله وکړه اوس نو د امريکايي اسلام د تطبيق په کوشش کې دي، نو عوام فکر کوي چې د ټولو جهادونو ثمره به همدا استخبارات اخلي، که څه هم اسلامي دولت په خپل عمل د خپل روښانه منهج د تطبيق ثبوتونه وړاندې کوي خو ډېرى له جهاد څخه ناست خلک ځانته دا پلمه ګوري چې طالبان د امريکا خلک وختل ممکن د اسلامي خلافت مجاهدين هم آينده کې په داسې مسير روان شي، خو نه هيڅ کله داسې نه ده موږ مخکې توضيحات ورکړل چې د طالبانو اساس کوږ وو، د دوی په عقيده مبارزه او فکر کې له پيله فساد موجود وو، ځکه يې انجام همدا شو.

البته مجاهدينو ورونو! دا يو تريخ حقيقت دی چې د افغانانو ذهن په دې تېرو انقلابونو کې داسې جوړ شوی چې خارجي ورته کافر ښکاري خو د همدغه خارجي ساتونکي او د دوی د پلانونو تطبيقونکي بيا مرتد نه ګڼي هغه ورته افغان ورونه ښکاري، ډېرى يې د وطنيت په ګمراه عقيده روزل شوي، دوی جهاد همدې ته وايي چې که چا دې د بين الملل له لوري د درکول شوې خاورې په حدودو يرغل وکړ د دوی په خلاف جګړه فرض ده جهاد دی، د وطنيت د عقيدې په بنياد فقط د خپل وطن څخه د خاريجيانو ويستل جهاد ګڼي نور نو د اسلامي نظام او ټول عالم اسلام د اشغال شوې او اسلامي امت په کېسه کې نه وي، د دوی ذهنونه همداسې جوړ شوي، ځکه نو طالب مرتدينو سره هم دا په آسانه مني چې بس امريکا ووتله دا چې په څه ډول ووتله هغه دوی ته مهمه نه ده، فقط دوی ته د امريکا ظاهري وتل ښکاري خو هغه چې امريکا دلته کوم ماموريت لري، کوم اهداف لري او څوک يې ورته اوس تطبيقوي نو هغې پسې سر نه ګرځوي.

او دا کار هم پاکستان په ډېر مهارت ترسره کړی، دوی طالبانو ته هم په تربيت کې دا نه ده ورښودلې چې افغان پوځ ته مرتد ووايي ځکه د مرتد په نښو کې او په اعمالو کې خو بيا سره د پاکستان او افغانستان پوځ کوم فرق نه لري، او که طالب ملېشو ته د مرتد احکامو وښايي او مرتدين په پوره مانا وروپېژني نو بيا خو پوهېږي چې د دوی له مشرانو غټ مرتدين نور چېرته دي او د پاکستان له مرتد نظام به ستر مرتد نظام بل چېرته وي، ځکه يې نو په طالبانو دا منلې

وه چې حتی په خبرو کې به یې هم مرتد نه ګڼي بلکې مزدور او اجیر به ورته وایي.

فقط یهود او نصارا ورته کافر او د الله عزوجل دښمنان معرفي شوي، باقي نو په جمهوریت، سیکولریزم او دیموکراسۍ یې سرونه نه خلاصوي چې دا هم کفر دی او دوی یې علني عملي حامیان او ساتونکي دي، حتی روافض هم ورته مرتدین نه ښکاري، په رافضي مشرکینو چې عملیات وشي بیا وایي عام مسلمانان ووژل شول.

البته انګرایزانو د پاکستان په وساطت همدې فکر ته په پراخه کچه کار کړی، د دوی د همدغه فکر د تاسیس لپاره یې ډېره سرمایه ګذاري کړې ده، د طاغوتي نظامونو منل، او د وطنیت په لیکو کې د وطنیت د ګمراه او کفري عقیدې په منلو سره د وطن څخه دفاع او ټول وطني ارزښتونه او قومي شعارونه منل او تطبیقول، مرتد ته مرتد نه ویل او دیموکراتیکو نظامونو سره کار کول او داسې نور فکرونه خورول په ډېر مهارت او هنر د ای آیس آی په لوبو کې شامل دي، تاسې یې عملي ګورئ چې پاکستان دې هم هلته او هم په افغانستان کې د بریلویت او صوفیت ګمراه عقیدې او فکر ته په پراخه کچه کار روان کړی او کوشش یې دا دی چې د حنفیت په نوم بریلویت او صوفیت عام کړي، د دوی لپاره یې د مدارسو په نوم ستر روزنځایونه جوړ کړي چې هر کال ترې لکه د فارمي چرګانو په څېر سپینې چرګې راوځي نور د اسلام په حقیقي شکل خبر نه دي همدوی دي چې د همدغه طاغوتي او کفري نظامونو څخه د وطنیت په دآیره کې حمایه او ملاتړ کوي او د اسلامي خلافت سره سرسخته دښمني کوي، او همدغه ټول یې بیا د طالب مرتدینو بې معاشه لښکر دی.

پاکستان چې د انګلیس سکنی بچی دی، په دې برخه کې یې ډېره بنیادي زمینه سازي کړې ده، په پاکستان کې هم او په افغانستان کې هم د دغه ډلو د پراخوالي او نفوذ لپاره په ډېره لوړه کچه کار روان دی، تر څو د توحید د سپېڅلو لارویانو مقابله د دې فکر په ګمراه لارویانو وکړي، قطر او ترکیه هم د دغه دوه منحرفو افکارو روزنځای او بنیادي او اساسي هډې دي ځکه نو طالب ملېشو سره د دغه دواړو هیوادونو خواخوږي او همکاري زیاته ده، وجه همدا ده چې د اسلامي خلافت په خلاف د جګړې د ډګر د ګرم او دوامداره ساتلو په هدف دوی په شریکه د دغه فکر د پراخېدو لپاره مبارزه کوي، امریکا هم د صوفییزم د ودې لپاره په پراخه کچه کار کوي، تاسې به یو وخت له امریکا غږ څخه د صوفیت د نشر او اشاعت په اړه یوه خپرونه اوریدلې وي چې د یوه راډیو څخه خپریده، په دغه خپرونه کې یې مشهور صوفیان میلمانه کول او د تصوف په تبلیغ او دعوت یې پوره دوه ساعته خپرونه کوله، نو دوی ته په نړیواله کچه د دعوت او نفوذ د پراخوالي زمینه سازي د همدې هدف لپاره ده چې کفار د تش په نوم د اسلام او د دغه ګمراه مذهب په نامه د جوړو شویو ډلو په واسطه د اسلامي خلافت مقابله وکړي.

طالبانو سره زمونږ عقیدوي مشکلات دي، حکومت ته راتلل او نه راتلل یې په مجاهدینو کوم اغیز نه کوي، ځکه دوی سره زمونږ جګړه د عقیدې په بنیاد ده دا د شرک او توحید ترمنځ روانه جګړه به همیش جاري وي، که طالبان په واک کې وي او که نه تر څو چې د طالب یا نورو نومونو لاندې د شرک ټغر خور وي زمونږ جګړه به په درسته نړۍ کې روانه وي باذن الله، تر هغه چې دین یواځې د الله متعال لپاره شي.

حکومت کې د طالبانو راتلل د دې باعث شوي دي چې لله الحمد د دوی جګړه مار نور د خپلو مشرانو په خباثتونو پوهه شوي، اوس یې د جګړې روحیه له لاسه ورکړې، د اسلامي خلافت سره د جنګ هیڅ کوم مجوز دلیل نه لري، دوی د جګړې مورال له لاسه ورکړی او تاسې به وینئ چې ډېر ژر به باذن الله دا کلي، غرونه، صحراوې او قریې د اسلامي دولت د عصاباتو د جګړې سنګرونه وي ان شاء الله.

طالب مرتدین په دې پوهه شوي چې اسلامي خلافت یې کفر ټولې نړۍ ته راڅرګند کړ، هغه کفري او شرکي کړنې او اعمال چې دوی د اسلام په نامه ترسره کول او خپل کشرخیل او عوام یې پرې خطا کول د اسلامي دولت داعیانو یې دا پټه څیره رابربنډه کړه او په مدلل او مفصل شکل یې د دوی هر ناقض ټولو خلکو ته واضح کړ، دوی نو اوس وارخطا دي په دې ښه پوهیږي چې نور دوی د جهاد په نامه څوک نه شي تیر ایستلی، د دوی ارتداد اوس ټولو خلکو پیژندلی ځکه یې نو نور دومره کیسه کې نه دي او کوشش یې هم همدا دی چې د همدې ارتداد له لارې خپل واک ته دوام ورکړي.

دوی پوهېدل چې که د حکمتیار په څېر د جمهوري ریاست پسې سترګې راووځي نه شي ترلاسه کولای، ځکه نو طالب ملېشو ته همدا یوه لار پاتې وه چې امریکا، روس، ایران او نور کفارو ته د امنیت او د دیموکراسۍ د تطبیق ډاډ ورکړي په عذر او زارۍ ترې حکومت واخلي د هغوی ټول شرائط یې ومنل لکه مرسي چې څنګه دا کار وکړ او رب ذلیله کړ، دغسې به طالب مشران هم اعدامیږي او ذلیله کیږي باذن الله ..

دوی په دې قانع دي چې لله الحمد آینده د خلافت ده، دوی سره همدا ډار او ویره مله ده، د خپل نظام د ساتنې لپاره هر کافر ته لاس غځوي او په یو ذلت هم اړ نه دي، دوی هغه متعصب خلک دي، چې د خپل قدرت د ساتنې په هدف یې ډېر کرت په کلي کې یو مشر د بل لپاره جاسوس کړی دی، دوی چې د یو کلي په سطحه د چا مشري نه شي زغملای نو په ټوله کې به یې څه وزغمي ..

او دوی په خپلو کې د اختلاف په آخري اوج کې دي، په یو کلي کې یې عادي قومندان یو بل سره په سیالۍ بوخت دي تر دې چې په اسلحو او عرادو کې یو بل سره سیالي او تعصب کوي، نو له وړو مشرانو یې رانیولې تر لوړ پوړو چارواکو یې ترمنځ اختلافات او منفي رقابتونه بیخي زیات شوي چې همدا به یې باذن الله د نړیدو او سقوط لامل کیږي ان

شاء الله.

امریکا سره د دیموکراسۍ تطبیق له ډېره وخته طالب مشرانو منلی وو خو په دوحه کې څوکلن مذاکرات او خبرې یوازې د دوی د کشر خیلو د ذهنیت سازۍ لپاره وې، چې د دوی کشران په دې وپوهیږي چې زموږ مشران خو لګیا دي د یو اسلامي نظام په تطبیق امریکا سره توافق ته رسیږي، همغسې وشول طالب کشرانو ذهنیت سازي وشوه او د امریکا د خوښې اسلامي نظام (!) یې ورکړ هغه نظام چې ټولو کفارو ته په کې امن وي.

هغه نظام چې د ټولو کفارو د سرحداتو ساتنه یې وظیفه وي.

هغه نظام چې د رافضي مشرکینو په شمول د ټولو مشرکانو د سرونو، مالونو، مندرنو، تکیه خانو او درمسالونو ساتنه یې ماموریت وي.

هغه نظام چې د بین الملل په کفري اصولو استواره وي.

هغه نظام چې د وطنیت او قومیت په عقیده ولاړ وي.

هغه نظام چې د امریکا د ډالرو په اونیزو کڅوړو پایيږي.

او هغه نظام ...

او دا حربه هم د آی اس آی ده، ځکه کله چې ملا محمد عمر وفات شو نو دوه کاله یې مخفي کړ او په همدغه مهال آی ایس آی د ملامحمد عمر په نوم او جعلي فرمانونو په امارت کې خپل نفوذي کسان نور هم د مشرانو په حېث وګمارل او څوک چې د دوی د ګټو او فکر لس فیصده هم مخالف وو هغه یې یا عزل او یا ووژل.

اختر منصور چې روابط یې ایران سره ډېر نږدې وو، طیب اغا چې د قطر د دفتر مشر وه، دا کس یې لرې کړ، همداسې نور کسان یې امارت کې د ملا محمد عمر په جعلي فرمانونو لرې کړل، ځان یې حتی د امارت او د ملا محمد عمر نایب معرفي کړ، کله چې د امارت ټول قدرت یې لاس کې واخیست بیا یې د ملا محمد عمر د مرګ خبر افشا کړ، دغه وخت ورته هېڅ ضرر چا نه شو رسولای، ځکه دوه کاله دلته ځهره سازي او شخصیت سازي شوې وه، آی ایس آی د اختر منصور په وساطت په مهمو پوسټونو کې خپل کسان تعیین کړل.

مجاهدینو ورونو!

امریکایانو په طالبانو دا خبره بار، بار امضا کړه چې که غواړئ د افغانستان حکومت ونیسئ او پادشاهي درکړو، نو زموږ د نقشې مطابق یې ترلاسه کولای شئ، موږ چې څه وایو همغسې مخ ته لاړ شئ، د زور له لارې مو دې شل کاله کې کومه توره ونه کړه، په زور یې نه شئ اخستلای، هسې ځان مه خرابوئ.

زور ته څه ضرورت دی، تاسې د دیموکراسۍ کلمه ووایئ، د دیموکراسۍ اصول ومنئ، عملي یې کړئ نو حکومت به همدا ستاسې وي، تاسې په همدې خبرو د دیموکراسۍ دین ته داخلیدای شئ چې ووایئ ملت چې کوم ډول نظام وغواړي موږ همغې ته ژمن یو، اکثریت چې هره پرېکړه وکړه موږ ته د قبول وړ ده، نو دا کلمه ورته ستانکزي تکراري وویله تاسې به هم بار، بار اورېدلې وي، امریکا ورته همدا خبره هغه مهال وکړه چې تاسې اعتراف وکړئ موږ به مو بیا د جمهوریت د مرتدینو سره کینو، تاسې به د ږیرو او پټکیو والا او هغوی به د کل مخونه نیکټايي داره د دیموکراسۍ ساتونکي او پوځ شي، په شریکه به سره نظام راجوړ کړئ موږ ته مهمه نه ده، خو موږ ته بیا دا مهمه ده چې تاسې تکړه شئ چې د اسلامي خلافت د مجاهدینو مخه ونیسئ تر څو درڅخه د دیموکراسۍ جرړې ونه باسي.

مجاهدینو ورونو !

د پاکستان په کفر، اسلام او اسلامي امت سره په خیانتونو کفارو ته په خدمت او وفادارۍ او د دوی په وحشتونو او ظلمونو چې هر څومره بحث وکړو نو دا موضوع نه ختمیږي ځکه د پاکستان خیانتونه او کفر بیخي زیات او بې ساری دی، تاسې د پاکستان د کفر په اړه، د دوی د غدر او خیانتونو په اړه د دوی د اسلام سره د دښمنۍ او بدبینۍ په اړه مدلل او مکمل بحث د خرآسان ولایت څخه د خپاره شوي کتاب (الأدلة الجلیة علی کفر الدولة الباکستانیة) کې لوستلی شئ، په دې هیله چې دا کتاب تاسې مکمل ولولئ او تر نورو یې هم ورسوئ، تاسې به د دې کتاب په مطالعې سره په دې پوهه شئ چې آیا کفارو سره د طالبانو په څېر دوستانه روابط د پاکستان غلامي او بندګي په کار ده او که نه د دې کفري نظام بیخ ویستل په کار دي د خرآسان غږ مجلې درنو لوستونکو ! تاسې د طالب مرتدینو او پاکستاني مرتدینو ترمنځ د هر ډول اړیکو په تړاو هر اړخیز بحث ولوست، د دې مقالې دریمه برخه چې په کې د طالب مرتدینو او د چین د ملحدینو ترمنځ په دوستۍ او اړیکو بحث شوی، د خرآسان غږ مجلې په راتلونکې نولسمه ګڼه کې خپره شي، بعون الله تعالی.

٢ طالبان د پلک او سندان په منځ کې

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! تاسېددې تحلیلي مقالې لومړۍ برخه د خراسان غږ مجلې په اولسمه ګڼه کې ولوسته اوس یې دویمه برخه خپروو .

ورونو!

دباطل پرستو دا عادت وي چې تل ځان په حقه بولي او د ځان د حق ثابتیدو ناکامه هڅه کوي ،لکه مرتد طالبان چې شپه او ورځ همدا کوشش او هڅه کوي چې خپل کفر له خلکو پټ کړي او په ظاهري شکل د اسلامي نظام او مسلمانۍ تمثیل کوي ، دویمه نښه او عادت یې دا دی چې د حق له پلویانو سره یې دښمني ډیره شدیده او ډیره سخته وي نورو خلکو سره به نرمي کوي خو د حق د لارې لارویان هیڅکله نه پریږدي په دښمنۍ کې ورسره دومره سخت او شدید وي چې بل هیڅا سره نه وي، دومره ظلم او وحشت کوي چې بیخي ورته عقل کار پریږدي لکه تاسې اوس د طالب مرتدینو دښمنۍ ته نظر وکړئ چې د اسلامي خلافت مجاهدینو په خلاف په دښمنۍ کې څومره سخت دي ، کفار خو یې هسې هم له یوه مخې ټول دوستان دي خو که ددوی نور مخالفین وي هغوی سره ډیره نرمي کوي خو د اسلامي دولت د مجاهدینو بچي هم وژني زنانه یې اسیرانوي او نور داسې وحشتونه ورسره کوي چې قلم یې له لیکلو عاجز وي ،د باطل پرستو دریم ناکاره او بد عادت دا دی چې دوی ډیر مغروره او متکبره خلک وي ، دوی د خپل کبر او غرور له زوره تل په خپل قوت او امکاناتو نازیږي ټوله تکیه یې په همدې وي چې دوی قوت لري ، د الله عزوجل د مرستې تمه نه لري ،په دې خاطر حق ورته کمزوري ښکاري ، حق ته هیڅکله غاړه نه ږدي، حق ته غاړه ایښودل ورته د ځان توهین ښکاري ، فرعون هم په خپل قوت او زور ډیر مغروره وو، موسی علیه السلام یې په نظر کې هیڅ نه راتللو

،د موسی علیه السلام حرکت ته یې د فساد نوم ورکاوه ، د حق لوري ته دعوت او د الله بندګۍ ته خلک رابلل یې تفرقه بلله چې دوی فساد او نفرت خپروي ، خلک له خپل زوړ مذهب څخه اړوي د پلار او نیکه دین پرې پریږدي موسی نوی دین راوړی .

همدغسې نن هم د فرعون لارویان مرتد طالبان همدا خبرې داسلامي خلافت د مجاهدینو په خلاف کوي .

باطل پرستو ته شیطان خپل باطل اعمال خایسته کوي دوی په کبر او غرور کې راولي په خپلو امکاناتو لاپې وهي ، بریتونه تاووي خو چې کله د عمل میدان راشي نو بیا له یوه بله په شاته منډه کې مخکې کیږي .

الله تعالی فرمایي: وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلاَّ غُرُورًا ﴿120﴾ سورت النساء

ژباړه: خو له دوی سره د شیطان ټولې وعدې له غولولو پرته نور څه نه دي .

الله تعالی فرمایي: وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لاَ غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَإِنِّي جَارٌ لَّكُمْ فَلَمَّا تَرَاءتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَى عَقِبَيْهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكُمْ إِنِّي أَرَى مَا لاَ تَرَوْنَ إِنِّيَ أَخَافُ اللّهَ وَاللّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿48﴾ سورت الأنفال

ژباړه: او هغه وخت در په زړه کړه چې شیطان ددې خلکو په نظر کښې ددې خلکو کړه وړه ښائسته بریښولي وو او دوی ته یې ویلي وو چې نن پر تاسې څوك نه شي بر لاس کیدای او دا چې زه به له تاسې سره یم، خو کله چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې نو هغه په پوندو په شاتاو شو او ویې ویل چې زه ستاسې له ملګرتیا نه بېزاریم، زه هغه څه وینم چې تاسې یې نه وینئ، زه له الله ویریږم او الله ډېر سخت سزا ورکونکی دی.

او څلورم عادت د باطل پرستو دا دی چې همیش مادیاتو باندې حساب کوي او خپل زور او قدرت په مادیاتو کی ویني، خو برعکس د حق ډله بیا همیش د مادیاتو او افرادو لخوا کمزوری وي، خو فولادي ایمانونه د دوی د فتح او کامیابۍ سبب ګرځي.

مجاهدینوورونو!

په داسې حالاتو کې تاسې د دښمن په هیڅ ظلم او وحشت باندی خفه نه شئ ، د هدف څخه شاته نه شئ ، کومه وعده چی الله رب العالمین د موسی علیه السلام سره پوره کړه تاسې سره یې هم پوره کوي، شرط دا دی چې کومه سختي او کوم صبر او استقامت چې موسی علیه السلام تیر کړ تاسې یې هم وزغمئ.

طالبانو ته وایو! چې فرعون هم د خپل قوم سره دوکه کې روان وه او خپل قوم سره یې وفا ونکړه نو تاسې هم د ننني فرعوني امریکا لمن خوشی کړئ تر اوسه یې بار ،بار وویشتلئ، ذلیله یې کړئ، قسما قسم بې وفایي درسره وکړه ، نور نو څه ته ګورئ ، ورته د سوال دا غوړولې لمن مو ترې نوره راټوله کړئ ، راځئ د موسی له لښکرو سره یو ځای شئ چې د نړۍ ټول فرعونان یې په ګونډو کړي باذن الله .

مسلمانانوورونو!

نن دوه خیمې دي (کفر او اسلام) چې د کفر د خیمې مشري امریکا کوي او د اسلام د خیمې مشري خلافت کوي، نو تاسې هم خپل طرف معلوم او د اسلام خیمې طرف راروان شئ، چې دا خیمه نوره هم مظبوطه او قائمه شي .

نن د کفر او اسلام تر منځ ښه توده جګړه روانه ده ، یو طرف د خلافت مجاهدین دي بل طرف د نړۍ ټول کفار، نو تاسې بیا ولی حربي کفارو سره ښکته او پورته کیږئ ، راشه او درشه ورسره کوئ؟

د هغوی ساتنه او حفاظت کوئ ؟

ولې د هغوی په دفاع کې ځانونه وژنئ ؟

دا مو کوم دین او کوم ایمان دی؟

حال دا چې اوس هم د مسلمانانو خویندې او وروڼه همدې کفارو سره په زولنو تړلي اسیران دي، او همداسې د اسلامي امت د ځوانانو د تورو شرنګار ته غوږ په اواز دي چې کله به یې د زندان دا تورې تمبې ورماتوي.

نن امریکا د ټول کفري ملت په سر کې واقع ده او په مقابله کې یوازې اسلامي خلافت واقع دی، هر څوک چې هر طرف ته نېژدېوالی غواړي، نو له هماغه خلکو څخه به حسابیږي او همغوی سره به یې حشر کیږي.

نن امریکا ځان ددې زمانې هبل ګڼي او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم لارویانو ددې هبل د ټوټه کولو لپاره لستوني رابډ وهلي دي ، او د کفر ټولو ګوزارونو ته یې په یوازې ځان خپله سینه سپر ګرځولې، له خپل سپیڅلي دین څخه په خپلو سینو دفاع کوي په دغه دین هر توغول شوی غشی په خپلو سینو دفعه کوي .

هو د نړۍ دا ستر هبل امریکا به د اسلامي دولت د مجاهدینو په لاسونو ټوټې ، ټوټې کیږي خامخا به باذن الله ذلیله کیږي اګر که څو کاله وروسته هم وي .

خو طالبانو ته وایو چې راشئ بس دی همدومره ذلت مو تجربه کړ نور یې بس کړئ ، راځئ د هبل پیروي خوشې او د اسلام کامل اطاعت شروع کړئ .

طالبانو ته وایو تاسې که هر څومره په خوله د آزادۍ نارې وهئ خو ټولې نړۍ ته مالومه ده او دا یو روڼ حقیقت دی چې د امریکا په مشرۍ دې شعار ته تسلیم شوئ (أُعل امریکا) خو د خلافت مجاهدینو شعار ژوندی دی ،چې وایی (الله أعلی و أجل) نو عامو مسلمانانو ته وایو چې کله هم دا شعار اورئ، نو ورسره یوځای شئ. د مجاهدینو له څو ورځې خاموشۍ او سکوت څخه دا تعبیر مه کوئ چې ګویا مجاهدین ختم شول ، نه داسې هیڅکله نه ده ، دادی اوس هم د باقیه نارې د نړۍ هر کونج کې اوریدل کیږي او ورځ تربلې دا قافله پراخیږي ولو که منافقین او مرتدین یې نه غواړي او په دې حالاتو یې زړونه چوي .

له عامو مسلمانانو څخه دا پوښتنه کوو راځئ دا راته ووایي چې په اوسني وخت کې د امریکا سر سخته

مخالفین څوک دي او څوک امریکا سره په جګړه ښکیل دي، څوک یې ګټې زیانمنوي او ددوی د اهدافو په وړاندې ستر خنډ ګرځېدلي؟

که دا پوښتنه ښه واضحه کړو نو داسې به ووایو نن چې د کفري خیمې رهبري امریکا کوي، نو په مقابل کې یې د دوی د اسلام د خیمې مشري د چا په لاس کې ده؟

یو د اسلام او کفر ترمنځ دښمني ده چې دا دایمي دښمني ده او یو د کفر او کفر ترمنځ دښمني وي چې دا موقتي وي، دا هم مخامخ سره نه جنګیږي بلکې دریم لاس په نیابتي شکل د یو بل په وړاندې د ټاکلې نیتې او د ځینې دنیاوي مفادو په خاطر جنګ وي بیرته سره جوړیږي.

خو دا اصل تر قیامته پورې ثابت او قایم دی، چې کفر او اسلام سره دښمني لري که کفر دښمني ونکړي هم اسلام باید کفر سره دښمني وکړي، ځکه دلته دښمني د عقیدې ده او کفار باید اسلامي عقیدې ته غاړه کیږدي.

راځو بیا خپلې پوښتنې ته هغه دا چې نن امریکا سره چې د کفر مشري کوي، څوک د اسلام په نوم حقیقي دښمنۍ کې واقع دي؟

ځکه کله هم چې د کفر او اسلام تر منځ د دښمنۍ اعلان وشو، نو بیا ورسره راشه، درشه، داسې بنډارونه، یو بل سره پټ او ښکاره مجلسونه، خنداوې او خوراکونه، هفته وارې د میلوني ډالرو د کڅوړو کومکونه داسې د دوستۍ دایمي او تل پاتې تړونونه نه شته، بیا نو فقط قتال به جاري وي تر څو کفر په بشپړ ډول وځپل شي او نابود شي.

زموږ په عرف او رواج کې هم د دوستۍ او دښمنۍ نښې، معیارونه او حرکتونه سره فرق لري او هر یو یې بیل، بیل مالوم او ښکاره دي، اوس چې دوه لوري یو بل سره ښه خوږه دوستي کوي، ښه پخه انډیوالي یې سره شروع کړې وي، راشه، درشه سره کوي، یو بل ته سره استقبال کوي، یو بل ته میلمستیاوې کوي، سره شریک خوراکونه او بنډارونه کوي، خنداوې او مجلسونه کوي، یو بل سره مرستې کوي، د یو بل امنیت ساتي، یو بل ته د ډاډ او امن پیغامونه ورکوي، حتې په خوله هم یو بل ته د دښمن لفظ نه

کاروي او یو بل ته دوستان وایي د یو بل دښمن سره شریک وي یانې د یو دښمن د بل دښمن هم وي او د یو دوست د بل دوست هم وي، په میلونونو ډالري کڅوړې سره هره هفته بخشش کوي، سره شریکې ګټې او شریک اهداف او شریک سیاست ولري نو څه فکر کوئ دا خلک سره دښمنان دي که د یو بل پاخه دوستان؟

نو ددې هر څه باوجود چې اوس بعضې طالبان وایي امریکا زموږ دښمنه ده، نو آیا دا چرته عرف، عادت، شریعت، سیاست، عقل او منطق یې مني؟

نه دا هیڅکله هیچاته د منلو وړ نه ده فقط ړوند او کوڼ طالب یې مني طالبان هم نن سبا د هغه ډیراني چرګانو په څیر دي چې ګنګې خوري او مښوکې څنډي، د امریکا ماموریت او عسکرۍ ته تر دې حده وفادار دي چې که یې هر څومره ځپي، او په دې سر سر یې وهي خو بیا هم ددوی زړه نه بدیږي، هلته تري د هرې میاشتې کاري راپور څه په بدماشۍ غواړي، ورسپارل شوی ماموریت یې د امریکا له لوري ښه دقیق څارل کیږي، چې معمولي ناغیري وکړي نو په سر څپیړه ورکوي.

خو سپین سترګي طالبان بیا هم د خپل غرور او ضد په خره سرچپه سپاره دي او لګیا دي د امریکا د ماتې سندرې زمزمه کوي.

طالبان بیا خپلو بادارانو ته دا خبره هم کوي چې من أشد منا قوة.. او ورته وایي چې موږ ددې توانایي لرو چې کومه خاوره تاسې په واک کې راکړې او ددې خاورې چې کوم حدود تاسې راته تعین کړي دي نو د افغانستان په نامه له همدې خاورې به موږ ساتنه کوو او له دې خاورې به تاسې ته هیڅ ډول ګواښ نه وي دا به تاسې ته د امن ځاله وي، موږ په دې خاوره پوره واک لرو او دا قدرت لرو چې دلته امنیت قایم کړو په دې خاوره له موږ بل ستر قدرت نه شته.

خو موږ طالب مرتدینو ته دا خبره کوو چې هو فرعون هم داخبرې کړې وې، همیش طواغیت د خپلو کافرو بادارانو د اطمینان لپاره همدا خبرې کوي، خو چې فشار وربانډې راشي نو بیا دوه یې خپلې وي دوه نورې په پور اخلي او پښې وباسي.

طالبان هغه ډله ده چې ځانونه یې کفارو سره د دوستۍ په تړونونو د جهنم اهل وګرځول، دوی کفارو او مشرکینو ته د مینې محبت، دوستۍ او ورورولۍ لاسونه ورکوي او په موحدینو یې داسې وحشت او ناتار شروع کړی چې په تېر تاریخ کې یې چرته مثال نه شته، د موحدینو قتل عام یې پیل کړي په صحرایي محکمو کې یې وژني او فکر کوي چې ددوی د حساب کولو ورسره هیڅوک نه شته..

هغه روافض چې د نورو کفري عقایدو د درلودو سربیره قران کریم ته احترام نه لري، صحابه و ته کنځل کوي بیا نو د طالب وجدان څنګه دا مني چې دغه مشرکینو ته ورونه وایي لاس یې په لاس کې ورکړې، ترینه ځاریږي او قربانیږي.

د روافضو مشهور کتاب (فصل الخطاب في إثبات تحریف کتاب رب الأرباب) کې یې لیکلي دي چې قران تحریف شوی دی، په ځانګړې ډول د احزاب د سورت په اړه وایي چې دا د سورت انعام په اندازه دی، په هغه برخه کې چې د علي رضی الله عنه او آل بیت فضیلت راغلی وو دا برخه ترینه عثمان رضی الله عنه لرې کړې ده.

داسې نجسو خلکو ته طالبان نن خپل اسلامي (!) نظام کې چوکۍ او منصب ورکوي د دوی ساتنه کې مصروف دي او دوی سره یې مجالس او خوشحالۍ، غم او خفګان ټول شریک دی او ترمنځ یې سره کوم عقیدوي او فکري واټن نه شته.

د مجاهدینو د قتال اصل او هدف د اسلام د قلم رو پرمختګ وي د اسلامي نظام د حاکمیت پرمختګ وي نه دا چې تش په نوم په یو څو ښارونو او کلیو دې غرب واکمن کړي او فکر کوي چې ما جهاد کړی او ماته یې ثمره حاصله شوه، په کومه فتحه کې چې د الله سبحانه و تعالی دین پرمختګ ونه کړي د الله عزوجل شریعت حاکم نه شي، نو هغه فتحه بیا فتحه نه ده او نه هغه بیا جهاد ګڼل کیداې شي بلکې د واک ترلاسه کولو لپاره سیاسي لوبې دي چې ترسره کیږي..

نو مجاهدینو ورونو تاسې اوس ګورئ، چې د طالب ځان د ټول افغانستان واکمن ګڼي د افغانستان د ارګ په ګدۍ کینول شول، خو دلته ګورئ چې اسلام همغسې په تیاره کې پاتې دی، همغسې د کفر او دیموکراسۍ عروج او اوج دی، نړۍ کې هر طرف مظلوم مسلمانان همداسې د تهدیدونو لاندې خپلې شپې سبا کوي او کفار په مزو کې دي او چکرو کې دي، طالب هم ورته د ښه چکرونو او ښه خوراکونو زمینه مساعده کوي، هر ولایت کې تر ټولو ښه ځای ته یې رهنمایي کوي او هلته ورته امنیت نیسي، په دې نوم چې دا په سیاحت راغلي دي، هو زموږ مسلمان ورور او خور دې د همدې کفارو زندانونو کې د ورځې لس دقیقې لمر نه ګوري،

خو کفار او د طالب باداران دی بیا د طالب په لاس فتح(!) شوي هیواد کې خه سرې سترګې شکته او پورته ګرځي، نو اوس تاسې وواياست يقيني د طالب مبارزه د اسلام لپاره وه که د واک لپاره ؟

ځکه د دوی په اصطلاح ددوی فتحې سره اسلام خو نور هم شاته لاړ، د اسلام په نوم خو دوی صرف نن سبا ډالرې راجمعه کوي او بس.

طالبان چې په ظلم کې د یهودو په ورکړل شوي نقشه مخ ته روان دي او د خپلو همدې اسلافو په قدم باندې قدم ایښودونکي کسان دي، هغوی هم مسلمانان او حتی انبیاء علیه السلام او د هغوی لارویان په قتل رسول، دوی هم عام مسلمانان په ځانګړې ډول د انبیاؤ وارثان موحدین علماء کرام او مجاهدین وژني ،حتی د مهاجرینو لحاظ يې ونکړ او ناحقه یې شهیدان کړل.

ورونو!

ډیر خلک او ډیر تنظیمونه نن امریکا ځانته پره کړي دي،د ټولو سرونه ورته ټیټ دي، یوازې د اسلامي خلافت مجاهدین دي چې دي ډاکو قوم سره یې جګړه روانه ساتلې ددوی هیڅ بدمعاشي او سر زوري نه مني، په هره برخه کې یې د الله په فضل ورسره د جګړې میدان ګرم کړي دی ولله الحمد.

حقیقت دا دي چې امریکا د خپل پلان په اساس له افغانستانه په یوه دروازه ووتله او په بله خه په آرام او اطمنان بیرته راداخله شوه.

هو !

طالبه!

امریکا دې وویستله (!)

امریکا په خپله خوښه په دروازه ووتله او تا بیرته په غلا کړکې خلاصه کړه او بیرته دې زر راداخل کړه چې څوک یې ونه ویني او تاسو اودس مات نه شي، خو داسې نه ده په دې لوبو مو اوس ماشومان هم پوهیږي..

کله چې د امریکا ښکاره راتللو ته هم ستاسې د ټولو ذهنیت سازي وشوه او اوس درباندې د امریکا خلاف خبرې بدې لګیږي، شپه او ورځ امریکا ته په زارو او ننواتو یاستئ ملا بیوقوف مو وریسې قطر ته د سوال ځولی همداسې خوره یوړه چې خیر سفارت مو بیرته راوړئ، راځئ اوس مو هیڅوک مخالفت نه کوي، یو نیم کس مو چې دررسره حساسیت لرلو نو د هغوی د حساسیت ناروغي هم د ډالرو په ټابلیټونو اوس ښه شوي ټول په عیاشیو مست دي نو ښه ډاډه راځئ، سیند یې ورته شوراکړ او غرونه یې ورته غوښه کړل چې مه ډاریږئ موږ مو د امنیت ساتنې ښه پخه تجربه لرو موږ ستاسې د ساتنې لپاره خپلي انتحاري قطعې تیارې آماده ساتلي، بیا به ستاسې څنګ ته هم د اسلامي خلافت مجاهدین درپرینږدو .

هو نن سبا د طالب ټول فکر همدا دی چې حربي امریکا سره خپل وعدې پوره کړي او د هغوی څخه هم همدا تمنا او تمه لري، چې د نړۍ په مسلمانانو هر څه کوئ ستاسې خپل کار دی، مقصد موږ له سترګو مه غورځوئ ،او که نه بیا مجبوره یو چې له لوږې بغاري ووهو.

فرضاً که امریکا ماته شوه او مسلمانان بریمن شول، نو دا ماته امریکا بیا په نوره اسلامي خاوره څنګه پنجې خښې کړې، په ترکیه، قطر، امارات، سعودي، مصر،عراق، شام جزیرة العرب، اندلس او نوره اسلامي خاوره کې څه کوي .؟

ماتې به همداسې وي ؟

آیا تاسې د بین الملل له لورې د خاورې په ویش راضي نه شوئ، ماته به همداسې وي؟

د همدې امریکا نمایشي کربښې مو ومنلې او بیا وایې موږ امریکا ماته کړه !

دامریکا شکست سره دامریکا کوم قانون او کوم ارزښت مات او یا د سوال لاندې راغی؟

که برعکس ستاسې داعیه، خبرو او قانون کې فرق راغی؟

آیا تاسې کې کوم کس شته چې داسې جرآت وکړي د تورخم په طرف یا هم ازبکستان حیرتان یا اسلام کلا په طرف د بین الملل دا دروازې ورماتې کړي، موټرو پسې یې وتړي او راړنګې یې کړي، هغه پاکستان سره نمایشي جنګونه نه یادوم چې د خلکو د ذهنیت سازۍ لپاره یې کوئ بلکې په حقیقت کې یې دا پولې وړنګې کړئ، داسې څوک درکې شته چې دا کار وکړي او خلک پوهه شي چې تاسې د بین الملل اصول نه منئ ؟.

آیا د نړۍ ټول مسلمانان همدې افغانستان کې راټول شوي چې له دې ځایه مو امریکا وویسته نو بس ټول اسلامي امت آزاد شو او د کفارو له ظلمونو څخه بچ شول ؟

او آیا په تاسې د همدې افغانستان آزادول فرض وو بس ؟

چې د افغانستان له آزادۍ (!) وروسته مو د جهاد د خاتمې اعلانونه وکړل .

دا صلاحیت مو له کومه کړ چې اعلان مو وکړ چې نور کفارو سره جنګ ختم دی ؟ ټول مسلمان دي د کفارو د ظلم لاندې وي، په دې تاسې راضي شوئ؟

څنګه وایاست چې جګړه ختمه شوه؟

ځکه تاسې خو سوله نه ده کړې بلکې تسلیمي مو ورکړې ده، بین المللي قوانین مو امضاء کړي دي او د عضویت لپاره یې زارۍ کوئ، نو څنګه اقدامي جهاد بلکې دفاعي جهاد معطل شو، ځکه لا تر اوسه د مسلمانانو اشغال شوی دار الاسلام د دې کفارو څخه نه دی آزاد شوی ؟ اقدامي خو به هله وي چې کله دار الاسلام آزاد شي.

ای شرمیدلو!

کفارو دا اعلان ونه کړ چې موږ ټولو مسلمانانو سره جګړه بس کړه ، خو تاسې بیشرمه او بې ضمیره خلکو بار، بار همدا نعرې ووهلې چې جګړه نوره ختمه ده او د نړیوالو کفارو امنیت نور موږ ساتو او هیڅ نوعه تهدید به دوی ته متوجه نه وي.

نو د طالب کفر کې هیڅ شک پاتې نه دي دوی د ورځې د یو، یو کفر یوه یوه نمونه یا دوه دوه نمونې خامخا وړاندې کوي .

آیا له افغانستانه غیر په نورو ممالکو کې امریکایان وژل کیږي که نه، او یا له افغانستانه غیر نوره اسلامي خاوره امریکا یرغمل کړې ده که نه ؟

که ځواب مو مثبت وي نو بیا تاسې ته دا جایز ده چې په اسلامي خاوره متجاوزینو امریکایانو سره د بین الملل په اصولو سوله کوئ، دا اجازه تاسې ته چا درکړه چې بیا د ټولې نړۍ د مسلمانانو په سر سودا کوئ، امریکایانو ته د مسلمانانو په نمایندګۍ د امن پیغامونه ورکوئ او ورسره تړونونه لاسلیکوئ .

چې د باتو وخت راشي نو بیا ځانونه د اقصی فاتحان ګڼئ د خلکو د غولونې لپاره په کابل کې د اقصی نښانونه جوړوئ، امیر المومنین مو تاسې د ټولې دنیا د مسلمانانو امیر ګڼئ، خو په عملي میدان کې بیا د بین الملل له لورې د ترسیم شوي کربښو څخه پښه نه شئ اړولې او د همدغه جغرافیوي کربښو ترشا چې کوم مفاهیم پراته دي او کومې معنوي کربښې کش شوي د وطنیت په همغه عقیده ایمان لرئ، د نړۍ نور مسلمانان بیا بهرني بولئ او په هغوی د هر وحشي له لورې هر وحشت او یرغل د وحشیانو او یرغلګرو داخلي مسئله ګڼئ او تاسې ورکې ځانته د مداخلې حق نه ورکوئ .

دا مو کومې لوبې شروع کړې څه فکر کوئ په دې ډرامو به له خپلو نصواریانو پرته نور خلک خطا کړئ ؟

له طالبانو پوښتو دا ستاسې ایمان له څه شي جوړ دی چې د ایمان په

داسې صریحو نواقضو نه ماتیږي . او آیا تاسې ددې نواقضو په عملي کولو نه مرتد کیږئ ؟
او که ستاسې ایمانونه هم د ایمان په نواقضو ماتیږي نو دا خو تاسې ټول نواقض عملي کړي که نه دا نواقض ستاسې لپاره فرق کوي .؟ کله چې د اسلام احکام همه شموله دي، نو که ځانته مسلمان وایي نو طالبه بیا د اسلام نواقض مطالعه کړه ، په یو ځل نه بلکې په سلګونو ځل ته ددې نواقضو مرتکب شوی یې ، ته له ایمان څخه خلاص شوی یې ، دا خبرې په ځان بدې مه لګوه ، سوچ او فکر پرې وکړه او ځان له هلاکت څخه وژغوره .
او که نه ستاسې ایمانونه له فولادو جوړ دي نه ماتیږي ، که هره کفري کړنه کوئ نو تاسې ته روا ده بس نوم چې دې طالب شو نو د جنت ټکټ دې واخست او د دین په نوم چې هره لوبه کوې نو تاته روا ده که څنګه ؟
ددې هر کفر باوجود به تاسې د انبیاؤ وارثان او د جنت ټیکه داران یاست؟
له طالبانو پوښتو د افغانستان نوم څه وخت افغانستان شو او دا نوم ورته کله او چا او د څه لپاره تعین کړ ؟
دافغانستان فعلي حدودو څخه وړاندې چې کومې جګړې شوي هغې ته په کوم نظر ګورئ کله چې افغانستان افغانستان نه وو او د بین الملل په کرښو دا خاوره سره ویشل شوې نه وه او د اسلام فاتحانو غزوې ترسره کولې نو هغې ته کوم نوم ورکوئ ، لکه د محمود غزنوي او شهاب الدین غوري او داسې نورو د اسلام د شهسوارانو بریدونه او مبارزه څنګه ارزوئ ؟
طالبه!
او نن بیا ته ولې یو متر هم د بین الملل لخوا د کش شویو کرښو څخه یو قدم مخته نه شې اخستلی ، او له دې کرښې هغه خوا د یو مسلمان غم درسره نه شته ،د همدی محدودې او د غرب لخوا د تعیین شوې پولې په داخل کې د جهاد حکم جاري وو او له دې بهر نور نو د جهاد حکم منسوخ دی؟
عجیبه ده بس د هر څه لپاره تاسې لکه د یهودو ځانته خاص اصول او قوانین لرئ چې خپله مو زړه وشي نو خبره فرض کړئ او که زړه مو نه وي بیا خبره بیخي حرامه شي او هر څه ختم شي ؟
والله د طالب په دې رذالت او سپین سترګیو به تاریخ لیکونکي هم په دې سوچ کې وي چې اوس دوی ته کوم نوم ورکړي او کوم القاب ورته استعمال کړي ؟
دوی په کوم الفاظو ونګوو ؟
دوی خو داسې اعمال ترسره کوي او داسې خبرې کوي، چې ددې شل کلنې جګړې هغه پټ او مخفي اهداف چې ددوی مشرانو ته د کفارو له لوري ورکول شوي وو ، دادی یو ، یو عملي کوي او ځان ښکاره کوي او لاندې کشر خیل یې هم حیران دي چې مونږ تر اوسه په کوم نوم غولیدلي یو او اوس څه روان دي.
طالبه ! که د پورتنیو سوالونو ځوابونه نه لرې، نو خیر ددې لاندې څو سوالونو ځوابونه که راکړې چې آیا اوس هم په خپله دې باطلې ادعا ټینګار کوئ ، چې جګړه ختمه ده او امریکا ته باید څوک خطر متوجه نه کړي؟
سوال : تاسې چې وایئ نوره نو ستاسې امریکا سره دوستي شوه ، جګړه ختمه شوه ، اوس مو سره خه پخه ملګرتیا او انډیوالي ده نو د امریکا هم په تاسې دا حق جوړیږي چې د هغوی ساتنه وکړئ ځکه چې د ټول افغانستان واک او ځواک یې په ډیره آسانه په یوه میاشت کې درتسلیم کړ.
نو آیا امریکا کې مو د عافیې صدیقه په شمول د اسلامي امت نورې اسیري خویندی یاد دي که نه ؟
آیا نړۍ کې اوس هم د همدې متجاوزې امریکا سره مسلمانان اسیران دي که نه ؟
آیا افغانستان یو اسلامي او شرعي

خاوره او حدود دي ؟ چې همدا خاوره اسلام خاص کړې وه چې له دې امریکایان ووځي ، نو چې دلته امریکایان وو جهاد ورسره فرض و ، اوس چې ووتل نو د جهاد حکم بدل شو بس جهاد ختم شو او احکام یې معطل شول او دا احکام جاری شول چې نور به د امریکا امنیت ساتې ؟

جهاد ولی فرض عین شي او کوم دلایل دوباره باعث د دی کیږي چې جهاد د فرض عین څخه فرض کفایي ته راشي او بیا بیخي منعه اعلان شي؟

آیا د نوری نړۍ مسلمانان په مونږ حق لري که نه ؟

دومره خلک چې تاسې د نظام لاندې د همدې القاعده په چوکاټ کی نن سبا پاکستان کې اسیران دي هغوی مو زهن کې شته دی که نه ؟

هغه عربان چې ستاسې باداري او روزونکي اداري ای ایس ای یو ، یو بیل ، بیل په امریکا خرڅ کړ، هغه زنانه چې نن هم د دوی نامعلومه جیلونو کی اسیرانې دي، هغوی هم تاسې باندې حق لري که نه؟

کوم عرب مجاهدین چې پاکستان خبیثې اداري خپلو تور سرو سره اسیران کړي له بې ضمیره او بې وجدانه طالبه غیر له هغې هیڅوک سترګې نه شي پټولي او نه یې هیرولي شي. او د سولې خبرې خو هسې نمایشي کړني دي، ځکه تاسې د بین الملل قانون منلی دی نو سوله بیا څه معنا لري ؟ څوک چې دغه قوانین ومني دغه کار ته تسلیمي وایي، سوله نه وایي. بیا هم دا راته ووایاست چې تاسې سوله کوم کوم هیواد سره کړې ده، نومونه یې مشخص کړئ، آیا تاسې سوله د امریکا سره کړې، که ناټو سره، که روسیا، چین، پاکستان، ایران، هند، تاجیکستان او ازبکستان سره مو کړې ده ؟ اول خو دومره هیوادونو سره په یو وخت د بین الملل قانون تر چتر لاندې د سولې جواز په شریعت کې وښایست ؟ څه د دې هیوادونو پرته هیوادونو سره د جګړې اراده لرئ ؟ آیا د اسرائیل یهودو سره د جګړې اراده لرئ ؟ نا، کلا وحاشا، بلکې ستاسې ویندویانو خو وویل چې اسرائیل سره هم مشکل نه لرو. نو معلومه دا شوه چې دا سوله هم ستاسې یوه بهانه ده.

خو افسوس په طالب کشرانو چې اوس هم دوی د خپلو مشرانو جال کی راګیر دي او هر کفر او ظلم ته یې ځان چوپ نیولی دی او دوی هم ورسره همدا بغاري بدرګه کوي چې بس جګړه ختمه شوه ، وطن امن کول غواړي ، مرتدو ګاوندیانو سره نیک سلوک په کار دی.

هو!

زمونږ جګړه ددې لپاره ده چې په ټوله ځمکه کې د الله متعال په دین باندې فیصلې وشي، نه یواځې د افغانستان په خاوره .. زمونږ جګړه عالمي ده نه وطني .

که تاسې وایې صرف خارجیانو وتلو سره جهاد ختمیږي او فقط بهرنیانو سره جنګ په کار دی ، نو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل قوم سره ولې جګړه وکړه.؟

آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم قومي جګړه نه ده کړې ؟

اوله غزوه او اوله لویه معرکه د چا تر منځ وه ، د کومې قبیلې تر منځ او د کوم قوم تر منځ واقع شوه؟

آیا په دې جګړه کې کوم خارجیان ول؟

طالب ته وایو چې ستاسې هغه وخت دریاد دی که نه، چې رباني مرتد ته مو د سولې څو پیشنهادونه ورمخ ته کړی وو ؟

او اوس لپاره لګیا یاستئ د کفارو جواسیس او مرتدین خه په عزت سره بیرته راغواړئ د همدې قاتلانو ، غلو ، داړه مارو ، په اخلاقي مفاسدو د ککړو جواسیسو په غاړو کې په هوایي میدانونو کې په استقبال کې ګلونه اچوئ ، کمیسون مو ورته ټاکلې ،عذر او زارۍ ورته کوئ او بیرته یې راستنوئ ،بیرته ځان سره په ادارو کې په کارونو ګمارئ ورته وایئ چې دا همغه زړه اداره ده اوس هم تاسې ته ضرورت دی اوس هم تاسې او هغوی د کفر په خدمت کې سره ورونه یاستئ.

هغه مرتدینو سره چې بیرته یې د اسلام دین هم قبول کړ او توبه یې هم وکړه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه تعامل دا وو چې دوی به یې جهاد ته نه بوتلل، بس دوی باندی همدا پابندي وه چې دوی باید مجاهدینو سره تشکیل ته لاړ نه شي . بیا د عمر رضی الله عنه تعامل او موقف دا وه چې ویل به یې دوی توبه کړی امتحان یی خپل ورکړی دی ، جهاد ته دې لاړ شي خو باید هیڅ وخت هم ورته مسولیت ورنکړل شي. راشه د طالب اسلامي نظام (!) ته وګوره زاړه مرتدین یې بغیر له توبې راوبلل دغه کمیسون کې ترې د توبې د طلب هیڅ کومه برخه نه شته ، ځکه چې طالب خپله مرتد دی نو په ارتداد کې سره ورونه دي زاړه مرتدین دغه نویو مرتدینو سره په ادارو کې یوځای څه له مخکې پاتې وو او څه یې باقي راوغوښتل او په غټو موقفونو یې وګمارل او دا ټول په همدې خاطر چې دا پرې امریکا منلې وه چې زما دا زاړه بچې به او تاسې زما نویو بچو سره په یو دسترخوان راټولیږئ او په یو میز به کار کوئ نو په دې خاطر چې باداره امریکا یې خفه نه شي دوی هر ذلت او شرم ته غاړه ږدي ..

دا هرڅه طالب کفارو سره د دوحې تړون کې امضا کړي دي، نو اوس طالب کله کولای شي چې خپله بادار خفه کړي او دا تړون مات کړي ، د تړون ماتول او بدماشي کول خو د امریکا حق دی ، که هر څه کوي طالب ته په سر سترګو منظور دي . دوی دغه واک او چوکیو ته په ډیرو عذرونو او زاریو او د خپلو عزتونو په لیلامولو رسیدلي نو دا چوکۍ دومره په آسانۍ نه پریږدي .

کله چې اول ځل طالبان د رباني مرتد سره په جګړه کې کیوتل نو د سولې لپاره یې ورته څو شرائط ورمخکې کړل :

1. کمونستان باید له لوړو منصبونو څخه لرې کړای شي ځکه هغه وخت د رباني د جګړې قوماندان یو کمونسټ و، او داخله وزیر یې یو رافضي و د حزب وحدت غړی و.

2. ټولې زنانه باید له دولتي ادارو څخه لرې شي ځکه چې د سړیو سره یې اختلاط رامنځ ته کیږي او په ځانګړې توګه د مسکاو له پوهنتونونو فارغې ښځې چې د رباني په حکومت کې په دولتي ادارو کې وظیفې درلودې دا مطلق منعه او لرې شي.

3. شریعت باید علني اعلان او تطبیق شي موسیقي ، مخدرات او نور منکرات باید بند شي.

4. د هند او ایران علني مداخلې بندې شي .

خو رباني چې د کی ،جي، بي او ایران په زور دحکومت چوکۍ تر لاسه کړی وه دا ۴ واړه پشنهادونه یې رد کړل او بیا طالب ورسره د جګړی اعلان وکړ چې بیا د دواړو لوریو په درجنو قتلیدل .

اوس طالبانو ته وایو چې رباني سره ستاسې د جګړې یو علت د رباني په حکومت کې په لوړو پوستونو د کمونسټانو موجودیت و، اوس نو که له تاسې څخه څوک پوښتنه وکړي چې دومره خلقیان، د تیر مرتد نظام مرتدین او دیموکراتان مو اوس په خپل نظام کي په لوړو پوستونو کار کوي ، دومره کمونستانو، خلقیانو، دیموکراتانو او ملحدینو سره چې مشترک مجلسونه کوئ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ناموس تورلګونکو کسانو ته وزارتونه او ریاستونه ورکوئ؟

نو آیا اوس تاسې سره د جګړې یو عامل دا هم نشي کیدلای؟

که جواب منفي وي، نو بیا ستاسې مخکنۍ مبارزې ته مو جواب څه دی؟

پرون طالب چې د کوم علتونو له امله نورو سره جګړې کولې نن خپله په کې سل په سله همغه علتونه موجود دي دوی سره هم ټول همغه زاړه کمونسټان په دندو دي همغه دیموکراتان او د تیر نظام مرتدین رابلي او په غاړو کې ګلونه اچوي او په وظیفو یي ګماري.

طالبه ! د دې سوال ځواب راکړه چې هغه وخت د چا په دستور او فرمایش مو رباني مرتد ته دا پیشنهادونه کول ،چی نن درنه هیر دي او نن د چا په دستور او فرمایشاتو د همغه رباني مرتد او اشرف غني مرتد په پل روان یاستئ ؟

(د عصر دلالان) کتاب کې هم دا خبره ذکر شوې وه چې د روسانو له وتلو څخه وروسته د کفارو د اهدافو د پلي کولو لپاره د رباني په مشرۍ شمال ټلواله انتخاب شوه ، او دا دی د امریکا له وتلو وروسته د کفارو د موخو د څه تعقیب لپاره دلته د کفارو د اوسیدو او امنیت ساتنې دنده ، د کفارو د باقي پاتې

پلانونو دنده د طالب په نوم د ډیرو او پګړو لرونکو مرتدینو ته ورکول شوه او ددې ماموریت لپاره دا رزیله طبقه انتخاب شوه.

ځکه کفار په دې کې مهارت لري او دا یې تکرارا تجربه کړې چې د چا سره یې جګړه کړې او ورسره مقابل لوری چې آزاد او مستقل نه وي او له پخوا څخه نیابتي ملیشې وي نو همداسې خلک یې له خپلو داعیې تیر کړي، واک چوکۍ او امتیازات یې ورکړي ځانته یې پر کړي او بیا یې لکه د خرو کته کوي او پرې له پاسه سپاره وي او خپلو موخو ته پرې ځانونه رسوي چې دا نن تاسې هرڅه د امریکا او طالب په شکل کې ګورئ.

د روسانو مقابل کې همدې تنظیمونو د جګړې د رهبرۍ دعوه کوله آخر هم روسانو کرملین کې ترینه پوره، پوره تعهدونه واخیستل او د سر څخه تر ګوتو پورې یې ښه کلک ،کلک وتړل ،چې د همدې تړونونو نتیجه کې کفار له دوی څخه مطمین شول مرتد نجیب یې په میدان پریخود او واک یې تنظیمیانو ته ورخوشې کړ، کوم کار چې نن امریکا وکړ.

طالب هم ځان امریکا سره د جګړې سرلارې باله، لومړي سر کې یې دعوه او موخې جلا وې خو د وخت په تیریدو امریکا په دې وتوانیده چې طالب د غرور له خره راښکته کړي او ځان پسې یې شاته په خپل ټټو کینوي، له خپلو ټولو دعوو او غوښتنو یې لاس په سر کړ او د کابل ګدۍ یې لکه د ماشومانو مم په لاس کې ورکړه نور نو طالب ټوله په ټوله اوس د امریکا عسکر شول، او دادی مات طالب هره شیبه امریکا ته زارۍ او په ننواتو سر دی کله ترې رسمیت غواړي کله ترینه بند ډالر غواړي، کله ترینه د بین الملل چوکۍ غواړي.

د روسانو په جګړه کې خپلو کمونسټو ملیشو ته د 48-36 ملیارده دالرو اسلحې کومک کړې وو. په مقابل کې یې امریکا خپلو تنظیمونو سره د 12-6 ملیارده دالرو کومک کړې وو، چې عام اولسونه په اخلاص د روس مقابل کې جنګیدل او تنظیم مشرانو خپل د کافرو بادارانو اهداف تعقیبول.

مقصد مې دا وو چې مخکې هم امریکا د خپلو اهدافو لپاره د جهاد په نوم جنګیالیو سره همکاري کوله او نن هم هماغه پروني تنظیمونو په څېر طالبانو ته یې هر څه ورکړل د میلیاردونو ډالرو اسلحې یې ورته وسپارلې او دادی هره اونۍ ورته علني شکل سره د ۴۰ میلوني ډالرو کڅوړې او پټې خو یې یو الله ته معلوم دي چې مقدار یې څومره دی راوراني دي دا ټولې د همدې لپاره دي چې د حقیقي اسلامي نظام مخه ډب کړي.

طالب ته وایو کوم پیغورونه چې تاسې پرون د روسانو له وتلو څخه وروسته رباني ته ورکول نو نن همغه خبرې همغه علتونه او همغه پیغورنه ستا تندې پورې نښتې دي خو حیف دا چې تاسې د شرم په نوم نه کوم ارزښت پیژنئ او نه چرته د غیرت په پوله تیر شوي یاستئ چې څه احساس به ولرئ.

تاسې هغه بې عزته ډله یاستئ چې دا هر څه بیا د اسلام په نوم سرته رسوئ، دا دجل، دورغ، دوکه، غدر به مو تر یو وخته وساتي، تر یو وخته به په دې ډرامو خلک تیر باسئ خو د درواغو مزل لنډ وي تر دیره مو حقیقي څېره راښکاره شوې او نوره به هم دا توره څېره بربنډه شي او آخر به هم د رباني او نجیب په سرنوشت اخته شئ باذن الله.د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو!

تاسې به ددې مقالې پاتې اخرنۍ (دریمه برخه) د خراسان غږ مجلې په راتلونکې نولسمه ګڼه کې ولولئ ان شاء الله.

متکي
مه ژاړه!

مونږ ځکه جنګیږو
چې تاسې د امریکا پروژه یاست!

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أمابعد:

کله چې د امریکا له لوري طالب ربوټان د کابل په ګدۍ نصب کړای شول ، نو باداړانو او لاس پوڅو يې همدا يوه سندره زمزمه کوله چې :

داعش نور مکمل ختم شو ټغر يې ورټول شو.

او طالب ملېشې خو ددې کاذبې فتحې په غرور کې دومره مدهوش وو، چې بیخي يې اسمان په کاڼو ویشته ، لاندې زمکې ته يې نه کتل ، لاپو او باټو يې مثال نه درلود.

کوم چرګ په احتیاط په بلۍ قدمونه کېښودل چې چرته دا بلۍ رالاندې ړنګه نه شي ، نو د آی ایس آی دا جنګي چرګان هم په لومړیو کې د کابل په بامونو داسې په غرور د دوه ګوتو په څوکو روان وو، فکر يې کاوه چې د دوی د ډیر قوت له امله زمکه ورلاندې خوځیږي .

هو!

همغه ژبې چې کال وړاندې د اسلامي دولت

ماتې او نابودۍ په ببولالو لمدې وي اوس نو دادی د اسلامي دولت د بریدونو له لاره وچې دي ، په ډیر عجز او عذر د جګړې د بندیدو خبرې کوي .

دا عجیبه نه ده چې دوی دومره زر غوړونه ونیول ، بلکې ډیره عجیبه داده چې دوی ځانونه داسې ناګاره کړي چې ته به فکر کوې دوی رښتیا په خپل کفر نه پوهیږي او دوی ګڼې رښتیا له دوحې نه ، بلکې له کعبې راغلي او دوی ګڼې د کفارو نه ، بلکې د اسلامي امت استازي دي .

ددوی یو کفر نه دی چې موږ به یې دوی ته ورپه ګوته کړو ، بلکې ددوی په سلګونو کفرونو خو کتابونه لیکل کیږي .

په هر صورت دا خه شوه چې اخر مو د نه ژړیدو تیره ماته کړه اخر د غرور له خره راکیوتځ ، موږ ته مو هغه تاریخي واقعه رایاده کړه ، کله چې د بدر په تاریخي غزا کې د مشرکینو د رسوایي او ستړې ماتې خبر مکې ته ورسید، دې خبر د مکې په اوسیدونکو ډیر بد اغیز وکړ، آن تر دې چې هغوی په خپلو مړیو باندې ژړاګانې بندې کړې، دا تره یې وکړه چې هیڅوک به په بدر کې د خپلو وژل شویو بچو او د کورنیو په غړو نه ژاړي ، دا په دې خاطر چې د مدینې خلك د دوی په ژړا نور پسې خوشاله نه شي.

په دې غزا کې د اسود بن مطلب درې زامن وژل شوي وو. نوموړی په سترګو ړوند و او زړه یې غوښتل چې د زامنو په مرګ ښه په چیغو ،چیغو وژاړي، یوه شپه یې د یوې ښځې د ژړا آواز واورید، فوراً یې خپل غلام واستاوه او ورته ویې ویل: وګوره چې په مړیو د ژړلو اجازه ورکړل شوې ده او که څنګه؟ آیا قریش پخپلو مړیو ژاړي؟ چې زه پخپل زوی ابو حکیمه وژاړم، زما سینه خو له ډیره غمه په چاودیدو ده.

غلام یې لاړ او کله چې بیرته راغی ورته ویې ویل: دا د هغې ښځې د ژړا آواز دی چې پخپل ورك شوي اوښ پسې ژاړي.

دلته نو اسود له کنتروله ووت او په خوله یې دا شعرونه جاري شول:

أَتَبْكِي أَنْ يَضِلَّ لَهَا بَعِيرٌ ... وَيَمْنَعُهَا مِنْ النَّوْمِ السُّهُودُ
فَلَا تَبْكِي عَلَى بَكْرٍ وَلَكِنْ ... عَلَى بَدْرٍ تَقَاصَرَتْ الْجُدُودُ
عَلَى بَدْرٍ سَرَاةِ بَنِي هُصَيْصٍ ... وَمَخْزُومٍ وَرَهْطِ أَبِي الْوَلِيدِ
وَبَكِّي إنْ بَكَّيْت عَلَى عَقِيلٍ ... وَبَكِّي حَارِثًا أَسَدَ الْأُسُودِ
وَبَكِّيهِمْ وَلَا تَسَمِي جَمِيعًا ... وَمَا لِأَبِي حَكِيمَةَ مِنْ نَدِيدِ
أَلَا قَدْ سَادَ بَعْدَهُمْ رِجَالٌ ... وَلَوْلَا يَوْمُ بَدْرٍ لَمْ يَسُودُوا

[آیا دا پدې ژاړي چې اوښ یې ورك شویدی؟ او پر هغه باندې بې خوابۍ یې خوب ورك کړیدی؟ په اوښ مه ژاړه، بلکه په بدر وژاړه چیرته چې قسمتونه ایرې شویدي. هو ! په بدر وژاړه چیرته چې بني هصیص، بني مخزوم او ابوالولید د قبیلې سرداران دي، که ژاړې نو په عقیل وژاړه په هغه حارث وژاړه چې د زمریانو زمری و ، نو په هغو خلکو وژاړه او د ټولو نومونه مه اخله، او د ابو حکیمه خو هیڅ مثل او سیال نه و، وګوره له هغوی نه وروسته داسې خلك سرداران شول، که د بدر ورځ نه وای، نو کله به هم نه وو سرداران شوي.] سیرت ابن هشام.

لکه څنګه چې طالبان د حاکمیت او پریکړې په واک کې د مکې د مشرکانو په پل روان دي، هغوی هم د وضعي جاهلي قوانینو تابعداري کوله او طالبان هم د ملګرو ملتونو وضعي قوانین مني، که هغوی د لات او منات بتانو عبادت او ساتنه کوله ، نو طالبانو د نن سبانۍ ډیموکراسۍ او سیکولریزم سترو بتانو سربیره مزارات او شرکي اډې هم ښه فعال ساتلي دي، نو عقیده کې د هغوی دتابعداري په کولو، په اعلامي ډګر کې هم کټ ، مټ طالبان د مکې د مشرکانو په نقش قدم روان دي.

تاسې شاهدان یاست کله چې د اسلامي دولت زمرو په خپلو تندریزو بریدونو له طالب مشرکینو څخه لوری ، لودن ورک کړ، په هر واټ او هره لار ورته مرګ په انتظار وي ، کله چې په لومړیو کې به په دوی چرته د خرپ، ترپ ډلګیو خونړي بریدونه وکړل او دوی به یې لکه د ترخو منډو په څېر خواره واره وشیندل ، نو دوی به زر ، زر راولګیدل ، د برید ساحې ته ورغلې ټولې لارې به یې کلکې بندې کړې ، داسې کلک ګرځبندیز به یې ولګاوه چې په کیلو میترونو لرې به یې هغه طرف راشه ، درشه بنده کړه ، خپل نهایت کوشش به یې دا وو، چې د پیښې له ځایه هیڅ ډول انځور او ویډیو ونه وځي ، هسې خو هم امریکا ټولې داخلي او خارجي رسنۍ ددوی په خدمت کې ورکړې خو که په فردي شکل به چا د برید له ځایه تصویر یا ویډو اخیستو هڅه وکړه نو وسایل به او سر به یې یوځای مات وو، طالب ملېشې به دومره مرعوبې وې ، چې سیمه به د ساعتونو لپاره د مطبوعاتي او فزیکي کلابندۍ لاندې وه ، د هر برید وروسته به دوی د خپلو بادرانو پیښې کولې ، زور به یې له بې ګناه عوامو ویسته ، کله به چې په همدغه بندیزونو کې دوی زر ، زر د برید ویجاړې او د خپلو مردارانو شیندل شوي سرونه ،سوځیدلي جسدونه او عرادو کباړونه ټول کړل ، نو بیا به یې ویاندویان په خپلو ورسپارل شویو رسنیو کې راڅرګند شول او په ډیر ویاړ به یې ویل چې چاودنه د ګاز ډبې وه ، او چاته کوم زیان نه دی رسیدلې او یا به یې ویل په هغه سیمه کې د موټر ټایر وچاودید کوم تلفات نه شته ، کله به چې بیا ددوی بې مهاره چرسیانو د همدغه بریدونو د وژل شویو دوستانو او خپلوانو عکسونه په خواله رسنیو کې خپاره کړل ،نو نورو به ښه بې یابه کړ، چې تا ولې عکس جګ کړ، ته نه یې خبر چې د شهیدانو (البته د امریکا د امنیتي پروژې د تطبیقونکو عسکرو) د وژل شویو عکسونه پورته کول ممنوع دي!! دوی دومره احمقان دي په دې نه پوهیږي چې اسلامي خلافت مجاهدین د لوی الله په کومک دغه حساس ځای ته استشهادي دننه کولای شي، انفجاري مواد رسولای شي نو د دوی د تلفاتو دقیق شمیر نشي درک کولای؟ نو ددوی دا هڅې هسې د اوبو څګ ته ورته وې، د اسلامي دولت سربښندونکو غازیانو به د هر برید مستند کلیپونه او عسکونه ورپسې راوویستل او ددوی دروغ به یې ددوی په تورو مخونو وروویشتل، بیا به نو ددوی مړ سترګو ویاندویانو ټیټ سرونه چرته په سوړو ورننویستل.

دوی د خپلو اسلافو مشرکینو په پل ځکه روان وو، چې فکر یې کاوه له دغه بریدونو او ددوی د مردارانو له تلفاتو به څوک خبر نه شي او دوی به په همدې ښکرورو دروغو او باټو خپلو مورال وهلو چرسیانو ته مورال ورکړي او خپلو بادرانو ته وښایي چې افغانستان کې امن امان دی او دوی چې هر ډول کفر کول دلته وغواړي ورته زمینه مساعده ده ځکه یې نو ټوله انرژي په دې مصرفوله چې د بریدونو خبرونه او تلفات خپاره نه شي او د اسلامي دولت مهاجرین او مجاهدین چرته ددوی په دغه ویر خوشالي ونه کړي .

خو کله چې د اسلامي خلافت مجاهدینو د طالب ملیشو بادارانو ته لاس واچاوه، امریکایان ، روسان ، چینایان ، ایرانیان ، پاکستانیان او نور طواغیت او کفار یې ددوی د پهرو په داخل کې ور ووژل ، دوی هغه تلفات پټ کړل خو بادارانو یې ورپسې خبره راغبرګه کړه چې موږ ته دوکه مه راکوئ .

په هوایي میدان د برید پرمهال چې کله ددوی ښځونک ویاند جاهل وویل په برید کې ټول ملکیان وژل شوي ، ورپسې یې له پنټاګون څخه د خپلو بادرانو غبرګون حیران کړ ، چې د امریکایانو د جسدونو کتارونو ته یې پلار بایډن هم اوښکې تویې کړې ، نو که یې هغه وخت شرم درلودی اوس به له خجالته مړ وی، خو دا خلک د شرم په نامه څه نه پیژني ، ورپسې په روسي بادارانو برید یې هم همدغسې په ملکیانو برید وګاڼه چې ورپسې یې بادارنو خپل تلفات رسنیز کړل ، همداسې په چینایي بادارانو برید یې هم په ملکي خلکو په برید توجیه کړ ، خو په دې کې هم الله ذلیله او رسوا کړل ، کله چې دوی پوهه شول چې نور نه

دوی د بریدونـو تلفـات پټولـی شي، نـه ددوی پـه درواغـو نـور څـوک بـاور کـوي او نـه یـې هـم بـادران ورسره دا درواغ منـي او کلـه چـې د خپلـو کافـرو بادارنـو وژنـې سـخت ودردول نـو بـې اختیـاره یـې لـه خولـو څخـه کرکـې او چیغـې ووتلـې! او د اسـود بـن مطلـب پـه څېـر د طالبانـو د حـال ژبـې همـدا مرثیـې زمزمـه کولـې چـې ای خلکـو !

د طالـب ملیشـو پـه وژل شـویو عسـکرو مـه ژاړئ، ژړا خـو زمونـږ پـه بادارانـو امریکایانـو، روسـانو، پاکسـتاني اسـتخباراتو، چینایانـو، روافضـو او د خارجـه وزارت پـه مرتـدو دیپلوماتانـو پـکار ده، دوی د دې لایـق دي چـې ښـه ډیـره ژړا پـرې وکـړای شي!!

هـو! طالـب ملیشـو تـه د امریـکا او ناټـو لخـوا د واک سـپارلو لـوي لامل دا و ، دوی ژمنـه کـړې وه چـې مونږ به د امریکایانـو او متحدینـو امنیـت سـاتو، دوی خپـل ځـان دغـه مشـن لپـاره د تیـر جمهوریـت څخـه زیـات مناسـب بالـه، خـو کلـه چـې خپـل ضمانـت کـې نـاکام او نامـراد شـول، نـو د غـم او خفـګان لـه املـه یـې د هبـت اللـه څخـه رانیولـې تـر مـلا متکـي پـورې ټولـو د خلافـت مجاهدینـو تـه زارۍ شروع کـړې او د جنـګ د بندیـدو غوښـتنه یـې وکـړه.

للـه الحمـد دا هماغـه خولـې دي چـې تـر اوسـه پـرې دوی باټـې وهلـې خـو نـن دوی پـه دغـه څرګندونـو سره پـرې خپلـه بـې وسي او کمـزوري پـه ډاګـه کـړه او خپلـو خولـو پـورې یـې خنـدا وکـړه.

د خراسـان ولایـت باتدبیـره قیـادت د اللـه پـه کومـک د طالبانـو حکومـت ټولـې مرتـدې ادارې پـه حلقـوي شـکل د خپلـو بریدونـو لانـدې ونیولـې د دوی عسـکر یـې پـه لارو کـې پـه نښـه کـړل، نظامـي وسـایط یـې پـه نښـه شـول، نـاکاره ملایـان یـې ووژل شـول، عسـکري شـفاخانې یـې هـدف وګرځـول شـوې، د تلیـن غونـډې یـې هـدف شـوې، د جنـازو او فاتحـو مراسـم یـې پـه نښـه شـول، د زندانونـو سـاتونکي یـې پـه نښـه شـول، د نظامـي میـدان انجنیـران او کارمنـدان یـې پـه نښـه شـول او داسـې نـور د حکومـت اړونـد ارګانونـه یـې هـدف وګرځـول شـول،

مؤسسة العزائم

د (کابل) په زړه کې د استشهادي برید له کبله د یو شمېر (دیپلوماتانو) په ګډون د (طالبانو د کورنیو چارو د وزارت) د کارمندانو او ساتونکو 20 غړي ووژل شول او لسګونه نور ټپیان شول

خراسان ولایت
چهارشنبه 18 جمادی الثاني 1444 هـ

د الله تعالی په توفیق، د شهادت یو شهسوار ورور (خیبر کندهاري) ـ تقبله الله ـ د (کابل) ښار په زړه کې د طالب ملېشو د بهرنیو چارو د وزارت په لور ولاړ، داسې نوموړي استشهادي وتوانېد چې د ملېشو له ټولو أمنیتي کمربندونو ورتېر شي، وروسته د قرارګاه له مرکزي دروازې څخه د کارمندانو او ساتونکو د وتلو پرمهال د هغوی د غونډې په منځ کې د خپل بارودي کمربند په واسطه استشهادي برید ترسره کړي، چې په ترڅ کې یې د یو شمېر "دیپلوماتانو" په ګډون شاوخوا 20 غړي ووژل شول او لسګونه نور ژور ټپیان شول، ولله الحمد.

همدغـه شـان روافـض پـه نښـه شـول، چـې پـدې بریدونـو سره د دوی داخلـي نظـم ولـړزول شـو.

او کومـه چـې د طالبانـو پـه خارجـي بادارانـو د بریدونـو لـړۍ ده، نـو دا د کابـل پـه هوایـي میـدان کـې پـه امریکایانـو لـه بریـد څخـه پیـل شـوه، بیـا د روسـیې سـفارت خانـه، بیـا د پاکسـتان، بیـا د چینایانـو هوټل او وروسـتی بریـد د وزارت خارجـه ودانـۍ پـه خولـه کـې د دې وزارت اړونـد دیپلوماتانـو او کارمندانـو بانـدې تـرسره شـو، چـې خارجـي دوسـتان یـې هـم موجـود وو.

پـدې مبـارک بریـد کـې د خارجـه وزارت مـشرک دیپلوماتـان د منځـه لاړل او پـه څنـګ کـې یـې د اقتصـاد وزارت کارمنـدان هـم ووژل شـول، دا پـه داسـې حـال کـې و چـې د نړیوالـو کفـري پـروژو د تطبیـق لپـاره د متکـي پـه مـشرۍ د خارجـي کفـارو لخـوا پـدې وزارت کـې طالـب دیپلوماتانـو تـه روزنـه ورکـول کیـده ،نـو دې غـم متکـي سـخت وځپـه او د دوی پـه خارجـي کفـارو شـوي بریدونـه یـې هـم ورتـه رایـاد کـړل اخـر یـې هـم خپـل خفـګان کنټـرول نـه کـړ او داسـې مـات رامـات او پـه ګیلـه منـد انـداز کـې یـې د خلافـت مجاهدیـن مخاطـب کـړل چـې : تاسـې ولـې جنګیـږئ، افغانسـتان کـې خـو اوس هیـڅ خارجـي عسـکر نشـته، اشـغال نشـته، شرک نشـته، زنـا نشـته، شراب نشـته، فسـاد نشـته، تعصـب نشـته نـو د جنـګ علـت مـو څـه دی ؟

نـو مونـږ ورتـه وایـو متکـي مـه ژاړه تـا خـو پـرون ویـل کـوم داعـش چـې ناټـو امریـکا او د نـړۍ ټولـو هیوادونـو ونـه ځپلـو تاسـې یـې ورختـم کـړ، څـه شـوې سـتا هغـه باټـې او لاپـې ؟

تاسـې سره د جګـړې علتونـه خـو لـه شـماره وتلـي خـو لنـډه بـه یـې درتـه ووایـو: (مـوږ ځکـه تاسـې سره جګـړه کـوو چـې تاسـې د امریـکا پـروژه یاسـت)

هـو! د افغانسـتان پـه نـوم د اسـلامي خـاورې دغـه ټوټـه د پـرون پـه څېـر نـن هـم اشـغال ده، هـم نظامـي اشـغال ده، هـم سـیاسي اشـغال ده، هـم اقتصـادي اشـغال ده، هـم پـه کـې فرهنګـي او ثقافتـي اشـغال ښـه پـه زور او شـور کـې دی.

د ملګـرو ملتونـو د کارمندانـو پـه جامـه کـې د بلیـک واټـر دا امریکایـي عسـکر نـه وینـې ؟ دا نظامـي اشـغال نـه دی ؟ دا خارجـي کفـار نـه دي ؟ دغـه رنـګ تاسـې خپلـه دا اقـرار ونـه کړ،چـې د افغانسـتان پـه حریـم اوس هـم د امریـکا ډرون ګرځـي ؟ د امـارت ویانـد ذبیـح اللـه هـم ومنـل، وزیـر دفـاع مـلا یعقـوب هـم ومنـل، د رسـنیو د مرکـز په نامـه د (شـیطانانو پـه ځالـه) کـې مـلا متکـي تـا خپلـه هـم دا ومنـل او پـه امریـکا دې هسـې یـو سـمبولیک غـږ وکـړ چـې نـور د افغانسـتان هوایـي حریـم نقـض نـه کـړي او د دوحـې تـړون تـه ژمـن پاتـې شي. خـو هغـه بـې پیلوټـه الوتکـې اوس هـم ګرځـي، آیـا دا د اشـغال د بقـاء پـه معنـا نـه ده ؟

Hafiz Zia Ahmad
@HafizZiaAhmad1
د حکومت د رسنیو په مرکز کې ملت ته د حساب ورکونې کنفرانس په مهال د رسنیو پوښتنو ته ځوابونه...
د هیواد د هوایي حریم د نقض په اړه...
Translate Tweet

Hafiz Zia Ahmad
@HafizZiaAhmad1
ملت ته د حساب ورکونې کنفرانس کې د بهرنیو چارو وزیر په امریکا ږغ وکړ چې نور د افغانستان هوایي حریم نقض نکړي او د دوحې تړون ته ژمن پاتې شي.
دغه راز نوموړي یو ځل بیا د روسیې سفارت نژدې چاودنې باندې خواشیني څرګنده کړه او ټولو سفارتونو ته یې د امنیت ډاډ ورکړ.
Translate Tweet

دا خـبره خـو دې پـه خپلـه خولـه نقـض شـوه.

راځـه چـې اوس سـیاسي اشـغال درتـه وښـایو، ستاسـې د خارجـه وزارت منهـج او د قوانینـو مصـدر څـه شـی دی ؟

دا معلومـه خـبره ده چـې د ملګـرو ملتونـو قوانیـن دي ،ځکـه تاسـې ځـان د هغـوی یـو جـزء ګڼـئ، د هغـوی شرطونـه مـو پـوره کـړي دي او اوس رسـمیت غـواړئ نـو همـدا سـیاسي اشـغال دی، چـې ستاسـې د سیاسـت مصـدر د کتـاب او سـنت پرځـای دملګـرو ملتونـو قانـون دی، د دې خـبرې نـور ثبوتونـه دا دي چـې تاسـې د هـرې کړنـې صفایـي د ملګـرو ملتونـو مشرانـو تـه کـوئ.

متقـي پـه خپلـه د ملګـرو ملتونـو اسـتازو تـه چاپلـوسي کـوي او زارۍ ورتـه کـوي چـې هلتـه نـورو مشرانـو تـه خونـدور راپـور برابـر کـړئ ، چې امتیـازات مـو نـور هـم زیـات شي او بـاداران مـو خوشـحاله شي، د غلامـۍ پـه رسـمیت مـو وپیـژني. متقـي پـدې غټـه ډیـره او سـپینو کالیـو او لونګـۍ کلـه د ملګـرو ملتونـو ځانګـړې اسـتازې میرمـن روزا اوتنبایـو تـه زارۍ کـوي، کلـه د ملګـرو ملتونـو د عمومـي منـشي مرسـتیالې امینـه محمـد تـه فریادونـه کـوي.

Abdul Qahar Balkhi @QaharBal... · 3c
د ملګرو ملتونو د عمومي منشي مرستیالې امینه محمد د یو لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو له وزیر مولوي امیر خان متقي سره وکتل.

په پیل کې د بهرنیو چارو وزیر د م.م. پلاوي ته هرکلی ووایه او هیله یې وښوده چې د افغانستان رښتینی انځور نړیوالې ټولنې ته منعکس کړي.
pic.twitter.com/5QDD6GVd3v

10 50 401

Hafiz Zia Ahmad @HafizZia... · 12 Jan
افغانستان لپاره د **ملګرو** ملتونو ځانګړې استازې روزا اوتنبایو د ا. ا. ا. د بهرنیو چارو له وزیر مولوي امیر خان متقي سره وکتل.
په پیل کې آغلې اوتنبایو په هیواد کې د مثبتو پرمختګونو او فساد سره د مبارزې په برخه کې له لاسته راوړنو خوښي وښوده او زیاته یې کړه چې نړیوالې ټولنې ته یې... pic.twitter.com/8MbFJ3o6Xp

20 · 52 · 584

Show this thread

Hafiz Zia Ahmad @Hafiz... · 01 Sep 22
د ... ګوندونو او په افغانستان کې مېشتو د ... نو مرستندویه ادارو استازو یکې ګډون درلود.

Da Afghanistan Bank- Afg... · 14 Jan
۱۴۴۴ جمادي الثاني ۲۱ مه - افغانستان ته د ۴۰ میلیون ډالرو نغدي بشري مرستې کڅوړه را ورسېده او په کابل کې یو سوداګریز بانک ته و سپارل شوه.
د افغانستان بانک د هر هغه اصولي اقدام چې هېواد ته د اسعارو د راتګ او د ټولنې له اړمنو کسانو سره د مرستې لامل کېږي، pic.twitter.com/uN88CPAZaG

36 · 101 · 774

Da Afghanistan Bank- Afg... · 14 Jan
ستاینه کوي او دا بانک به د بانکي سکتور د لا پیاوړتیا او ټینګښت په برخه کې خپلې هلې ځلې جار... اتي.
د ... بانک رهبري هېواد ته د نړیوالې ټولنې د بس... تو د هر کلي تر څنګ، هیله لري چې دا مرستې د بانکي سکتور له لارې تر سره شي.

Da Afghanistan Bank- Afg... · 09 Jan
1444 جمادی الثانی 16 مه - د افغانستان بانک غواړي چې د 1444 کال د جمادی الثانی د میاشتې په 18 نېټه (1401/10/21) د چهار شنبې په ورځ د داوطلبۍ له لارې تر (17) میلیونه امریکایي ډالرو پورې د لیلام په ډول وپلوري.

Da Afghanistan Bank- Afghani... · 6d
۱۴۴۴ جمادی الثانی ۲۲ مه- د افغانستان بانک غواړي چې د ۱۴۴۴ کال د جمادی الثانی د میاشتې په ۲۳ نېټه (۱۴۰۱/۱۰/۲۶) د دو شنبې په ورځ د داوطلبۍ له لارې تر (۱۴) میلیونه امریکایي ډالرو پورې د لیلام په ډول وپلوري.
dab.gov.af/ps/%D8%AF-%D8%...

Da Afghanistan Bank- Afghani... · 4d
۱۴۴۴ جمادی الثانی ۲۴ مه - د افغانستان بانک غواړي چې د ۱۴۴۴ کال د جمادی الثانی د میاشتې په ۲۵ نېټه (۱۴۰۱/۱۰/۲۸) د چهار شنبې په ورځ د داوطلبۍ له لارې تر (۱۵) میلیونه امریکایي ډالرو پورې د لیلام په ډول وپلوري.

Da Afghanistan Bank- Afghan... · 17h
1444 جمادی الثانی 28 مه - د افغانستان بانک غواړي چې د 1444 کال د جمادی الثانی د میاشتې په 29 نېټه (1401/11/02) د یکشنبې په ورځ د داوطلبۍ له لارې تر (14) میلیونه امریکایي ډالرو پورې د لیلام په ډول وپلوري.

چې د دې څخه لوی ذلت به نور څه وي ؟ ملګرو ملتونو سازمان خو تاسې پېژنئ چې د شرکي قوانینو مجموعه ده خو طالب خپل نظام د دغه شرکي دستور منفذینو څخه شماري.

د طالبانو خارجي سیاست هم د ګلوبلایزیشن (نړیوال کیدل) په اصولو ولاړ دی، دوی نړۍ د یو کلي په مثال بولي او ټولو کفري هیوادونو سره ښې اړیکې غواړي، ولو که دا د اسلام او عزت په پلورلو هم تمام شي، سره د دې چې کفر هیڅکله د اسلام سره نږدې کیدای نه شي، د کفر او کفارو په اړه د اسلام خارجي سیاست درې پالیسۍ لري.

اول د قتال پالیسي.

دویم: د ذمي کفارو (یهود، نصارا او مجوس) څخه جزیه اخستل.

دریم: د هغوی په مطالبه د مسلمانانو د خلیفه لخوا په عمري شرطونو موقت د صلح پالیسي.

خو طالبانو دا یوه هم نه ده اختیار کړې بلکې دوی خپل نظام د ملګرو ملتونو د نظام جزء ګڼي او قاعده دا ده چې په جزوي اداري او نظام حکم، د کل (ټول) نظام حکم فرعه ده، یعنې که اصلي او کُلي نظام کفري وي نو دې ترکیبي اداري او نظامونه به هم کفري وي، ځکه دا نظام د همدغه ادارو څخه مرکب شوی، لهذا هر کله چې د ملګرو ملتونو سازمان کفري سازمان دی نو ترکیبي نظامونه یې هم ټول کفري شو، ځکه دلته خبره د تشریعي قوانینو د تصویب او تردید ده، د پریکړې اختیار خبره ده، او پدې ټولو کې طالبان الله تعالی سره د ملګرو ملتونو مشران شریکوي.

او کوم چې اقتصادي اشغال دی، نو هغه هم ټولې نړۍ ته عیان دی، چې هره اونۍ درته امریکا ۴۰ میلیون امریکایي ډالر رالیږي.

ستاسې د اقتصاد سرچینه امریکا ده ، نو کله چې سرچینه د اقتصاد امریکا شوه نو امر او نهي هم د امریکا شو نو اشغال خپله باقي دی.

دا وګورئ امریکا بادار یې دا خبره هم څرګنده کړه چې دا ډالري مونږ ورکوو، دا بیله خبره ده چې نومونه ورته بدلوي رابدلوي.

Chargé d'Affaires Ka... · 25 Dec 22
له افغانستان سره د بشردوستانه مرستو د سترې مرستندویه ټولنې د استازي په توګه، زه احساس کوم چې زه حق لرم چې د دې وضاحت وکړم چې طالبان څنګه د ښځو او ماشومانو د لوږې د مخنیوي اراده لري، کله چې ښځې نور اجازه نه لري چې نورو ښځو او ماشومانو ته مرستې وویشي.

59 · 10 · 178

Chargé d'Affaires Ka... · 25 Dec 22
دا د قاري دین محمد حنیف پریکړه ده او زه یې هغه مسوول ګڼم.

ډېره جالبه ده چې ځینې متجاهله طالبان د هرې اونۍ ډالري کڅوړو د شرم د پټولو په پار وایي چې دا ډالري مؤسسو ته ورځي، خو لر په دوه ګوتو نه پټیږي، دي بل خوا یې فکر نه ځي چې د افغانستان بانک وخت نا وخته میلیونونو ډالر د داو طلبۍ له لارې د لیلام په ډول پلوري، دا د کومه کیږي ؟ د افغانۍ قیمت ولې دومره جګ دی ؟ د حکومت دا چارې په څه چلوئ ؟ د قوش تیپې کانال او نور سمبولیک کارونو لپاره ډالر د کومه کوئ ؟

مسلمانانو ورونو! تاسې وګورئ د ۱۶ جمادی الثاني څخه ۲۸ جمادی الثاني پورې تقریبا ۱۲ ورځو کې طالبانو (۱۴+۱۵+۱۴+۱۷=۶۰) ۶۰ ملیون امریکایي ډالر د داو طلبۍ له لارې د لیلام په ډول پلورلي دي، آیا طالبان همدغه ۱۲ ورځو کې د خپل نظام ټولو مصارفو څخه ۶۰ ملیون ډالر اضافي لاس ته راوړلی شي ؟

او د ځینو کسانو له خوا چې دا دعوه کیږي چې طالبان خپله بودیجه د خپلو داخلي عوائدو څخه ترلاسه کوي ، نو دا هم هسې د خلکو سترګو ته خاورې شیندل دي، ځکه د طالبانو د کانونو، معدنونو، ګمرکونو محصولاتو او یو شمیر نورو داخلي سرچینو له امله لاس ته راتلونکي عوائدو نشریدونکي ارقام چې دقیق وکتل شي نو دغه عوائد یوازې د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت پرسونل معاشات، البسه، تجهیزات، خوراکي او طبي موادو ته هم بسنه نه کوي، ځکه د ملا یعقوب د خبرو مطابق څو میاشتې مخکې د طالب رژیم د اردو شمیره یونیم لک او د مولوي نور جلال په وینا څه کم دوه لکه پرسونل د وزارت داخله دی ، چې دې څو میاشتو کې به نور هم زیات شوي وي ، نو درې، درې نیم لکه عسکرو ته معاشات ورکول او نورې چارې یې بشپړول ، د طالبانو نشریدونکي ارقام نشي پوره کولای، سره د دې چې حقاني بیا نظامي چورلکو کې ناوې هم راولي، نو هر کله چې د دوه وزارتونو بودیجه نشي برابرولی، نو د ټول نظام بودیجه به څنګه پوره کړي او بیا به ۶۰ ملیون امریکایي ډالر د داو طلبۍ د لارې د لیلام په ډول څنګه وپلوري ؟ واضحه خبره ده چې ټول کمال د امریکا لخوا د دوحې د دستور موافق ډالۍ کیدونکو اونیزو ډالري کڅوړو کې دی.

او دا دی اوس نو د اسلامي خلافت مجاهدینو پرضد جګړه کولو له امله ورته امریکا لخوا نور ډالر هم راروان دي.

آنتونیو جیستوزی، پژوهشگر، در مقاله‌ای که در بی بی سی فارسی منتشر شد، نوشته اشت که در چند هفته گذشته، آمریکایی‌ها برای پشتیبانی از مبارزه طالبان بر ضد داعش، حمایت مالی ۱۰ میلیون دالری در هفته را آغاز کرده‌اند.
این پول، جدا از بسته‌های ۴۰ میلیون دالری است هفته‌وار به کابل می‌رسد.

Translate Tweet

1:21 PM · 14 Dec 22

دا خو ښکاره شمیرې دي نورې پټې به لا څومره وي ؟

مسلمانانو ورونو! آیا اوس هم تاسې د اقتصادي اشغال په اړه کوم شک لرئ ؟

آیا اوس هم تاسې د طالب د غلامۍ په اړه کومه شبهه لرئ؟

خبره نو د خوارلسمې سپوږمۍ په څېر روښانه شوه.

دغه شان چین هم د اقتصادي اشغال په دام کې د طالبانو د راګیرولو کوښښ شروع کړی دی، طالبانو ته د ملګرو ملتونو د رسمیت په مسئله کې مرسته کولو ډاډ په بدل کې ترې ټول کانونه او معادن غلا کوي، خو له هبت الله څخه تر متکي پورې ټول پرې چوپ دي او د رسمیت غږ ته یې غوږونه بوخ نیولي دي.

د ثقافتي او فرهنګي اشغال ثبوت دا دی چې یونیم کال تیریدو څخه وروسته لا هم سیکولر جمهوري نصاب د افغانستان سرتاسري مکتبونو او پوهنتونو کې تدرسیږي، نه کوم بنیادي عقیدوي او فکري تغیر په مطالبو کې راوستل شو او نه هم د تغیر راوستلو کوم اراده او پلان لري، دا نسل چې سبا ستر شي نو ټول به سیکولران وي. معاذ الله.

نور نو چې په د فرهنګي ، ادبي او کلتوري پروګرامونو په پلمه کله د روافضو په شرکي مراسمو کې برخه اخلي کله بیا د ترکي په سفارت کې د ډیموکراسۍ ورځ نمانځي او د ډیموکراسۍ څخه په دفاع کې وژل شوي مرداران شهیدان بولي او ورته دعاوې کوي ، کله بیا د غربیانو په څېر د خپلو وژل شویو مشرانو تلین نمانځي او د یاداشت کتابچې یې اچولې وي او په کې لیکل کوي ددې بیلګې خو بیا له شماره وتلې او دا هرڅه خو لا په ځای پریږده په ډیرو عادي او ورو حرکتونو کې هم د جمهوریت د مرتدینو او د دیموکراتیک دستور العمل موافق د کومې سمبولیکو پروژو ، د هغه پورژو چې جمهوریت پیل کړې ،دوی بیا په پردو بادرنګو اوبه اچوي او د هغوی په څېر یې د پرانستې په مراسمو کې په هوارو شویو قالینو داسې په ناز او ادا روان وي دا به دې یقین راشي چې دوی ته په هره برخه کې آی آیس آی خه پوره روزنه ورکړې ، نو لنډه دا چې په فرهنګي برخه کې تولې کرنې هم همغه پخوانۍ دي هغه که د مرتد امان الله د مراسمو نمانځنه او د هغه مزار ته د ګلونو د ګیډیو ایښودل دي او که ورته نوري کرنې دي .

هر کله چې نظامي، سیاسي، اقتصادي او ثقافتي اشغال شتون لري، نو استقلال له کومه شو ؟

وا متکي! علت د جنګ خو تا اشغال وباله، اشغال مو درته ثابت کړ، نو اوس خو باید ومنې چې د اسلامي خلافت د مجاهدینو جنګ مشروع جهاد دی، ان شاء الله دوی کامیاب دي او طالب ملیشې په دنیا او آخرت کې ناکام دي او که توبې ونه باسئ نو جهنم ته به ځئ، کچیرې د الله خوف او اندک د حق احساس درکې وي اوس به د دې حقیقت اعتراف وکړې.

تاسې خو ټول ملت ولیدلئ لکه څنګه چې ببرک کارمل د شوروي طیاره کې راغي او د شوروي په ټانګ سپور کابل ته رانووت او د هُـرّا (Hurrah) چیغې یې وهلې، حامد کرزی د امریکا په الوتکه کې راغی قندهار کې کوز شو او په امریکایي ټانګ سپور کابل ته رانووت ، همدغه رنګه ستاسې مشران هم د امریکا له استخباراتي هدې قطر څخه په همغسې استخباراتي الوتکه کې قندهار ته رامنتقل شول او کشران مو د امریکا لخوا په ورسپارل شویو امریکایي ټانکونو سپاره په کابل راددننه شول او دادی په امریکایي ډالرو او امکاناتو باندې اوس هم د امریکایي پروژو د تطبیق لپاره په امریکایي طرحو بوخت یاست، نو چې پرون ببرک کارمل او حامد کرزي په خلاف قتال فرض و، نو ستاسې پرضد ولې فرض نه دی ؟ پرون چې د جمهوریت د قتال لپاره زمونږ ستاسې ترمنځ متفق لامل همدا امریکایي اشغال و ، نو نن ستاسې په اړه هم د قتال همدا متفق علیه لامل موجود دی ، څکه به درسره قتال کولای شي تر دې چې تاسې الهي حکم ته غاړه کیږدئ. ان شاء الله.

دویم: متکي دا وویل چې افغانستان کې شرک نشته نو څکه جنګ نه دی پکار!!

انا للله وانا الیه راجعون، متکي! ته کوم شرک یادوې ؟

د بتانو او قبرونو شرک یادوې ؟

که د وضعي قوانینو شرک یادوې ؟

که د رافضیت شرک یادوې ؟ که د سیفیت شرک یادوې ؟ او که د ردت شرک یادوې ؟ دا ټول شرکونه د طالبانو په واکمنۍ کې په پراخه کچه شتون لري.

د طالبانو د واک تر سیوري لاندې لا هم د توحید درک نه ښکاري او ټوله فضا په بول ، بول شرکونو ککړه ده.

ځای په ځای د بتانو شرکي آثار او د قبرونو عبادت پاتې دی. هغه بتان چې بت پرستانو یې عبادت کاوه، خو نن یې طالبان ساتنه کوي. که مونږ تاسې لږ د کابل میوزیم ته سر ورښکاره کړو نو د بتانو ډیری مجسمې به وګورو، د سیکانو او هندوانو عبادت خانې خو هسې هم د بتانو څخه ډکې دي. د کابل میوزیم پرته د بلخ مزار او د افغانستان ټولو ولایاتو کې د تاریخي آثارو، تاریخي ابداتو او تاریخي مقاماتو ساتنې په نوم ډیر زیات شرکونه روان دي، د روافضو بتان، د عبد العلي مزاري، مسعود پنجشیري او نورو خلکو مجسمې او بتان په مختلفو ساحو کې شتون لري. این پي آر (NPR) امریکایي سرچینې پرې هم راپور جوړ کړی هغه وایي:

NPR
@NPR
The last time the Taliban were in power, they smashed ancient statues and other objects in the National Museum of Afghanistan that they deemed un-Islamic and idolatrous.

Now, guards protect the entrance and watch over exhibits.

The last time the Taliban were in power, they smashed ancient statues and other objects in the National Museum of Afghanistan that they deemed un-Islamic and idolatrous. Now, guards protect the entrance and watch over exhibits.

ژباړه: په وروستي ځل چې طالبان په واک کې وو، د افغانستان په ملي موزیم کې یې لرغوني مجسمې او نور شیان چې دوی یې غیر اسلامي او بت پرستي بولي، مات کړل. اوس، محافظین د دخولي دروازو ساتنه او د ننداړتونونو څارنه کوي.

کابل موزیم د طالبانو په فعلي دوره کې

د طالبانو واکمنۍ کې د افغانستان بلخ مزار زیارت کې د خلکو شرکي اقفال

ننګرهار

او همدې کار ته طالبان خپله هم شرک وایي، تاسې د دوی خپلې فتواوې وګورئ، په ۱۶ جنوري ۲۰۲۳ میلادي کال باندې دوی د تاریخي آثارو په نوم د بتانو او مجسمو ساتنې ته یې د شرک او دغه مراکزو ته یې د شرک مراکزو نوم ورکړ.

متکي! اوس وایه ستاسې واکمنۍ کې شرک شته او که نه ؟

راځه اوس درته صریح د قبر پرستۍ شرک دروښایم. هلمند ولایت نهر سراج ولسوالۍ کې خلک یو قبر ته ورغئ او وایي چې دا د فدایانو قبرونه دي مونږ ورته ګونګ ناروغ راوستی و، جګ جوړ شو.

په هلمند ولایت نهر سراج ولسوالۍ کې مشهور روغتون کشف شو.

وزیر صیب خبر کړي چې د بخت ستورى دې وځلید، نور نو ډاکتر، پوهنتون او پردي هېواد ته د تللو هیڅ اړتیا نه شته.

ناروغان په شوراب کې د فدایانو قبرونه ته راولئ، چې شل او ګونګ ورسره ښه کېږي، نو دا وړې ناروغۍ خو یې نسوار هم نه دي.

19.2K views

متکي!! څنګه اوس خو به دې منلي وي چې په افغانستان کې شرک شته ؟ اوس خو به سبب د قتال باقي وي ؟

او ډېر د تعجب مقام دی چې د بت پرستۍ شرک د طالب حکومت په همکارۍ خپرېږي، دا ورته د امریکایانو لخوا دوحه کې ویل شوي او د همدې شرکي عمل د تنفیذ لپاره امریکا د آغاخاني پروژې انتخاب کړی دی او طالبان ورسره رسماً د حکومت په کچه همکاري کوي. د اطلاعاتو او فرهنګ د سرپرست وزیر خیر الله خیرخوا اقرار وګورئ چې د شخصي اقرار سربېره ټول ملت دې ته هڅوي چې د تاریخي مقاماتو او ابداتو په نوم شرکیات قائم وساتي.

RTA Pashto @rtapashto · 07 Dec 22

د اطلاعاتو او فرهنګ سرپرست وزیر ملا خیرالله خیرخوا د "آغاخان"د پراختیایي شبکې له رییس اکبر پیستاني سره په لیدنه کې ویلي، چې د افغانستان تاریخي ابدات او تاریخي ځایونه د ټولې نړۍ لپاره ارزښت لري، ساتنه او بیا رغونه کې یې باید ټول ونډه واخلي.۱/۲

او خپله متکي هم د بت پرستۍ او شرکي مراکزو تاریخ ژوندی ساتلو کې ونډه لري او د آغاخان شرکي بنسټ سره په ګډه کار کوي.

Hafiz Zia Ahmad @HafizZiaAh... · 2c

افغانستان لپاره د اغاخان انکشافي شبکې ځانګړي استازي اکبر علي پسناني د ا.ا.ا. بهرنیو چارو له وزیر مولوي امیرخان متقي سره وکتل
په پیل کې ښاغلي پسناني د بهرنیو چارو وزارت مختته په غزېدلي سړک د خونړۍ حادثې په اړه غمرازي شریکه کړه او په پېښه کې د زخمي شویو کسانو د معالجې په اړه یې... pic.twitter.com/3LeaH2LzSM

آغاخاني د اسماعیلیه شیعه وو یوه فرقه ده، د نولسمې پېړۍ په دریمه نیمایي کې یې په ایران کې یې ظهور وکړ چې دعوت کوونکي یې په لاندې ډول دي:

۱ – حسن علی شاه : دا تن لومړنی اغاخان دی چې د انګلیس لخوا وګمارل شو ترڅو د هغوی لپاره په هند کې د مداخلې زمینه سازي وکړي، نو په همدې اساس یې نزاریه اسماعیلیه ته دعوت پیل کړ له ایران څخه افغانستان ته تبعید شو او له هغه ځایه بیا هند ته تبعید شو چې په ۱۸۸۱ م کې انګلیسانو ورته د اغاخان لقب ورکړ.

۲ – اغا علي شاه دا یې دویم اغاخان دی ۱۸۸۵ – ۱۸۸۱ م

۳ – وروسته له هغه یې زوی (محمد حسن) راځي چې دریم اغاخان دی ۱۹۵۷ – ۱۸۸۵ م دی په اروپا کې پاتې کېدو ته غوره والی ورکوي په ډېرو ملکونو وګرځېده او کله چې مړ کېده نو خپل واک یې لمسي ته ورکړ.

۴ – کریم چې څلورم اغاخان دی ، درسونه یې په امریکایي پوهنتون کې ویلي دي چې په کال ۱۹۵۷ م څخه تراوسه پخپل مقام پاتې دی.

د دې فرقې د عقیدې اساس د اغاخان په تقدس او الوهیت ولاړ دی او پلویان یې د خپلو ګټو وټو(مالونو) څخه پنځمه برخه دده په نوم ورکوي ،یو دوکتور چې کله له اغاخان څخه پوښتنه وکړه چې ته ولې په دې خوښ یې چې تاته دغه خلک اله (معبود) وایي او ستا په عبادت بوخت دي؟ وایي چې دوه وخندل او ویې ویل دوی په هند کې د غوایي عبادت نه کاوه ؟ ایا زه تر غوایي غوره نه یم. همدغه شان دوی د خپل امام خبرې د الله تعالی خبرې ګڼي، دوی د علي رضي الله عنه د الوهیت هم قائل دي او په اتفاق د علماؤ سره آغاخاني ډله کافره ده.

طالبان چې اکثره یې ځان دیوبند ته منسوبوي د دوی د مشرانو په نزد هم آغاخاني فرقه د آغاخان بندګي کوي او دا یوه ګمراه او کافره فرقه ده. [دار الافتاء دار العلوم دیوبند/ فتوی نمبر: ۲۷۸۲/ د اجراء تاریخ: ۲ فروري ۲۰۰۸]

آغا خان د خدمت خلق په نوم مختلفې پروژې په کار اچولي دي، آغا خان پرمختیایي شبکه (AKDN) په نوم شاوخوا ۳۵ هیوادونو کې فعاله ده، دغه رنګ آغا خان فاونډیشن، د آغا خان روغتیایي خدمات، د آغا خان پلان جوړوني او ودانیو خدمتونه، د آغا خان اقتصادي خدمتونه، د مائیکرو فنانس لپاره د آغا خان اداره.

لهذا آغا خانیان د اقتصاد، جوړوني او پرمختګ په نوم په جنګ ځپلي هیوادونو کې خپلې عقیدې ته کار کوي، د مسلمانانو څخه سیکولر جوړولو، د عدم تشدد، امن او منځلاریتوب د شعارونو تر سیوري لاندې د مبارزې په نتیجه کې د اسلامي نظام، جهاد او قتال څخه نفرت زیږوي. همدې پراختیایي شبکې یوه دنده د تاریخي آثارو او تاریخي آبداتو ساتنه ده، چې په دغه نوم دوی پخواني شرکي آثار، قومیت او وطنیت نښې، مزارونه، بتان او داسې ډېری د شرک اسباب ژوندي ساتي ترڅو په خلکو کې دا عقائد رائج شي، اروپایي هیوادونه او امریکا د دې شبکې پراخ ملاتړ کوي.

تاسې ولیدل چې افغانستان کې طالب چاراوکي هم په دغه دام کې قصداً عمداً په شعوري ډول راګیر شول او افغانستان کې د شرکي آثارو د ساتنې پېره طالب مرتدینو په خپله غاړه اخیستې ده.

هر چې اثنا عشریه روافض دي، د دوی شرک خو ټولې نړۍ ته عیان دی او د طالبانو ځینې لوړ پوړي چاراوکي هم له روافضو څخه دي ، اثناعشریه یا امامیه روافض تر ټولو کفارو بدتر کافر او مرتد دي، دا هغه خلک دي چې زمونږ ستاسې د خوږ پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په ناموس باندې بدنامه پورې کوي، دا هغه خلک دي چې قرآن کریم مُحرَّف بولي، ټول صحابه خصوصاً شیخین أبو بکر او عمر رضي الله عنهما کافر بولي، سره د دې چې د هغوی صحابیت د نصوص متواتره ، قطعیة الدلالة غیر متعارض فیها څخه ثابت دی، خو دوی ترې انکار کوي، د دوی د کفر لپاره دا یو علت هم کافي دی، همدغه رنګه په بندګانو کې د الله جل جلاله د حلول قول کوي، د بشر لپاره ألوهیت ثابتوي، د قبرونو او بتانو عبادت کوي، اهل السنت ته د بدکارو خلکو اولاد وایي، د اهل السنت مسلمانانو وینې او مالونه حلال ګڼي.

رجال کشي، الکافي في الأصول، الکافي في الفروع، بحار الأنوار، تفسیر القمي او د شیعه ګانو نورو کتابونو کې داسې کفریات ذکر شوي ، چې کیدایشي د دنیا بل هیڅ کافر به د دغه عقیدې حامل نه وي.

په دې اړه د لا زیاتو مالوماتو لپاره د مؤسسة العزائم څخه نشر شوی کتاب (قطع العرق النابض لأهل الردة الخبثاء الروافض) لوستل مه هېروئ ترڅو تاسې د روافضو اصلي څېره وپېژنئ.

طالبان د دغه اثناعشریه روافضو د شرکي مراکزو ساتنه کوي، هغوی سره دوستي کوي، د هغوی په اقتداء کې مونځونه کوي، د اسلامي خلافت د مجاهدینو پرضد ورسره تړونونه کوي، او هغوی په خپل نظام کې په مهمو دندو ګماري. لکه د اقتصاد وزارت مسلکي معین په توګه ډاکټر عبد اللطیف نظري چې هزاره شیعه دی ، د هبت الله اخوند لخوا ټاکل شوی او د شیخ مدار علي بامیاني په نوم بل رافضي د ملا حسن اخوند لخوا د کور او ښار جوړونې وزارت معین مقرر شو.

Zabihullah (ذبـيح الله م..)
@Zabehulah_M33

خبر:
د عاليقدر اميرالمؤمنين دفرمان له مخې
ډاكټر عبداللطيف نظري داقتصاد وزارت
دمسلكي معين په توګه وټاكل شو.
ډاكټر صاحب نظري دهزاره ورونو څخه ده
او په اقتصاد كې ښه ورتيا لري.

به اساس فرمان عاليقدر اميرالمؤمنين
محترم داكتر عبداللطيف نظرى به حيث
معين مسلكى وزارت اقتصاد تعين گرديد.

Translate Tweet

6:13 PM · 25 Dec 21

Afghanistan SaharTV
@AF_Sahartv

#طالبان دومین مقام از اهل #تشیع را در حکومت کنونی #افغانستان معرفی کرد

«شیخ مدار علی بامیانی» به عنوان معاون وزارت شهرسازی حکومت طالبان منصوب شد.

وی بر اساس حکم «ملاحسن آخوند» نخست وزیر حکومت موقت طالبان به عنوان معاون امور شهری تعیین شده است.

3:31 pm · 1 Dec 2022

د كور او ښار جوړولو وزارت - وزارت شهر...
@MUDH_AF

د کور او ښار جوړولو وزارت لپاره د ښاري
چارو مرستيال او د ده وزارت لپاره دري
نوي رئيسان معرفي شول
١۴۴۴/٠۵/٠۶
د كور او ښار جوړولو وزارت محترم
سرپرست وزير شيخ حمدالله نعماني د يو لړ
مراسمو په ترڅ كې، محترم شيخ مدار علي
باميانی د دغه وزارت د ښاري چارو د
مرستيال په توګه او ١/٨
pic.twitter.com/T3vPwrKBZI

Translate Tweet

په ورته مهال کې د طالب مليشو يو شمير چاروکي سيفيان دي، لکه د لوړو زده کړو وزير يې سيفي دی او دا وزير د هبت الله نږدې کس ګڼل کيږي. څکه يې د کابل ولايت څخه د لوړو زده کړو وزير په حيث وګمارو.

د سيفيانو مشركانو عقائد هم تاسې ته څرګند دي، د سيفيانو مشر پير سيف الرحمن خپل كتاب هداية السالكين في رد المنكرين (طبعه دار العلوم جامعه جيلانيه نادر آباد بيديان روډ لاهور کينټ) کې ډير کفريات ليکلي، بعضې عقائد يې دا دي:

١. وايي زه امام الأنبياء يم.
٢. زما صحبت د نبي عليه السلام د صحبت په شان دی.
٣. وايي الله سره زه په رحمان نوم کې شريک يم او د عرش د پاسه ليکل شوی.
۴. زه او زما مريدان چې کله هم غواړي، انبياء کرام وروحونه حاضرولی شي.
۵. زه او زما مريدان چې هر کله وغواړو د آسمان او زمکې ملائک حاضرولی شو.
٦. مونږ چې وغواړو نو ځان مديني ته بوتللی شو.
٧. پير سيف الرحمن د انبياؤ د جملې څخه دی او قيامت په ورځ به د انبياؤ په ډله کې وي.
٨. پير سيف الرحمن په بدر جنګ کې د نبي عليه السلام توره وه او د ده په برکت مسلمانانو ته فتح نصيب شوه.

او بل ځای کې وايي چې څوک دا دعوه کوي چې بدر کې د نبي عليه السلام توره زه وم، دا کافر دی.
٩. همدې هداية السالكين په پوخ او دننه كتاب كې سيف الرحمن ته قيوم زمان ويل شوي، او سيف المؤمنين كې هم وايي، سيف الرحمن حي او قيوم دی، يعني هميشه ژوندی او د زماني نظام او تدبير چلونکی دی، کامل او مکمل دی. ټول د رب صفات دي، دا يې د الوهيت دعوه ده.





١٠. سيف المؤمنين کې وايي چې زما طريقې نه غير طريقو والا کافر دي او څوک چې سيف الرحمن او د ده مريدان اولياء نه ګڼي، هغه هم کافر دي. څوک چې نبي عليه السلام بشر ګڼي، هغه هم کافر دی.

عبد القادر جيلاني رحمه الله ته غوث الأعظم وايي خو وايي هغه د عبديت په مقام بانديې وو، او سيف الرحمن د هغه نه ٦ درجې

پورته وو. داسې تکفيريان دي چې پټکي(عمامه) لازم بولي او لوڅ سر ګرځيدل يا په سر خولی کيښودل هم د کافرو نښه بولي.

متکي په دې تولو خبرو بانديې ښه خبر دی خو بيا هم وايي افغانستان کې شرک نشته!

همدغه ډول د طالب نظام کې د سابق فاسد نظام ډيری چوروکي او عسکر هم شته چې لا هم د ردت په شرک اخته دي. د کورنيو چارو وزير معين نور جلال جلالي وايي: ٢٧١٦ تنه د تير نظام منسوبين په بيلا بيلو نظامي بستونو کې تعين بس شوي. وزارت دفاع سرپرست يعقوب ملا وايي چې مونږ سره زاړه کارمندان او عسکر شته او متکي وايي خارجه وزارت کې خو اکثر هماغه زاړه کارمندان دي. د بيلګې په توګه تاسې کتلای شئ چې د امريکا قرارداديان يې په لوړو منصبونو ګمارلي دي.

نو د طالبانو کابینه او حکومت د عقیدې په لحاظ سره د آغاخانیانو ملاتړو، روافضو، سیفیانو، سیکولرستانو او نورو مشرکانو څخه مرکب شوی ،نو تاسې اوس وواياست چې آيا طالبي رژيم د شرک او مشرکانو ککړ ډنډ نه دی ؟

آیا علت د قتال باقي نه دی ؟

متکي ! اوس به دې سر خلاص شوی وي.

دغه شان متکي په خپله وينا کې زیاتوي چې افغانستان کې اوس شراب او زنا نشته! عزتمندو لوستونکو دا هم یوازې د حقیقیت څخه سترګې پټول دي، د بهرنیانو ټول میلمستونونه که هغه د چینایانو هوټل و، که انټرکانټیننټل هوټل دی، که سفارت خانې دي ټولو کې د اعلی شرابو پیر او پلور شروع دی، طالب چارواکي دا هر څه ویني خو وايي چې مونږ دې کار سره مشکل نه لرو، بلکې دا کار د طالب په حمایه ترسره کیږي، تاسې به ددې طالب چارواکي څرګندونې اوریدلي وي:

29.3K views

او د فحش کارۍ اډې هم ښه فعالې دي، د چینایانو هوټل چې د برید لاندې راغی د هغې ځینې انځورونه رسنیو کې نشر شوي دي او دا ادعاء هم شوې چې دا هوټلونه د بهرني کفارو د بدکارۍ پرمخ خلاص و او په هغوی باندې هیڅ ډول ممانعت نه و.

او ددوی دغه چارواکي چې پورته يې تاسې تصویر وینئ ، دا خو په صراحت سره وآیي چې خارجي کفار دلته شراب څښي ، که زنا کوي حتې تر دې که هر څه کوي نو دوی مکلف دي چې امنیت يې وساتي او دوی به يې امنیت ساتي .

او د فساد کچه هم ورځ تر بلې په لوړیدو ده، د غصب، چپاول، اختطاف، زورواکي، خپلسري وژنې او نور جرمونه ورځ تر بلې زیاتیږي. نو دا هغه اسباب وو چې ملا متکي د جنګ علتونه بللي وو چې مونږ ورته د الله تعالی په مرسته په لنډو ټکو دا ثابت کړل چې دا ټول اسباب د طالب ملیشو په نظام کې علی وجه الأتم موجود دي، نور خو ددوی اسلام ماتونکي اعمال له شماره وتلي دي ، نو ځکه يې پر وړاندې جهاد داسې فرض عین دی لکه پرون چې د جمهوریت کفري اداري پرخلاف فرض عین و، شهیدان يې مبارک او غوره شهیدان دي او غازیان يې د الله تعالی پر نزد خوښ کسان دي، ان شاء الله.

ملا متکي، هبت الله، سراج الدین، برادر او ټولو باندې غږ کوو چې ترڅو مو دا شرکونه او د شرک مراکز او اسباب له منځه نه وي وړې او مکمل مو د الله دین ته غاړه نه وي ایښې، نو تر هغې به جهاد جاري وي، ولو که د خراسان دا ټول مجاهدین هم شهیدان او اسیران شي، الله عزوجل به نور خلک راپیدا کړي خو دا طمعه مه کوئ چې تاسې به په آرام زړه د کفر پروژې تطبیق کړئ. او په دې تمثیلي او سمبولیکو کارونو څوک نشئ دوکه کولای ، چې یوځای بل ځای یو څو کوړې او دُرې خلکو ته ورکړئ او دې ته د شریعت د حدودو پلی کولو نوم ورکړئ، نن اسلامي امت پوهیږي چې تاسې د حدودو په نوم دغه معمولي تعزیراتو جاري کولو په ترڅ کې د زناکارو، همجنس بازانو، لوطیانو او نورو مجرمینو د ساتنې پخه اراده کړې ده، دا د حدودو په نوم د مجرمینو د امنیت تضمین پروسه ده. د زنا او غلا په حد کې مو بې دلیله شبهات راولاړ کړي دي، د لواطت په اړه خو دغه شبهات هم نشته خو لوطي ته تاسې ۳۰ یا ۳۹ دُرې ورکړئ او هغه بیا پدې کار ډاډه کوئ، ځکه چې هغه ته ۳۹ دُرې خوړل کومه لویه خبره نه ښکاري، سره د دې چې د الله تعالی حدود د معاشرې څخه فساد ختمولو لپاره وي او ستاسې خودساخته جزاګانې د معاشرې د فساد ستر سبب دی، اوس ټول زانیان به همدا اقرار کوي چې مونږ په اجرت زنا کړې ده، مونږ ښځه او خاوند و ، نو د ۳۹ دُرې په وهلو به د معاشرې فسادیان بیا ارتې تڼۍ ګرځي، د یوې پیغلې عزت لوټ کول او د الله تعالی ستر فرمان ماتول تاسې ته ډیره وړه خبره ښکاري، خو پدې کړنو سره ستاسې حکومت هیڅکله اسلامي نشي ګرځیدای، که د اسلامي کیدو همدا معیار وي نو بیا د سعودي مرتد حکومت او انډونیشیا مرتد حکومت تر تاسې زیات اسلامي هیوادونه دي، ځکه چې هلته هم په جرمونو تعزیرات ورکول کیږي.

خو دغه ستاسې نمایشي کړنو سره امریکا او نړیوال کفار هیڅ ستونزه نه لري، بلکې د نړیوالو ویره یوازې د داسې دولت څخه کیږي چې هغوی په سیمه کې د الله تعالی دین په کامله توګه نافذ کړي. او همدې مقصد لپاره طالبانو ته پیسې ورکوي ترڅو د اسلامي خلافت پرضد وجنګیږي.

متکي!! اوس به دې زمونږ د قتال علت او سبب درک کړی وي، چې افغانستان کې لا هم اشغال، شرک او فتنه پاتې ده، او الله تعالی فرمايي: {وقَاتِلوهم حتَّى لا تَكونَ فِتْنَة ويكونَ الدِّينُ كُلَّهُ للهِ}. ژباړه: اې مؤمنانو! له دوی سره تر هغه پورې وجنګیږئ چې فتنه پاتې نه شي او ټول دین د الله لپاره شي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه وايي: فإذا كانَ بَعضُ الدِّينِ للهِ وبَعضَه لغيرِ الله وَجَبَ القِتَالُ حتَّى يكونَ الدِّينُ كلَّهُ للهِ.“ [الفتاوی الکبری ج ۳ / ص ۵۳۵]

ژباړه: کله چې نیم دین د الله او نیم غیر الله لپاره وي نو تر هغې قتال واجب دی، چې ټول دین د الله جل جلاله شي.

دا د الله تعالی د کتاب قطعي نص دی چې د فتنې یعنې شرک د وجود پرمهال جهاد او قتال فرض عین دی. بل داچې متکي بار بار دا یادونه کوي چې د خلافت مجاهدینو تر اوسه په نظامي ځایونو باندې بریدونه نه دي کړي، او په دې خبرو سره د خپلو دروغو یو نړیوال ثبوت خلکو ته وړاندې کوي ، د اسلامي دولت مجاهدینو ته خو لومړی په تاسې کې نظامي او ملکي ویش کومه مانا نه لري خو حقیقت دادی چې الحمد لله مونږ ستاسې نظامي اهداف دومره ډیر په نښه کړي دي چې دادی ته مو په زاریو مجبور کړې ، او اوس نو په مختلفو طریقو د جنګ د ودریدو هڅې کوئ ، راځه چې یو څو بیلګې يې بیا ددې لپاره دریادې کړو چې له ډاره مو خولې وچې شي ، لکه د کابل سردار داود خان څلورصد بستر روغتون برید چې د بدري لښکر قومندان مولوي حمد الله مخلص په شمول لسګونه نظامیان پکې ووژل شول، د کابل د پل چرخي د محبس په ساتونکو برید، مزار کې، په هرات کې څو ،څو ځل په نظامي کاسټرو برید چې له طالب ملېشو به ډکې وې ، د کابل دعسکري میدان په کارمندانو برید،د وزارت داخله په کارمندانو برید ، له باګرامه کابل ته په راتلونکي طالبي قافله موټر بم برید لنډه دا چې کوم کوم به يې دریادوو، کونړ او مامند دره ننګرهار کې په پوستو باندې هجومي بریدونه او په نظامي وسایطو انفجارات او د نظامي طالبانو هدفي وژنې خو له شمیره بهر دي، لهذا دا دعوه دې بې ځایه ده.

دویم جواب دا دی چې متکي مونږ ستا او ستا د بادارنو پدې تکتیک پوهیږو چې ستاسې د دې خبرې څخه څه هدف دی ؟

ستاسې هدف دا دی چې مجاهدین به د دغه خبرې له امله یوازې په نظامي اهدافو پیل وکړي او ستاسې د دیموکراتیک

نظـام د تطبیـق اصـل اداري بـه محفوظې شي، ځکـه دا د نړیوالـو کفـارو لخـوا وضـع شـوی قانـون دی چـې د دښـمن نظامیـان پـه نښـه کـول روا دي او ملکـي اداراتـو یـا غیـر نظامـي اهدافـو پـه نـوم یـې د سـیکولریزم اصلـي اداري محفوظې کـړي دي، خـو للـه الحمـد مجاهدیـن د دښـمن دغـه ټولـو دسیسـو تـه ځیـر دي او د خپلـو بریدونـو اهـداف د نظـام هغـه سـتنې منتخبـوي چې پـه هـدف ګرځولو یـې د نظام مـلا ماتیـږي، د رحیـم حقاني پـه څیـر نـاکاره ملایـان چـې د طالبانو د نظریـې خپرونکـي وو، کابـل کـې د تعلیم او تدریـس پـه نـوم یـې د زرګونـو پـه تعـداد کې طالـب وسـلوال په خپلـه باطله فکـره روزل، او اعلامـي تبلیغات یـې لا جدا و، نـو په یـوه نظامي پوسـته بانـدې برید پـه نتیجـه کـې حـد اکثر لـس نظامیـان د منځـه ځـي او د رحیـم حقـاني وژنـې پـه صـورت کـې مجاهدیـن د راتلونکـي وخت زرګونـو انسـانانو د فکـري وژنـې مخـه نیـسي. نـو تاسـې دغـه فارمولې لـه ځان سره کیـږدئ، مونـږ تـه د جنـګ چلونه مه رابښـایئ، ډیـره عجیبـه ده، زما عـالم وژني، زمـا ماشـوم وژني، زمـا زنانـه وژني خـو خپـل بلاعمـه د لاسـه ورکولـو له املـه بیا ژاړي او وایـي دښـمن ډیـر بزدلـه دی چـې زمونـږ د زرګونـو انتحاریانـو روزنکـی یې راووژه!! دا منطـق مـو بـل چاته ووایاسـت! متکـي مونـږ پوهیـږو چـې ستاسـې زړه د دغـه نـاکاره ملایانـو پـه وژنـې پرهـر پرهـر دی، په خارجیانـو مـو زړه دوه نیمه شـوی دی، د خارجـه وزارت پـه مسـلکي او روزل شـویو کدرونو د لاسـه ورکولـو مو د غـم اوښـکی نـه ودریـږي ځکه مونـږ هم ستاسـې د نظـام همدغـه د ضعـف نقـاط پـه نښـه کـوو. والحمـد للـه. د خارجـه وزارت بریـد لـه املـه خـو ستاسـې د زړه څخـه وینـې شاخي، ښایسـته بیلګـه یې د وزارت خارجـه هغـه اعلامیه ده چـې وایي: د ا.ا.ا بهرنیـو چـارو وزارت تـه څېرمـه د دیـن، انسـانیت او بشریـت دښـمنانو پـه یـوه تروریسـتي بریـد کـې چـې د یـاد وزارت یـو شـمېر غښـتلي او مسـلکي کدرونـه او عـام هیـوادوال شـهیدان او ټپیـان کـړل ...



د هیـواد والـو پـه نـوم الحمـد للـه نـور څـوک نشـئ دوکـه کـولای، همدا ستاسـې غښـتلي او مسـلکي کدرونـه پـه نښـه شـوي او د کلکـو ټکـو پـه اسـتعمال مـو د زړونـو دردونـه لـه ورایـه معلومیـږي. ولله الحمـد والمنـة.

او بعضـې پکـې لا دا خـبرې هـم ډیـرې پورتـه، پورتـه کـوي چـې دیپلوماتانو کې یـو کـس د اوه خوینـدو یوازینـی ورور و، او بهرنیـو چـارو وزارت کـې د دیپلوماتانو د فاتحـې غونـډه کـې یـې پـلار سـخت وژړل چـې یـو زوی مـو و هغـه هـم لاړ او نسـل مـې ختـم شـو، او دې سره د خلکـو احساسـات راپـارول غـواړي او د اسـلامي خلافـت بریدونـو څخـه د ځـان پـه نفـع تبلیغـات کـول غـواړي نـو مونـږ دغـه طالبانـو تـه وایـو چـې لـه تاسـې څخـه پرونـۍ خـبرې هیرې شـوې چـې کنړ کې د اوه خوینـدو یوازینی ورور مرتد نظام اردو کـې وژل شـوی و نـو تاسـې تـرې ټوقـه جـوړه کـړه او هـر مرتـد پـه وژلـو بـه مو همـدا ویـل چـې نـن یـو بـل د اوه خویندو ورور ووژل شـو، نـو نـن هماغـه اداره ده، هماغـه نظـام دی، د هماغـې امریـکا پـه ډالـرو چلیدونکـی نظـام دی، پرون تاسـې وژل خیـر و، خـو نـن مونـږ د اللـه تعالی د حکـم مطابـق ووژل نـو اوس پـرې د ویـر ماتمونـه کـوئ؟؟ سره د دې چـې مونـږ په کراتـو د دې مامورینو خیرخواهـي کړې ده چـې ځـان د کفـري نظـام خدمـت څخـه لـرې وسـاتئ خـو چـې دوی بیـا هـم د شرکـي حاکمیـت تنفیـذ تـه ملاتړلـې ده نـو حتمـا بـه وژل کیـږي. همـدې منبر څخـه د طالـب ملیشـو حکومـت کـې کارکونکـو ټولـو مامورینـو ته یوځـل بیا د خیرخواهـۍ ډک پیغـام ورکـوو چـې د هر نوعـه رسـمي دنـدې څخـه لاس پـه سر شـئ، ولـې خپلـې ځوانـۍ د کفـري نظام پـه دفـاع رژوئ، آیـا تاسـې نـه خوښـوئ چـې خپـل اسـتعدادونه د اسـلامي نظـام نـصرت کـې اسـتعمال کـړئ؟ کـه د اسـلامي نظـام نـصرت نشـئ کـولای نـو حـد اقـل د کفـري نظـام ملاتـړ خـو مـه کـوئ. بیـا بـه سـبا دا ګیلـې نـه کـوئ چـې زمـا همـدا یـو زوی و. ځکـه د احد جنـګ څخـه وروسـته د مکـې مشـهور شـاعر ابـو عـزه الجمحـي مسـلمانانو ونیـوه او بیـا یـې د هغـه د وژلـو امـر وکـړ، هغـه وویـل ای محمـده (صلـی الله علیـه وسـلم) مـا وبخـه. سره د دې چـې بـدر کـې ده د نبـي علیـه السـلام څخـه د ترحـم او شـفقت مطالبـه کـړې وه او همـدا عـذر یـې وړانـدې کـړی و چـې زمـا لورګانـې دي، زامـن مـې نشـته نـو نبـي علیـه السـلام پریښـی و او عهـد یـې تـرې واخیسـته چـې زمونـږ خـلاف بـه بیـا خپلـه ژبـه نـه خوځـوې، خـو نـن یـې چـې بیـا لـوظ مـات کـړ، د مشرکینو صـف کـې عمـلاً ولاړ و، نـو دې ځـل یـې ورتـه د لورګانـو د ډیـروالي لحـاظ ونه کړ او ویـې واژه. [سـیرت ابـن اسـحاق]

عزتمندووروونو!

د طالـب ملیشـو د نظـام جوړښـت او اسـاس په غیـر اسـلامي او شرکـي قوانینو بنـاء دی خـو پـه ځانګـړي ډول خارجـه وزارت یـې د خارجـي کفـارو پـه غلامـۍ کـې تـر ټولـو نمبر وړی دی، همـدا لامـل و چـې د جـنرال فیـض حمیـد لخـوا دې دنـدې لپـاره د متقـي پـه څیـر یـو متملق او چاپلـوس انسـان منتخـب شـو، دا هغـه کـس دی چـې د کفـر او ردت پـر وړانـدې د تریخـوالي هیـڅ مـاده نـه لـري، د ده ضمیـر او وجـدان دومـره مـړ دی چـې یو حـرف هـم د کفـارو پرضـد نـشي ویـلای او نـه یـې د بـل له خولـې زغمـلای شي او پـه معـاصر نړیـوال سیاسـت کـې همیش هغـه مرتـد ځلیـږي چـې دغـه دوه صفات پکـې پـه اعلـی درجـه وي: چاپلـوسي او بـې غیـرتي. همـدا متکـي کلـه یـوې فاحشـې زنانـه تـه لاس پـه نامـه ولاړ وي او کلـه بلـې تـه، دادی د ابـن خطل لمسـۍ تـه د سـپینو جامـو او لونګیـو سره لـه خندا شـین، سـترګې په اسـتقبال ولاړ دې.

د طالبانـو خارجـه وزارت افغانسـتان کـې د بیـن المللـي کفـري سـازمان نماینـده او ترجـمان ګڼـل کیـږي، پـه معـاصره دیپلوماسـۍ کـې د ټولو خارجي پالیسـیو، نړیوالـو قوانینـو، د بشر د حقوقـو، ټولنو، د نـړۍ بیـلا بیلـو معیارونـو، د غلامیـو او د خارجـي توطئـو او دسیسـو د تقاضـاؤ موافـق خپـل نظـام برابـرول د دغـه وزارت دنـده ده. پـدې اسـاس دغـه وزارت د ځانګـړي اهمیـت حامـل دی او همدا علت و چـې دا وزارت د بیـن المللـي قـواوو لخـوا متکـي تـه روغ جـوړ وسـپارل شـو، چـې متکـي د رسـنیو پـه مرکـز کې خپلـه پدې الفاظـو اقـرار وکـړ: [للـه الحمـد پـه ټـول تحـول کـې د بهرنیـو چـارو وزارت کې یو نـټ هـم نـده ضایع شـوې، یـو کاغـذ هم نـه ده ضایـع شـوی. یـو قلـم هـم نـده ضایـع شـوی. یـو راز هـم نـده د بانـدې وتلـی.]

نـو اوس تاسـې فکـر وکـړئ چـې د کفـر دغـه غـلام بـه څنګـه د حـق څرګندونـې وکـړي؟ چـې حـق ووایـي خـو څوکـۍ او منصـب تـرې ځـي، د امریکایانـو او آغاخانیانـو لخـوا ډالر پـرې بندیـږي، همدا دوی لپـاره د ډالـرو ګټلـو ښـه فرصـت دی او دوی کوشـش کـوي چـې یـوه لمحـه هم ضایـع نه کـړي ځکه خپـل مسـتقبل ورته تیـاره ښـکاري، لـه آخـرت خـو هسـې هم نااميـده دي خـو د خپـل دولـت راتلونکـی حالـت ورتـه ښـه نـه بریښـي، مـشران یـې پـه یـوه خولـه نـه دي، د یـو بـل ضد او نقیـض کارونـه کـوي، همـدې خارجـه وزارت کـې لا نظـم نـدی جـوړ، متکـي کفـارو او ګاونډیـو مرتدینـو تـه چاپلوسي وکـړي، ځـان ورتـه نـږدې کـړي، هلتـه د بهرنیـو چـارو وزارت سـیاسي معیـن او د مـلا متکـي سـیاسي رقیـب سـتانکزی چـې ځـان د بهرنیو چـارو وزارت مسـتحق ګڼـي، وغړمبیـږي، ګاونډیـو تـه هـم بدې ردې ووایـي ځکـه وایـي چـې ماتـه دغـه ډالـر نـه رسـیږي نـو متکـي بـه یـې هـم رانـه ونـه څکـي، نـو د متکـي ټـول تملق، چاپلـوسي او روابـط د منځـه لاړ شي او بیا د سره کوښـښ شروع کـړي ترڅـو ځـان ډیـر معتـدل او روښـن خیـال وښـایي. او پـه عمومـي سـطحه خـو یـې ترمنـځ د اختـلاف کچـه ورځ تـر بلـې پـه لوړیـدو ده، حقـاني ډلـه، بـرادر او مـلا یعقـوب ډلـه او هبـت اللـه ډلـه، دا درې برجسـته قوتونـه د یـو بـل مخالـف دي او پـه خپل منـځ کـې د واک او د ډالـرو پـه ویـش سره لاس او ګریـوان دي نـو پـه داسـې صـورت حـال کـې هـر یـو کوښـښ کـوي چـې جیـب ډک کـړي، خـارج او پاکسـتان کـې شـتمنۍ پرځـای کـړي، کورونـه ځـان ته جـوړ کـړي، کـه سـبا یـې حکومـت ړنګ شـو چې د اسـتوګنې ځـای یې برابـر وي. نـو ځکـه مـلا متکـي مجاهدینـو تـه د زارۍ پـه شـکل ژړا کـوي او وایـي چـې ولـې جنـګ کـوئ؟ د حـال پـه ژبـه وایـي چـې بـس کـړئ لـږ مـو مـزو چړچـو تـه پریـږدئ، دا څـو ورځـې واکمنـي رابانـدې مـه تریخـوئ! نـو مونـږ ورتـه وایـو چـې توبـه وباسـئ او د اللـه تعالـی دین سـل په سـله نافذ کـړئ ولـو کـه یـوه ورځ واکمني هـم ولـرئ، او کچیـرې توبـه نـه وباسـئ نـو بیا د رحـمان ذات لښـکرو لخـوا د نورو مرګـوني استشـهادي بریدونـو انتظـار هم کـوئ تـر دې چـې اللـه عزوجـل زمونـږ او ستاسـې ترمنـځ پریکـړه راولیږي.

د حق محک

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو : د حق محک د لړۍ په دې برخه کې هم د طالب ملېشو له لوري د ځینو هغه شبهاتو ځواب کوو چې دوی یې په اسلامي دولت واردوي حال دا چې ددوی ټولې دعوې ، شبهات او اعتراضونه هسې د اوبو د ځګ په څېر دي ،**طالبان په ډېره سپین سترګۍ او په بې اساسه ډول دا ادعا لري چې ددوی امېر المومنین (!) ملا عمر موجود وو، نو هغه وخت د خلیفه المسلمین ابوبکر البغدادي تقبله الله ټاکل په کار نه وو، نو شریعت کې په داسې حال کې د دویم امېر اجازه نه شته او دویم امیر باید قتل شي.**

راځو او ددوی دغه بې بنیاده او له درواغو ډکې شبهې ته ځوابونه وایو .

اول جواب: لومړې خو چې کله ملاعمر ژوندی و، نو هم هیڅ وخت هم دا دعوه نه ده کړې، چې زه د ټولې نړۍ د مسلمانانو امیر یم او نه د دوی په مزاج کې دا شته ، نه یې دا سیاست دی او نه پالیسي ، ځکه ددوی د قوانینو مصدر قران او سنت نه دی بلکې له همغه لومړي سره یې کفري نړۍ سره معاملامات او موالات ددوی د قوانینو تطبیق او عملي کول اجنډا وه ، بلکې کله چې دوی واک ته رسیدلي، د نړۍ مسلمانان یې هیر کړي او د مسلمانانو عوض کې د هماغه ملک کفري نظام سره روابط ټینګ کړي او رسمي دیپلوماتیک روابط یې ورسره شروع کړي دي، او ښه راشه او درشه یې ورسره کړې ده، او کله چې هم د همدې کفري هیواد کسان افغانستان ته راغلي دي، ښه قدر او عزت سره یې طالبانو قدرداني او میلمستیا کړې او بیرته یې په امن طریقه سره او د ښه مزیدارو سوغاتونو سره یو ځای لیږلي دي....

نو دوی په کراتو دا ثابته کړې، چې دوی خپل مشر ته شوقي د امیر المومنین لقب انتخاب کړی دی ، نور نه په کې د امیر المومنین صفت شته او نه دوی دا دعوه کړی او نه هم شریعت دوی ته دا اجازه ورکوي چې د نړۍ کفارو سره د شرکي معاهدو په لړ کې د هغوی د امنیت تضمین کونکې دې بیا ځانته د امیر المومنین لقب هم ورکړي، نو دلته د طالبانو دې سوال ته د دوی خپله تګلاره ځواب ورکوي، چې دوی قطعاً عالمي فکر نه لري او نه یې کړی دی نو څوک چې د ټولې نړۍ د مسلمانانو د امیریه حیث د ځان نومولو دعوه کوي، دا به عالمي فکر لري او عالمي جهاد ته به ژمن وي، د وطني او قومي جګړو ترسره کونکو ته هیڅ وخت هم شریعت د امیر المومنین لقب نه دی ورکړی او نه یې ورکوي.

دویم جواب :

شریعت کې یو امیر المومنین یعني خلیفة المسلمین دی چې شهادت نه وروسته به یې بل کس تعینیږي او مسلمانانو ته به یې ابلاغ رسیږي، تر څو خلک ورسره راټول او د مسلمانانو جماعت منظم پاتې شي ، چې دا خبره شریعت کې بار، بار تکرار شوي، بهترین مثال او الګو یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رحلت موضوع ده، مخکې د هغه د تکفین او تدفین څخه د مسلمانانو لپاره ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلیفه تعیین کېږي او حتی سیرت لیکي چې درې ورځې همدې موضوع ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم جنازه معطل شوې ترڅو د مسلمانانو عمومي امیرالمومنین تعیین شي.

اوس راځو دې خبرې ته چې آیا کله خلیفة المسلمین ابوبکر البغدادي تقبله الله تعالی خلافت اعلان کړ آیا نړۍ کې بل خلیفه او امیر موجود وه که نه؟

دې خبرې لپاره یو ځواب خو مخکې وشو، چې قطعاً نه ، د طالبانو په شمول هیچا د خلافت او خلیفة المسلمین دعوه نه وه کړې.

دویم جواب یې سیاسي او منطقي کوو هغه دا چې طالبانو اعلان وکړ چې ملا محمد عمر د توبرکلوز تبې له امله په 1392هجری کال د ثور د میاشتې په څلورمه نیټه چې د 2013 میلادي کال د اپریل له 24 سره سمون خوري د چهار شنبې په ورځ د مازیګر پر مهال ساه ورکړه.

چې بلاخره طالبانو دا هر څه پټ کړل او کلونه یې د یو داسې کس مرګ چې د دوی په ګمان باندې امیر المومنین (!) هم دی مخفي وساته او د هغه په نوم یې داسې لوبې وکړې چې هم یې خپل دا تور تاریخ نور هم ورتور کړ او هم یې د یو وفات شوي کس پسې تهمتونه وتړل چې ملا صاحب داسې وایي او ملا صاحب هغسې وایي که د اسلام تاریخ کې چیرې هم د نظامي (عسکري) امیر مرګ موقت وخت لپاره پټ شوی وي، خو داسې دروغ او دوکه خپل رعیت سره هیچا نه ده کړې، چې د یو مړي په نوم یې فرمانونه صادر کړي او داسې کار یې نه دی کړی چې کلونه ،کلونه یې خلک د مړي په نوم دوکه کړي وي.

بلاخره 1394 هجری کال د زمري میاشتې په اتمه چې 2015 میلادی کال د جولای 28 سره سمون خوري کله چې طالبانو دا چل او دوکه نوره رسوا شوه مجبوره شول د ملا محمد عمر د وفات کیسه یې رسمي تایید او خپره کړي ،

zabihullah mujahid @Zmujahid1 · Jul 30
اعلامیه شورای رهبری امارت اسلامی وفامیل عالیقدر امیرالمؤمنین درمورد وفات عالیقدرامیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله justpaste.it/mosg
View translation
RETWEETS 23 FAVORITES 15
6:33 AM - 30 Jul 2015 · Details

ځکه ملا عبدالقیوم ذاکر طالبانو ته نیږدې کس کلونه مخکې د ملا محمد عمر د وفات کیسه هر مجلس کې کوله چې آخر مجبوره شو نور یې د ملا محمد عمر د فاتحې مجالس هم څو ولایتونو کې دایر کړل چې همدې کار د طالبانو نور چارواکې مجبوره کړل تر څو خپله دا توطیه شکاره کړي .

یعني طالبانو د ملا محمد عمر وفات دوه کاله او درې میاشتې او څلور ورځې پټ ساتلې وو، او د ملا صاحب په نوم یې سیکولر امارت لپاره نوي کسان انتخاب او لوړو پوستونو ته یې ورسول.

بیرته راځو خپل منطقي او سیاسي ځواب ته هغه دا چې :

د 2013 کال د اپریل ۲۴ نیټې څخه تر کال 2015 جولای میاشتې 28 پورې نړۍ کې هیڅ څوک د امیرالمومنین او یا خلیفة المسلمین په نوم موجود نه وو ، که مړی او یا د ځمکې لاندې کسان حساب کړو خو بیا اول باید ملا محمد عمر قتل شوی وی ، ځکه له دې مخکې هم خلیفة المسلمین او هم امیر المومنین په ټولو شروطو برابر د ځمکې لاندې موجود و، نو بیا ولې ملا صاحب انتخاب شو؟

ټول فقهاء لیکي چې د یو کس وفات سره د هغه امارت ختمیږي، نور د هغه کس دوسیه ترل کیږي او باید د مسلمانانو لپاره نوی امیر تعیین او اعلان شي.

نو همداسې وخت کې چې د نړۍ په سطحه یو ژوندی امیر المومنین او یا خلیفة المسلمین نشته ، په کال 1393د سرطان میاشت اتمه چې د 2014 میلادی کال د جون 29 سره سمون خوري ابوبکر البغدادي تقبله الله تعالی خلافت اعلان کړ،

چې له ټولې نړۍ څخه ورسره بیعتونه شروع شول او د طالبانو په منځ کې هم دا ګنګوسې راپورته شوې، چې ملا صاحب ولې بیعت نه کوي او یا چېرې دی، بس همدا دوه وجوهات وو، چې نور یې د طالبانو ملا ورماته کړه او مجبوره شول چې خبره رسوا کړي یو د ملا عبدالقیوم ذاکر د فاتحه نیولو مجالس او دویم د خلیفة المسلمین ابوبکر البغدادي تقبله الله لخوا د خلافت اعلان وه، چې بیا طالبانو کال 2015 د جولای په28 تاریخ کې کله چې د ملا محمد عمر د وفات خبره نشر کړه، نو دویم مشر یې اختر منصور اعلان کړ اوس تاسې قضاوت وکړئ چې دلته اولنی امیر المومنین او خلیفه څوک دی ؟ کوم یو موجود و او بیا څوک د استخباراتو په مشوره راپورته شو او د امیر المومنین لقب یې ځانته ورکړ؟

د طالبانو همدا شبهه ایجادول هم په همدوی باندې د رد دلیل دی او باید خپله دوی اوس د خپلې شبهې د دفاع لپاره هیبت الله قتل کړي ځکه له دې مخکې عراق او شام کې خلیفة المسلمین موجود وه.

داسې وخت کې خلیفة المسلمین ابوبکر البغدادي تقبله الله خلافت اعلان کړ،چې نړۍ کې یو کس هم د امیر المومنین په نوم موجود او ژوندی نه وه ،نو دا اعتراض د طالبانو هم د دوی په خپل مخ باندې کلک ګذار دی .

دویم سوال :

طالبان وایي چې خلیفه باید اهل العقد شورا له لوري تعیین شي او باید له نورو جهتونو سره مشوره وشي.

جواب:

اوله خبره دا ده چې مخکې واضحه شوه،چې دنیا کې هیڅ څوک د خلیفة په نوم نه وه، نو ځکه د عراق او شام مجاهدینو د نورو لوی تعداد مجاهدینو سره یو ځای خلافت اعلان کړ او وروسته د مجلس شورا مجاهدینو فیصله وکړه او امیر المومنین ابوبکر البغدادي تقبله الله یې د خلیفه په نوم اعلان کړ.

اوس راځو دې ته چې کوم کس چې د ملا محمد عمر ساتنه یې کوله ، رسمي یې وویل چې ملا محمد عمر تر آخري سلګیو پورې یو کس باره کې هم ونه ویل چې فلانی له ما څخه وروسته امیر تعیین کړئ، بلکه تر څو چې وه خپله به یې کار کولو یعنې په وروسته امیر باندې یې وصیت هم نه دی کړی ، نو اوس سوال دا دی چې طالبه ! ته چې خلافت باندې دا اعتراض لرې چې خلیفه اهل عقد باید تعیین کړي، دا ستاسې مجلس کې څوک اهل العقد وو ؟

تاسې چې اختر منصور تعیین کړ چا سره مو مشوره وکړه ؟ څوک ستاسې د اهل العقد په شورا کې موجود وو؟

غیر د څو پاکستاني مدرسو له ملایانو څخه بل کوم کس دې مشوره کې وه ؟

او آیا تاسې د خپل تنظیم څخه غیر دنورو مسلمانانو سره د اختر منصور تعیین کې مشوره وکړه ،چې بیا خلافت باندې دا اعتراض لرئ ؟

کله چې اختر منصور تاسې تعیین کړ، دې وخت کې الحمدلله عراق او شام کې خلافت اعلان شوی وو، د مسلمانانو یو قوت موجود وه ،تاسې ولې دوی سره مشوره ونکړه چې موږ خو ضعیف هم یو، ځای هم نه لرو څه وکړو ؟

حال دا چې د اسلامي خلافت مشرانو د ملا عمر په نوم همدې طالبانو ته خط استولی وه ، خو دوی دا سوچ کولو چې څنګه د ملا محمد عمر په نوم باندې د عراق او شام مجاهدین دوکه کړي، خو الحمدلله دې کار کې کامیاب نه شول او مجاهدینو خلافت اعلان کړ، د امارت څخه هم مخلصین راغلل او خراسان ولایت یې تشکیل کړ او په امارت کې یوازې چرس فروشان او قاچاقبران او د استخباراتو ایجنټان پاتې شول چې آخر هم د دوی دا کثیفې خیرې الله رب العالمین شکاره او بربنډې کړې.

د الله حد او د طالبانو بد ۲

۲ـ لواطت او د هغې حد:

دخراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! تاسې ددې مقالې لومړۍ برخه د مجلې په اولسمه ګڼه کې لوستې وه چې په کې د حدود په فضایلو ، د حدودو په اقسامو ، زنا په حد او د زنا د حد د تثبیت په لارو او طریقو او نورو اړوندو ګڼو مطالبو بحث شوی وو او په دې برخه کې مو دا هم لوستي وو چې د الله عزوجل حدود څه ډول دي او طالب ملېشې یې په کوم هدف په کومه طریقه تطبیقوي راځئ د مقالې په دې دویمه برخه کې به د مجلې په دې ګڼه کې د حدودو له ډلې د لواطت په حد وغږیږو او په دې به هم رڼا واچوو چې دا حد څه ډول باید تطبیق شي او طالب ملېشو یې د تغیرولو په برخه کې په کوم هدف څه ډول کار کړې دې په دې هیله د ماقلې دا برخه هم تر پایه ولولئ .

مخکې له دې چې د لواطت حد ته راشو نو غواړم د قران او سنت څخه د لواطت ناوړه عمل ته کتنه وکړو.

لواطت هغه لوی فاحش او ناکاره عمل دی ، چې حتی په حیواناتو کې هم نه لیدل کیږي. دا هماغه عمل دی، چې عاملینو ته یې رب العالمین داسې عبرتناکه سزا ورکړی ، چې تاریخ کې د بل چا سره داسې نه دی شوی!

د لوط علیه السلام قوم کې همدا ناکاره عمل و چې لوط علیه السلام بار ،بار له دی عمل څخه خپل قوم منعه کاوه، چې په مختلفو سورتونو کې یې رب العالمین تذکره کړې:

قال تعالی: وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعَالَمِينَ [80] إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ [سُورَةُ الأَعرَاف : 81]

ژباړه: او مونږ لوط (علیه السلام) د پیغمبر په حیث ولیږه،ـ نو یاد کړه ـ کله چې هغه خپل قوم ته وویل: "ایا تاسې داسې بې حیا شوي یاست، چې هغه شرمناك كار (لواطت) کوئ چې ستاسې څخه مخکې په نړۍ کښې هیچا نه دی کړی؟

تاسې ښځې پرېږدئ، نارینهٔ ته په شهوت سره راتلل کوئ، حقیقت دا دی چې تاسې بیخي له حده تېرېدونکي خلك یاست."

خو هغه قوم د لواطت په نشو کې داسې ډوب شوی و چې د رب العالمین د رالیږل شوي استازي په خبرو یې کومه پروا ونکړه تر دې چې عاقبت یې دا شو چې رب العالمین ورباندی د کاڼو باران شروع کړ او ځمکه یې ورباندی پر بل مخ واړوله او له ځمکې له مخ څخه یې پناه کړل:

فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ [سُورَةُ هُود : 82]

ژباړه: بیا کله چې زمونږ د فیصلې وخت راورسېده، نو مونږ هغه سیمه په بل مخ نسکوره کړه او پر هغې باندې مو د پخې شوې خټې د تیږو باران وورو.

بل ځای الله عزوجل فرمایي: فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ [73] فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ [سُورَةُ الحِجر : 74]

ژباړه: په پای کښې د لمر له ختو سره سم هغوی یوې قوي چیغې ونیول.

او مونږ هغه سیمه پر بل مخ نسکوره کړه او پر هغو مو د پخې شوي خټې د تیږو باران ووروه.

وروسته ایات کې الله تعالی فرمایي چې دې واقعه کې د مؤمنانو لپاره عبرت پروت دی: إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ [سُورَةُ الحِجر : 77]

ژباړه: په هغې کښې د ایمان د خاوندانو لپاره د عبرت درس دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې د دې عمل ډیر قباحت بیان شوی، بلکې په داسې خلکو رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی:

عَنْ عِكْرِمَةَ ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : ...لَعَنَ اللَّهُ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ " . قَالَهَا ثَلَاثًا .[مسند

أحمد] ژباړه: عکرمه د ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د الله لعنت دی وي په هغه چا چې د لوط (علیه السلام) د قوم عمل (لواطت) کوي.

اسماني شریعت په اتفاق سره د دغه ناوړه چلند په وړاندې مبارزه کړې ده. ځکه چې د ټولنې د بقا اساس تناسلیت دی او جنسي فحاشي د هغې په وړاندې خنډ دی او د دې ناوړه عمل په پایله کې ټولنه د تباهۍ او زوال سره مخ کوي، برسېره پر دې، د دې عمل ترسره کولو په وجه انسان د سړيتوب روحیه له لاسه ورکوي او په پای کې نشي کولی هغه حیاتي او ټولنیزو دندو ته وده ورکړي، چې د رېښتیني مردانۍ روح ته اړتیا لري.

نو کله چې لواطت یو لوي او فاحش عمل دی نو د رب العالمین په شریعت مطهره کې د دې خلکو حد او سزا هم قتل ده لکه حدیث د ترمذي کې نقل دي: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ , قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ , فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ , وَالْمَفْعُولَ بِهِ [جامع الترمذي]

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې تاسې ومندئ چې د قوم لوط عمل (لواطت) کوي کونکي (فاعل) او ورسره کیدونکی (مفعول به) دواړه ووژنئ.

لواطت کې د واده لرونکي او بې واده دواړو یو حکم دی، امام مَالِك رحمه الله د ابْنِ شِهَابٍ زهري نه پوښتنه وکړه دهغه کس په اړه چې د لوط دقوم عمل کوي فرمايي چې ابن شهاب راته وفرمایل: عَلَيْهِ الرَّجْمُ. أَحْصَنَ أَوْ لَمْ يُحْصِنْ.

ژباړه: په ده باندې رجم دی، واده یې وي او که نه، نو امام مالک رحمه الله فرمايي: وعلى ذلك رأيي.

او په دې زما فتوی هم ده. د امام مالك رحمه الله دفتوی تفصیل داسې منقول دی فرمايي: يرجم الفاعل والمفعول به، أحصنا أو لم يحصنا، إذا شهد عليهما أربعة شهداء عدول. (موطأ امام مالك للأعظمي. ۵/۱۲۰۵)

ژباړه: فاعل او مفعول به دواړه رجم کیدلی شي، واده کړی وی که بې واده وي ، خو چې کله څلور عادلان ګواهان په هغوئ ګواهي ورکړي.

دغه ډول دویم حدیث کې ابو هُرَيْرَةَ رضی الله عنه دنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د هغه کس په اړه نقل کړي چې هغه دلوط دقوم عمل کوي، فرمايي: چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: «ارْجُمُوا الْأَعْلَى وَالْأَسْفَلَ، ارْجُمُوهُمَاجَمِيعًا»(سنن ابن ماجه رقم الحدیث ۲۵۶۲)

ژباړه: لاندې او باندې دواړه رجم کړئ، دواړه یو ځای رجم کړئ.

نو په دې اړه دقتل او د رجم دواړه صیغې درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل دي نو ځکه ټول صحابه په دی متفق وو چې

د اسلامي خلافت تمکین ساحه کې د لوط علیه السلام د قوم عمل کونکي باندی د شرعي حد جاري کیدلو یوه بیلګه

لواطت کونکي به قتلیدلی شي،

د لواطت کونکي د حد کیفیت:

د لواطت کونکي د قتل په کیفیت کې د صحابه کرامو مختلف او جدا، جدا نظریات دي، چې ایا دا به مطلقاً قتلیدای شي او که نه دده قتل به د زاني دقتل پشان وي. علامه ابن القيم رحمه الله فرمايي: أطبق أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم على قتله لم يختلف فيه منهم رجلان، وإنما اختلفت أقوالهم في صفة قتله. ("الداء والدواء ص۲۴۹)

ژباړه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول صحابه دلواطت کار په قتل متفق وو، په دوی کې دوه کسانو هم اختلاف نه دی کړی، البته اختلاف ددوی په اقوالو کې د قتل په صفت کې دی.

لهذا د صحابه کرامو اجتهادات د لواطت کونکي د قتل باره کې مختلف دي:

(۱ قول) دا به اور کې سوزولی شي ځکه ابوبکر صدیق، علی بن ابي طالب، عبد الله بن الزبير رضی الله عنهم او هشام بن عبد الملک رحمه الله دی ځلور واړو خلفاو لوطي په اور کې سوزولی دی. (روضة المحبين ص ۳۶۹)

(۲ قول) دا به په کاڼو رجم کیدایشي او دا د عمر رضي الله عنه او د علي رضي الله عنه او د ابن عباس رضي الله عنهما او د یوې ډلې دصحابه کرامو قول دی. وګورئ (السنن الکبری ۲۳۲/۸ تلخیص الحبیر ۶۱/۴) د یادونې وړ ده چې دعلي رضی الله عنه نه دوه قوله نقل دي: هغه لوطي سوزلی هم دی او بل لوطي یې رجم کړی هم دی. کما في(روضة المحبين ص ۳۶۳)

(۳ قول) دا به په ښار کې د اوچت ځای څخه راغورځول کیږي او بیا به په کاڼو ویشتل کیږي. او دا هم دابو بکر او ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دي. وګورئ (زادالمعاد ۲۰۹/۳ الداء والدواء ص۲۴۹)

(۴ قول) ده باندې به دیوال راغورځولی شي او دا به دهغې څخه لاندې کیدای شي او دا قول هم دعمر ، عثمان او علي رضي الله عنهم أجمعين نه نقل دی. (نیل الأوطار ۷/۱۲۴)

(۵ قول) د ده حد د زاني حد دی، که واده لرونکی وي او که بې واده وي. او دا د ابن زبیر رضی الله عنهما فتوی او قول دی. (روضة المحبين ص۳۶۳ السنن الکبری ۸/۲۳۳)

لله الحمد چې اسلامي دولت د اسلام ټولو اصولو ته ژمن دی بالخصوص حدود الله ته.

چې پدې باب کې یې د خپل رب هر حکم ته لبیک وو اوښه او تش په نامه بشر دوستانو ته یې په مخ کلکې څپېړې ورکړې او په غلو، زناکارانو او لواطت کوونکو باندې یې د الله عزوجل حدود جاری کړل.

خو تاسې ولیدل چې طالب ملېشو په دوحه کې د شوې تړون په اساس لکه د نورو حدود په څېر د لواطت حد کې هم تغیر راوست او دا ټاکلې حد چې پورته یې نوعیت ذکر شو تغیر کړ او د لواطت حد یې ۳۹ دُرو ته راوست ، او په دې اړه یې په خپلو اعلامیو کې اعتراف هم کړې .



هلمند کې 16 مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

نن پنجشنبه (11 / 7 / 1444 هـ ق) نېټه د هلمند ولایت په ګرشک ولسوالۍ کې 16 مجرمینو ته د فسق او فجور، نامشروع اړیکو، غلا او لواطت د جرمونو په وجه تعزیري سزا ورکړل شوه.

یادو مجرمینو ته د تعزیري سزا د تطبیق په مناسبت جوړه شوې غونډه کې د محاکمو او نورو ولایتي ادارو پر مسؤولینو، علماء کرامو او قومي مخورو سربېره عامو خلکو هم ګډون کړی و.

باید وویل شي چې د دغو مجرمینو دوسیې د ګرشک ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې لخوا څېړل شوې وې او ټولو مجرمینو د محکمې په پرېکړه قناعت درلود.

قضائیه قوه

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

۱۴۴۴/ ۴/ ۲۹

په لوګر کې د استیناف محکمې لخوا ۱٤ مجرمینو ته شرعي تعزیري سزا ورکړل شوه

نن چهارشنبه (۱۴۴۴/٤/۲۹) نېټه د لوګر د استیناف محکمې لخوا د پل علم ښار اروند ورزشي سټډیوم کې ۱٤ مجرمینو ته د ولایتي اداري مسؤولینو، دیني علماوو، عامو خلکو او قومي مخورو په موجودیت کې د بېلابېلو جرمونو په خاطر تعزیري سزا ورکړل شوه.

په دې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د استیناف محکمې د مدني دیوان مفتي مولوي ګل الرحمن اخندزاده وویل، د اسلام مبارک دین د انساني ژوند ټولې برخې په مکمله توګه واضح کړې او کفار هېڅکله نه پرېږدي، چې د اسلام دین ټول احکام پلي شي او مسلمانان د امن په فضا کې د پوره اتفاق په چوکاټ کې خپل ژوند د اسلامي نظام تر سیوري لاندې تېر کړي.

همداراز د لوګر د استیناف محکمې د دیوان جزا رئیس او د استیناف محکمې سرپرست مولوي فضل الرحیم عابد وویل؛ د دغه مظلوم ملت او تېر شل کلن جهاد هیله همدغه شرعي نظام او د الله حکم جاري کول وو، چې نن الحمدلله د شرعي احکامو په نظر کې نیولو سره د مرکز او یو شمېر ولسوالیو د محاکمو لخوا ١٤ تنه، چې په کې درې تنه زنانه هم شاملې دي د غلا، زنا او نورو فسادونو په تور د خلکو په موجودیت کې تعزیري سزا ویني او په درو وهل کیږي.

ښاغلي مولوي فضل الرحیم عابد زیاته کړه، چې په دغه مجرمینو کې ځینو یې اقرار کړی او ځیني نورو باندې یې د تمیز محکمې لخوا له تائید وروسته دا پرېکړه صادره شوې ده.

باید وویل شي؛ چې له تېرو شلو کلونو وروسته لومړی ځل دی، چې مجرمینو باندې په عام محضر کې د شرعي محکمې لخوا شرعي تعزیري سزا پلې کیږي.

Superme Court of Afghanistan | Supermecourt.gov.af | @supremeCourt_af

حدود تغیر کړي .

تر ټولو ډیره عجیبه داده چې په خپل دې کفر اعتراف هم کوي او پرې ویاړ هم کوي .

او بیا د ډیر افسوس خبره داده چې ډیر ړانده او کاڼه جاهلان ورسره همدا تمثلي پرچې د حقیقي حدود په حیث مني او هغوئ ورسره هم د پرې سر نیولې او په دې ناړو یې ځانونه ستړي کړل چې دادې طالب ملېشو شرعي نظام حاکم کړی وګوره زاني او لوطي ته یې ۳۹ دوړې ورکړې ، او دا خبرونه بیا په رسنیو کې هم خه په ،یاړ رسنیز کیږي او اکثره خلک ورسره په دې قانع کیږي چې هو طالب ملېشو حدود تطبیق کړي دي .

طالب ملېشي دا لوبې ددې لپاره کوي چې یوه لور ته خپل کافر باداران خوشاله کړي ، ځکه هغوی سره یې په دې هر څه ترون کړي ، او د همدغه لوبو د تطبیق په خاطر هغوې ورته هره اوني د ډالرو کڅوړې رالیږي ، او ددغه ډرامو د ورانډې کولو بله وجه داده چې طالب ملېشې خلکو ته دا ذهنیت ورکړي چې دوی خو دادی شرعي نظام تطبیق کړی ، چې د خپلو کشرخیلو په شمول یې ډیرې جاهلان په دې خطا کړې، نور خو چې څوک د الله په کتاب پوهیږي د قران او احادیثو په احکامو خبر دي او د علاء حق څخه یې د حق د اوریدو او لوستو احساس ژوندې وي نو هغوی پوهیږي چې د الله حد کوم دې او د طالبانو بد کوم دې ..

راځو او اوس د بهتان لګولو (قذف) په حد بحث کوو چې طالب ملېشي یې نوم هم په خوله نه اخلي ځکه چې داسې ډیر نه یادیږي ، او د طالب جاهلان یې نه پیژني نو ځکه یې دوئ هم خلکو ته د رایادولو ډیر اهتمام نه کوي ځکه دا یو بوج خو پرې کم دې نو دا په ځان نه را اړوي .

۳ـ (قذف) بهتان لږول او د هغې حد:

بهتان یا چا ته د زنا او لواطت نسبت کول د لویو ګناهونو څخه دی چې د مسلمان په عزت او آبرو لوی تېری بلل کیږي ،

دا هغه عمل دی چې عاملینو باندې یې رب العالمین په دنیا او اخرت کې لعنت ویلی او اخرت کې یې ورته لویه سزا تیاره کړې: الله تعالی فرمایي: إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ [سُورَةُ النُّور : 23]

ژباړه: کوم کسان چې پر پاک لمنو، (د بدو څخه په) ناخبرو مؤمنو ښځو باندې تورونه تپي، پر هغو باندې په دُنیا او اخرت کښې لعنت وکړای شو او د هغو لپاره لوی عذاب دی.

همدارنګه د ابی هریرة رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : اجتنبوا السبع الموبقات" قیل: یا رسول الله! وما هن؟ قال: "الشرك بالله......وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات". (رواه مسلم)

ژباړه: د اوو هلاکونکو ګناهونو څخه ځان وساتئ ، چا وویل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا کوم ګناهونه دي ؟ ویې فرمایل : د الله (جل جلا له) سره شریک نیول .....او په پاکو ښځو پسې تهمت لګول .

د (قذف) بهتان لپاره په اسلامي شریعت کې حد دا ټاکل شوی چې باید بهتان لږونکی اتیا درې ووهل شي .

الله تعالی فرمایي: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ [سُورَةُ النُّور : 4]

ژباړه: او څوک چې په پاك لمنو ښځو باندې تور ولګوي، بیا څلور شاهدان حاضر نه کړي، هغوی اتیا دُرې ووهئ او د هغو شاهدي هیڅکله مه منئ، او هغوئ پخپله فاسقان دي؛

په اسلامي شریعت کې د قذف د حد حکمت او سبب دا دی چې پاک سړي ته د زنا نسبت کول د هغه لپاره په کور ، کلي او سیمه کې یو تور داغ او عار بلل کیږي دا حد ددې لپاره دی چې د دغه کس څخه د زنا بهتان او عار لرې شي او نورو خلکو لپاره عبرت شي څو پر پاکو خلکو څوک د زنا تهمت ونه لګوي .

شروط القاذف والمقذوف:

د بهتان لږونکي او په چا چې بهتان لږول کیږي د هغې شرطونه.

دا چې اسلام یو کامل نظام دې او هر حکم یې د حکمتونو څخه ډک دی نو په همدی اساس په شریعت مطهرة کې د (حد قذف) بهتان د حد لپاره هم خپل شرطونه دي چې د هغې له پوره کولو سره به په بهتان لږونکي حد قائمیږي.

د بهتان لږونکي (قاذف) شرطونه:

اول: أن يكون بالغًا عاقلاً، مختارًا:

بهتان لږونکی به عاقل وي په لیوني باندې حد نشته او بالغ به وي په نابالغ باندې حد نشته او مختار به وي په مکره باندی حد نشته.

دلیل: علي رضي الله عنه فرمایلي: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ : عَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَبْلُغَ ، وَعَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ ، وَعَنِ الْمَعْتُوهِ حَتَّى يَبْرَأَ (سنن أبي داود)

ژباړه: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د درې کسانو څخه قلم پورته دی، د ماشوم څخه تر دې چې بلوغ ته ورسیږي او د ویده شخص څخه تردې چې بیدار شي او د لیوني څخه تر دې چې جوړ شي.

دویم: أن يكون القاذف ملتزمًا بأحكام الشريعة:

بهتان لږونکی به د اسلامي احکامو پابند بلل کیږي یعني مسلمان به وي په حربي کافر حد قذف نشته.

دریم: ألا يكون القاذف أصلاً للمقذوف:

جمهورو فقهاؤ دا شرط هم لږولی چې بهتان لږونکی به پلار یا نیکه نه وي، په بچیو او لمسیو چې چا بهتان ولګاوه نو هغه باندې به حد نه وي، او دلیل دا وایي لکه څنګه چې بچې کې پلار او نیکه ... نه قصاص کیږي، نو حد قذف هم ترې ساقط دی،

خو اهل ظواهر او مالکیان او د عمر بن عبدالعزیز مذهب دا دی چې پلار باندې هم د بچې له وجې حد قذف قائمیدلی شي ځکه دا ایات (إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ) [النور: 23] عام دې او د پلار تخصیص پکې نشته.

څلورم: د څلورو شاهدانو حاضرول ، کچیرې قذف والا څلور شاهدان پر زاني باندې حاضر کړي نو د قذف حد ورڅخه ساقطیږي. ځکه په دې ایات کې (والذين يرمون المحصنات ثم لم يأتوا بأربعة شهداء فاجلدوهم ثمانين جلدة) (النور) دا شرط دی چې ګواهان یې حاضر نه کړل نو حد قذف به ورکول کیږي.

د هغه چا شرطونه چې بهتان ورباندی لږول کیږي، چې (مقذوف) ورته وایي:

د جمهورو علماؤ په نیز په (مقذوف) کې هغه شخص چې بهتان پری لږول کیږي پنځه شرطونه مهم دي چې حاصل يې: العقل، والبلوغ، والحرية، والإسلام، والعفة عن الزنى. عاقل به وي لیوني به نه وي، بالغ به وي ماشوم به نه وي، ازاد به وي غلام به نه وي، مسلمان به وي مشرك او کافر به نه وي، او د زنا څخه به پاك سړی وي.

د جمهورو علماؤ دلیل دا دی چې قرآن کریم کې الله تعالی (يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ) ذکر کړی او هغه احصان مقصود دی چې دا پنځه شروط

پکې وي خو امام ابن حزم رحمه الله بیا په دې کې د جمهورو خلاف دی.

نو لهذا د جمهورو په نیز کله چې یو شخص پدې شرائطو برابر و او چا پرې تهمت ولګاوه، نو په هغه به د (قذف) حد قائمیږي ،یعنی اتیا دورې به وهل کیږي.

الفاظ القذف:

د بهتان الفاظ.

د بهتان الفاظ دوه قسمه دي:

اول: صریح

دا هغه الفاظ دي، چې احتمال پکې د بلې معنی نشته یواځې مراد ترې بهتان کیدلی شي لکه، (یا زاني ، زنیتَ ، زنیتِ ، یا لوطي) اي زناکاره، تا زناکړې، اي لوطي، ...

دا اتفاقي الفاظ دي چې پدې الفاظو سره چاته خطاب وشو ویونکي باندې به یې د قذف حد قائمیږي.

دویم: کنایة او تعریض .

دا هغه الفاظ دي چې د قذف احتمال هم پکې وي او بغیر له

دې بل احتمال هم لري لکه (یا خبیث ، یا خبیثة ، یا فاجر ، یا فاجرة...)

یا تعریض الفاظ (ما أنا بزان، وأمي لیست بزانیة) زه زناکار نه یم، زما مور زناکاره نه ده،

نو په دې کې به د ویونکي نیت ته اعتبار وي او پوښتنه به ورڅخه کیږي یا به قسم ورکول کیږي،که ویې ویل چې مقصود مې ترې ښکنځل و نو د تعزیر مستحق دي او که ویې ویل چې هدف مې په زناکار...و نو حد قذف به ورباندې جاري شي.

(المغني" (12/392) ، "المجموع" (22/113) ، "حاشیة الدسوقي" (6/324) .

درنو لوستونکو ! د حدود په سلسله کې اوس راځو د غلام او وینځې د زنا د حد په اړه بحث کوو ، هغه چې طالب ملیشې خو لومړي بیخي د غلام او وینځې احکامو ته له لومړي سره قانع نه دي ، دوی د وینځو او غلامانو اسلامي احکام له منځه وړي او دا ځکه چې دوی کفارو سره مولات لري او لا تر دې دمه یې هم چرته دا حکم عملي کړی نه دي ، نو ځکه د غلام او وینځې د زنا د حدودو په اړه هم ځان ناخبره نیسي ځکه چې په دې برخه کې دوی کومې بیلګې نه لري .

مسألة زنى العبد والأمة:
د غلام او وینځې د زنا مسئله.

کله چې وینځه یا غلام د یو شخص زنا وکړي نو اتفاقي خبره ده چې هغوی ته به د ازاد شخص په نیمه حد ورکول کیږي په هغوی رجم هم نشته بلکې په دواړو حالاتو کې که واده یې کړي وي او که نه نو پنځوس دورې به وهل کیږي.

الله تعالی فرمایي: فَإِذَآ أُحۡصِنَّ فَإِنۡ أَتَيۡنَ بِفَٰحِشَةٖ فَعَلَيۡهِنَّ نِصۡفُ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ [سُورَةُ النِّسَاء : 25]

ژباړه: نو کله چې هغوی د نکاح په چوکاټ کې خوندي شي او بیا وروسته له هغه کومه بد لمنې غوره کړي، نو پر هغو د هغه مجازات نیمایي دي چې د اصیلو ښځو (محصناتو) لپاره ټاکل شوي دي.

د مجلې درنو لوستونکو ! د حدودو په لړ کې بل هم د غلا حد دی ، دا هم لکه د نورو حدودو په څېر ټاکلې حد لري ،کله چې اړوند شروط برابر شي ، نو غله ته هم شریعت مشخص حد ټاکلی ، چې هغه بیا د یو چا په سفارش او یا د خپلو خښه په راوتلیو فتواو نه بدلیږي ، لکه طالب ملیشو چې دا حد هم بدل کړ، مخکې به یې په شرائطو برابر غل څخه د لاس په ځاي ویښتان پرې کول یا به یې ورته مخ توراوه خو اوس ورته په ۱۹ دُرو ورکولو کېسه خلاصه بولي او همدا یې د شریعت د ټاکلي حد په ځای سزا انتخاب کړې ده .

طالب ملیشې چې خپله هم ډیری یې په غلاو اخته دي د خپلو کسانو د ژغورنې او دوی ته د لازیاتې زمینه سازۍ په هدف او هخدا راز د کفارو د خوشالۍ لپاره د غلا حد هم تغیر کړ .

راځئ ولولو چې په کوم حالاتو کې غل ته په کوم ډول سزا ورکولو شریعت امر کړی .

۴_ غلا او د غلا حد:

غلا کول یو لازمي ګناه نه ده بلکې هغه نور ډیر متعدي بد او ناوړه اړخونه لري، غل یواځې دا نه چې د بل مال خوري ،بلکې په کې ظلم، تخویف، بې امني ، د بل په عزت تعرض او نور فسادونه شته.

حدیث کې راځي:

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يَأْخُذَ عَصَا أَخِيهِ بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسِهِ " ، وَذَلِكَ لِشِدَّةِ مَا حَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَالِ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ . (مسند احمد)

ژباړه: له ابو حمید الساعدي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د مسلمان لپاره روا نه ده چې د هغه له اجازې پرته یوه لښته واخلي. دا د ډیر شدت له وجې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو مسلمان مال په بل مسلمان باندې حرام کړی دی.

بل حدیث کې راځي:

قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ : رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، إِنّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ ، وَلَا يَشْرَبُ الْخَمْرَ حِينَ يَشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ ، وَلَا يَسْرِقُ السَّارِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ " (رواه البخاري).

ژباړه: ابو هریرة رضی الله عنه وایي: چې رسول الله علیه السلام فرمایلي دي: زنا نه کوي زنا کوونکی انسان په داسې حال کې چې هغه دې زنا کوي او دی دې مؤمن وي، شراب نه څښي شرابي انسان په داسې حال کې چې هغه دې شراب څښي او دی دې مؤمن وي، او غلا نه کوي غلا کوونکی انسان په داسې حال کې چې غلا کوي او دی دې مؤمن وي.

دا چې اسلام هغه دین دی چې د مسلمانانو د دین ترڅنګ د هغوی د عقل، نفس، عزت او مال ساتنه کوي، نو په همدی اساس یې د غلا لپاره سزا او حد دا ټاکلی، چې کله یو شخص غلا وکړي او غلا شوی مال د لاس د قطعه کولو نصاب ته رسیدلی وي ،چې وروسته به ورباندی ان شاء الله خبرې وکړو ، نو د غل څخه به اسلامي نظام لاس قطعه کوي.

الله تعالی فرمایي: وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقۡطَعُوٓاْ أَيۡدِيَهُمَا جَزَآءَۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلٗا مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ [سُورَةُ المَائِدَة : 38]

ژباړه: او غل، که نر وي که ښځه، د دواړو لاسونه پرې کړئ، دا د هغو د خپلې کړنې بدله او د الله له لوري د عبرت وړ سزا ده. د الله قدرت پر ټولو غالب دی او هغه د پوهې او حکمت څښتن دی.

دا چې اسلام یو کامل او د حکمتونو څخه ډک نظام دی ،په همدی اساس د غلا لپاره شریعت محمدي، ځینې شرطونه مقرر کړي ،کله چې غل په هغه شرطونو برابره غلا وکړه ،نو لاس به ورڅخه قطعه کیږي، چې مختصر به هغې شرطونو ته اشاره وکړو د الله تعالی په توفیق سره.

د هغه شرطونو له جملی څخه :

۱_ العاقل، البالغ، غیر المکره:

له هغه چاڅخه شریعت لاس پرې کوي، چې عاقل، بالغ او په خپل اختیار یې غلا کړې وي د بل چا له طرفه ورباندی اکراه (زور) نه وي شوی.

۲_ أن یکون أخذ الشيء علی وجه الخِفْیَة:

مقصد دا چې مال به یې په پټه اخیستی وي که ښکاره لارو ته راوځي او د خلکو څخه په زور مال اخلي، هغه بیا په محاربة کې داخل دی ـــ چې خپل احکام لري وروسته به یې تفصیل ذکر شي د رب په توفیق سره ـــ یا یو سړی ښکاره مال واخلي نو هغه بیا د غصب په حکم کې داخل دی.

۳_ أن یکون المسروق مالا محترماً , لأن ما لیس بمال لا حرمة له ، کالخمر والخنزیر .

دریم شرط دا دی چې هغه مال کې به لاس قطع کیږي چې د هغې مال په شریعت کې احترام وي، کوم مال چې شرعاً محترم نه وي ،د لاس هم قطعه کول په کې هم نشته ،لکه یو سړی شراب یا خنزیر غلا کړي.

۴_ لا بد من ثُبُوتِ السرقة ، وتکون إما بشهادة عَدْلَیْنِ ، أو بإقرار السارق علی نفسه .

قطع د لاس به هغه وخت کیږي ، چې غلا ثبوت شي چې یا دوه عادلان ګواهي ورکړي یا په خپل ځان اقرار وکړي.

٥ـ أن يكون المسروق نصاباً ، وهو ربع دينار إسلامي ، أو ما يقابل أحدهما من النقود الأخرى .

په هغه اندازه مال به لاس پرې کیږي ، چې هغه نصاب ته رسیدلی وي ، یعنی شریعت چې کوم مقدار د مال مقرر کړی هماغه اندازه او یا د هغې څخه زیات به یې غلا کړی وي، چې په حدیث د عائشې رضی الله عنها کې هغه مقدار نقل دی.

عَنْ عَائِشَةَ ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " تُقْطَعُ الْيَدُ فِي رُبُعِ دِينَارٍ ، فَصَاعِدًا "(رواه البخاري)

ژباړه: د عائشې رضي الله عنها څخه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لاس به پرې کولای شي ، په څلورمه حصه د دینار کې یا زیات له هغې څخه.

نو کله چې څلورمه حصه د اسلامي دینار یا د دې په مقدار پیسي یا بل څیز غلا کړي نو د غل لاس به قطعه کیږي.

د (ربع دینار) اندازه (0625، 1 یو عشارية 0625 ګرام سره زر کیږي). چې تقریبا (4500) افغانۍ خواوشا تري جوړیږي .

٦ـ ألا يكون للسارق في الشيء المسروق شبهة مِلك.

د لاس د پرې کیدو لپاره بل شرط دا دی چې هغه مال چې اخیستل شوی نو د غل به پکې د ملکیت شبهه نه وي که دغه مال کې شریک و، یا یې خپل ملکیت ګڼلو نو قطع د لاس به نه وي.

٧ـ أن يكون المال موجوداً في حرز .

حد د غلا لپاره بل شرط دا دی چې (محرز) یعنې محفوظ مال به یې غلا کړی وي ، محفوظ مال باره کې تفصیلي خبره په (الدلائل البیضاء للرد علی من عطل بالأجرة حدود العهر والزناء) رساله کې ذکر شوي چې کورونه، حجرې، د حیواناتو شپولونه، دوکانونه، پارکینګونه د سرک پر سر موټر چې لاک او بند وي دا ټول محفوظ مالونه دي. نو حاصل دا شو چې کله یو غل غلا وکړه او دا شرائط یې پوره کړي و، نو بیا به ورڅخه لاس قطعه کیږي.

پورته شروط (المغني لابن قدامة جـ12 صـ416: صـ437 صـ463: صـ465) کې او نورو علماؤ ذکر کړي.

درنو لوستونکو ! تاسې ولوستل چې په کوم شرائطو پوره اموال چې غلا شي نو له غله څخه باید لاس قطعه شي خو د طالب ملېشو له خپلو اعترافاتو باوجود چې ډیری غله یې په همدې شرایطو پوره نیولي خو ځینې همداسې بیرته په سفارشونو پریښي او ځینو ته یې ویښته پرې کړي ، ځینو ته یې مخونه تور کړي او ځینې یې په درو وهلي .

ددې مقالې دریمه برخه چې د خراسان غږ مجلې په نولسمه ګڼه کې به خپره شي ان شاء الله، په کې په پاتې نورو حدودو او تعزیراتو بحث کیږي ان شاء الله په دې هیله چې تعقیب یې کړئ .

د اسلامي خلافت تميکن ساحه کې د شرعي حدودو تطبيق يو څو بيلګې

پاکستان د اسلامي وجود سرطان

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله، أما بعد:

عمر رضي الله عنه فرمایي: إِنَّا كُنَّا أَذَلَّ قَوْمٍ فَأَعَزَّنَا اللَّهُ بِالْإِسْلَامِ فَمَهْمَا نَطْلُبُ الْعِزَّةَ بِغَيْرِ مَا أَعَزَّنَا اللَّهُ بِهِ أَذَلَّنَا اللَّهُ. المستدرك للحاكم على الصحيحين.

ژباړه: یقیناً مونږ ذلیله قوم و، الله راته په اسلام باندې عزت راکړ، نو هر کله چې مونږ د هغه څه چې الله پرې عزت راکړی دی، پرته (بل څه کې) عزت لټوو نو الله به مو ذلیله کړي.

په یقیني توګه چې دا عمري قول د کاڼي کرښه ده، کله هم چې مسلمانانو د خپلې بریا لپاره د کفارو نظامونه الګو ټاکلي، نو الله تعالی د ذلت په عذاب اخته کړي، څرګنده بیلګه یې د پاکستان د هېواد مرتد مشران دي، هغه پاکستان چې د لا اله الا الله په شعار وجود ته راغی، خو لا هم د انګلیس مستعمره دی، او نن د خپل ۷۵ کلن ژوند د سخت خزان سره مخ دی، د سیاسي او اقتصادي بحران طوفاني چپو یې د حکومت کښتۍ په مخه اخیستې او دهلاکت په لور یې وړتیل وهي، د روسیه او امریکا د رقابت قرباني شو، بعضې سیاسي ګوندونه یې د روسیه غلامي او سیاسي او اقتصادي استعمار خوښوي او ځینې نور یې د امریکا د غلامۍ غړوندي غوره بولي، همدې کش او ګیر کې امریکا بریالی شوه او د روس لاس پوځي حکومت یې له واکه ګوښه کړ او ټول سیاسي ګوندونه یې د تولشموله حکومت په اخور سره راټول کړل. په ورته مهال د پاکستان پوځ او استخبارات هم یو نوي پړاو ته ورداخل شول، چې همدا د پاکستان اصلي قوت او حاکمان دي، د پاکستان لوي درستیز قمر جاوید باجوه د شپږ کلن ماموریت ترسره کولو څخه وروسته متقاعد شو او جنرال عاصم منیر یې ځان سره امریکا ته بوتلو، امریکایانو عاصم منیر خوښ کړ او د نوي پلان سره یې پاکستان ته راولیږه.

دې نوي غلام حکومت او پوځ په وړاندې ډیرې ننګونې وې چې تر ټولو ستره یې د اقتصاد مسئله وه، ځکه پاکستان تر سپیرمو پورې د نړیوال بانک پوروړی دی، نور یې لومړی وزیر په سوالونو ستړی شو، وایي هر خواته چې ګورم راباندې قرض دی، هر دوست هېواد حکومتي چارواکو سره چې ټیلیفوني اړیکه نیسم، نو هغوی مې زنګ ته جواب نه کوي، د دې ډار له امله چې بیا به پور غواړي.

ژباړه: کله چې یو انسان اجماعي حرام حلال وګڼي، او اجماعي حلال حرام وګڼي، یا اجماعي شریعت بدل کړي، نو دا په اتفاق د فقهاءو سره کافر او مرتد دی.
دا قانون پاکستان کې لمړي ځل لپاره ۲۰۱۸ م کال کې د پیپلز ګوند لخوا پارلمان ته وړاندې شو، چې دغه مهال د مسلم لیګ نون ګوند واکمن و، نو ټولو ګوندونو په ډیر چټکۍ سره دا قانون منظور کړو، تر ۲۰۲۱ م کال پورې ۲۸۷۲۳ کسانو خپل جنس تغییر کړی چې هغوی د جملې څخه ۱۶۵۳۰ نارینه وو خپل جنس ښځینه کړې، ۱۲۱۵۴ ښځینه وو خپل جنس نارینه کړی، ۹ سرو له ځانونو څخه هیجړاګان جوړ کړي، ۲۱ هیجراګانو له ځانونو څخه نارینه او ۹ له ځان څخه ښځینه جوړ کړي دي. او ۲۰۲۰ م کال منظور شوي قانون په اساس هر کس ته د عملیاتو په نتیجه کې خپل جنس تغییرولو حق شته.
د دې قانون په بناء پاکستان کې هم جنس بازي ته قانوني جواز ورکړل شو، د دې قانون په بناء همجنس بازان د مجرمانو صف څخه راوویستل شول او د ملک معزز ښاریان وشمیرل شول، دوی په حکومت کې رسما دنده هم ترسره کولای شي.

قیامت کی نشانیاں! عشق کی داستان کا انجام سرعام شادی کی رسم
دو لڑکوں کی لازوال محبت نے اخلاق اور مذہب کی تمام زنجیریں توڑ دیں، مذہبی اور سماجی حلقوں کی شدید تنقید
دو مردوں کا باہمی رضامندی سے نکاح معاشرے میں پھیلتی برائیوں کے خاتمے کا سبب بنے گا: معین کوریجہ
خانپور (کرائم رپورٹر) حکیم ریاض نامی شخص کی گزشتہ روز مقامی ہوٹل میں منعقدہ دعوت ولیمہ جب توجہ کا مرکز بنی جب معلوم ہوا کہ اس کی شادی کسی دوشیزہ سے نہیں بلکہ ایک لڑکے سے ہوئی ہے جسے یہ عرصہ دراز سے پسند کرتا تھا۔ تفصیل کے مطابق حکیم ریاض کا نکاح اس کے پیر و مرشد مولوی خواجہ معین الدین کوریجہ نے پڑھایا۔ مذہبی حلقوں کے شدید احتجاج کے باوجود معین الدین محبوب کوریجہ کا موقف تھا کہ جب کسی عورت کا نکاح قرآن سے ہو سکتا ہے تو محبت کی خاطر کسی مرد کا کسی مرد کے ساتھ تعلق بنانے میں کیا قباحت ہے۔

همدې قانون په بناء هر سړی په خپله خوښه په اسنادو کې ځان ښځه ثبتولای شي او بیا د میرمنو د حقوقو څخه برخمن کیدای شي، د دغه سړي څخه د پردیو زنانه وو پرده او ستر قانوني ممنوع شو، د میرمنو اړوند ځانګړي ځایونو ته ورتلای شي، مکتبونو، جماتونو او ټولو هغه بخشونو ته چې زنانه وو اړوند دي ورتللای شي، د بلې زنانه سره د همجنس بازۍ په نوم غیر شرعي جنسي اړیکې قایمولای شي. همدغه ډول چې یوه میرمن خپل جنس په رسمي اسنادو کې بدل کړي او سړی ځان معرفي کړي نو ده ته د پاکستان دغه قانون په بناء د سړو ټول حقوق حاصلیږي، د نکاح، د ګواهۍ، د میراث، د امامت، سړو سره تعامل وغیره ټولو احکامو کې سړی حسابیږي. نو دا هغه قانون دی چې د فحشاء د خپریدو ستر سبب دی. دا هغه قانون دی چې د نسل زیږونې لار بندوي.
لنډه دا چې دا هغه قانون دی چې د اسلامي شریعت د نکاح قانون، د وراثت قانون، د عدت قانون، د قضاء قانون، د تعلیم قانون، د اقتصاد قانون، د طب قانون او داسې نور اسلامي قوانین او احکام د منځه وړي نو تاسې فکر وکړئ چې دا څومره لوی کفر دی. تقي عثماني اوس اوولیه چې آیا پاکستان اسلامي نظام دی؟ آیا د پاکستان حاکمان، قاضیان، پوځیان او رسمي کارمندان مسلمانان دي چې د دې قانون د نفاذ په خاطر په فعالیتونو بوخت دي؟ آیا شریعت کې د دې قانون تصویب او تایید کفر بواح نه دی؟ هغه کفر چې انسان د اسلامي ملت څخه خارجوي، ښځه پرې طلاقیږي، د صله رحمۍ څخه بې برخې کیږي، د مسلمانانو هدیره کې به نه خښیږي.
یوه بیلګه به بله هم وړاندې کړو ترڅو لوستونکي وپوهیږي چې آیا د پاکستان دستور او نظام اسلامي دی که غیر اسلامي ؟
کله چې موجوده پاکستان د هند یو جزو و او پدې سیمه انګریزان واکمن ول نو د ۱۸۶۰ م قانون تعزیرات هند په نوم و او د دې قانون په اساس د زنا دوه قسمونه وه: یو (Adultery) او بل (Rape).
او اردو کې یې د (Adultery) معنا داسې وکړه (پردۍ زنانه سره زنا) او د (Rape) معنا وه (زنا بالجبر). د دې قانون څخه مخکې په تاریخ د اسلام کې د زنا دا تقسیمات موجود نه ول، دا د ۱۸۶۰ م کال پدې سیمه د انګریزانو وضعي قانون و. د دوی په نزد زنا بالجبر جرم و خو پردۍ زنانه سره زنا في نفسه جرم نه و، مګر که د زنانه خاوند به شکایت وکړ نو دا د هغه د ازدواجي حقونو خلاف عمل بلل کیدو او د نورو شخصي حقوقو په څیر دا هم یو شخصي حق ګڼل کیدو.
او که چیرې دغه ښځې به خاوند نه درلود نو بیا دا کار جرم نه و، بلکې جایز عمل و. نو پاکستان د قیام څخه وروسته هماغه انګریزي قانون د تعزیرات پاکستان په نوم پدې ملک کې نافذ شو، او زنا یې دغه دوه تقسیم کړه، زنا بالرضا او زنا بالجبر، چې زنا بالجبر جرم وګرځیده او دې لپاره د

زنا بالجبر/ ریپ

تعزیرات پاکستان دفعہ 375-376

کسی شخص کو ریپ کا مرتکب کہا جائے گا اگر وہ ایک خاتون (بچی) سے اس کی مرضی کے خلاف، رضامندی کے بغیر، قتل یا ضرر کا خوف دلا کر رضامندی سے یا مرد جانتا ہو کہ وہ عورت اس کی بیوی نہیں ہے جبکہ عورت یہ سمجھتی ہے کہ اس کی شادی جائز طور پر اس مرد سے ہوئی ہے یا بچی کی عمر سولہ (16) سال سے کم ہو مباشرت کرے۔ اس جرم کے مرتکب کو سزائے موت یا کم از کم دس (10) سال اور زیادہ سے زیادہ پچیس (25) سال قید ہو سکتی ہے اور وہ جرمانے کی سزا کا بھی مستوجب ہے۔

مرګ جزا یا هم لس کالو څخه تر پنځویشت کالو پورې طویل المدت بند ورکولای شي. او په دویم ځل زنا بالجبر په صورت کې به دا مجرم خصي کیږي. او ډېره عجیبه لا دا ده چې د پاکستان قانون کې زنا بالجبر تعریف په هغه خاوند هم تطبیقیږي چې خپلې میرمن سره د هغې د خوښې پرته جماع وکړي، خو وایي لا تر اوسه داسې عریضه نده شوې خو که څوک داسې عریضه وکړي نو حکم پرې جاري کیدای شي.

تقي عثماني دا قانون اوس څنګه دی، آیا دا هم اسلامي دی ؟ آیا ستاسې د همدې فتاوو په برکت نن په پاکستان کې د زنا بالرضا مرکزونه قایم نه دي ؟ آیا د دې قانون په سیوري کې په لاهور ښار کې د جسم فروشۍ مشهوره اډه هیرامنډي په شمول د بدکارۍ زرګونه مراکز حکومت سره راجستر نه دي؟ زنا رسمي او قانوني جایز او حلال ګرځول د اسلام ناقض نه دی؟ د دې قانون تصویبونکي، تاییدونکي او نافذونکي حکومتي غړو په شمول پوځ او استخبارات مرتدین نه دي؟

نو بیا څنګه پاکستان نظام ته اسلامي نظام وایاست؟

راځئ ورونو! د پاکستان د شرکي قانون بله بیلګه به درته وړاندې کړو، چې د دې قانون په اساس پاکستاني جنرالانو او حاکمانو مسلماني خوېندې میندې په کفارو خرڅې کړې. د پاکستان دستور یوه ماده دا ده، لیکي:

۱۸. خارجي امور، نورو ملکونو سره تعلیمي او ثقافتي معاهدو په ګډون، په نورو لوظونو عمل کول، د مجرمانو سپارل، په ګډون د مجرمانو خلکو بهر حکومتونو ته سپارل. [جدول ۴/ حصه اول/ ماده ۳/ صـ ۲۲۳]

دا هغه خطرناک قانون دی، چې د مسلمانانو تباهي یې وکړه، مجرمان څوک دي؟ دغه مجاهدین یادوي، چې الله جل جلاله د دین نافذولو پرته یې بله ګناه او جرم نه شته. د امریکا خوشحالولو لپاره پاکستان حکومت بې شمیره عوام عربان چې چا تعلیم کاوه ، څوک مدرس و، چا خیریه مؤسسه چلوله او بعضې مجاهدین وو، دا ټول یې امریکا ته وسپارل. پاکستان امریکا باندې خپله لور ډاکټر عافیه صدیقي د څو ډالرو په بدل کې خرڅه کړه. او د مذکوره عربانو ښځې یې هم څه امریکایانو ته حواله کړې او څه تر ننه د آی ایس آی په جیلونو کې اسیرانې دي.

عافیه صدیقیه دا خو پاکستانی وه او میډیا ته خبره راښکاره شوه، ځکه مشهوره شوه، نورې ډیرې زیاتې زنانه دوی په امریکا پلورلي دي، یانې د پاکستان مرتد نظام د نورو کفري کړنو ترڅنګ خپل ناموس هم په کفارو خرڅ کړ خو ددې هر څه باوجود دغه بلاعمه وو په شمول طالب مرتدینو ته هم پاکستان دار السلام او دار الهجرة دی، فضل الرحمن، تقي عثماني او ساجد میر بیا هم د پاکستان طاغوتي نظام دفاع د اسلام دفاع بولي !! پاکستان د همدې مادې په اساس د امریکایي فوجیانو مرادرونکي " ایمل کانسي" ونیوه او امریکا ته یې لاس ترلې وسپاره. پاکستان امریکا باندې شیخ اسامه بن لادن تقبله الله شهید کړه. د همدې قانون په اساس آی ایس آی هغه وخت په پاکستان کې طالب سفیر ضعیف په شمول ګڼ هغه طالب مشران بربنډ په امریکایانو خرڅ کړل چې هغه وخت یې د آی ایس آی سم اطاعت نه کاوه ، د ضعف د خرڅیدو او لوڅیدو کیسه ضعیف په خپل کتاب د ګوانتانامو انځور کې هم کړې ده ، خو همغه ضعیف هغه هر څه هیر کړل او دادی اوس هم په پاکستان کې ازادې چکرې وهي. نو دا ماده او دغه کارونه اسلام کې حرام او کفر بلل شوي.

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِنْ قُوتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (11)﴾ [سُورَةُ الحَشر : 11]

ژباړه: ته هغو کسانو ته نه ګورې چې د منافقت کرنلاره یې غوره کړیده؟ دوی خپلو کافرو اهل کتابو ورونو ته وایي: "که تاسې ویستل شوئ، نو موږ به هم ستاسې سره ووځو؛ او ستاسې په باب به موږ د هیچا خبره هیڅکله ونه منو؛ او که ستاسې سره جنګ وکړای شو، نو موږ به ستاسې مرسته وکړو." خو الله شاهد دی چې دغه خلک خامخا درواغجن دي.

نو ای مسلمانانه ! ته سوچ وکړه چې د مسلمانانو په خلاف کومک کولو درواغو لوظونو له امله الله رب العالمین دوی کافر وګرځول، او دوی یې د کافرو ورونه وبلل، نو د هغه پاکستان به څه حکم وي چې د مسلمانانو خلاف کافرو سره یې امنیتي او جاسوسي کومک کړی،او مسلمانانو په خلاف کافر ته یې مال، روزنه او اسلحه ورکړې. د کافرو خوشحالولو لپاره یې د حق پرستو مسلمانانو څخه جیلونو ډک کړي او په سلګونو بلکې زرګونو بې ګناه انسان یې وژلي او ډیر تعداد یې کفارو ته په لاس ورکړي؟ نو یقینا چې دا غلیظ مرتد دی. والله المستعان.

همدغه رنګ د پاکستان حکومت په لسګونو نور نواقض لري. لکه:

۱.پاکستان حکومت یو جمهوري، شرکي او کفري حکومت دی، چې د انتخاباتو په کفري طریقې سره ټاکل کیږي.

۲. د میکالي کافر جوړ شوی قانون یې نافذ کړی.

۳.شرعي حدود یې معطل کړي او انکار ترې کوي، هم قولا هم عملا، بلکې د تیرو زمانو کیسې یې بولي.

۴.هر کفري او شرکي مذهب ته بغیر د قید او شرط یې اجازت ورکړی دی.

۵.زنانه او نارینه په ټولو حقوقو کې سره برابر دي.

۶.د پاکستان قانون د مخې مومن او فاسق، عالم او جاهل، او مومن او کافر هم په حقوقو کې برابر دي، حتی انتخاباتو کې د ټولو حقوقو ته یو حیثیت ورکوي.

۷.پاکستان قانون کې ښځه هم مشره ګرځیدای شي.

۸.پاکستان قانون کې کافر هم مشر ګرځیدای شي، وزیر اعظم جوړیدای شي.

۹.پاکستان قانون کې په رضا زنا کول حلال دي، او ددې لپاره یې هیرا منډې په څیر بې شمیره مرکزونه قایم کړي دي.

۱۰.پاکستان حکومت د بین الملل ټول کفري قوانین مني.

۱۱.پاکستان حکومت د مسلمانانو خلاف کفارو ته اډې ورکړي، جاسوسي یې کوي، خویندو میندو عزتونه یې پرې خرڅ کړل.

۱۲.پاکستان حکومت طائفه مُمْتَنِعه

ده، په زور یې ځان د شریعت د احکامو څخه منع کړی، دې وجې نه مجاهدین نیسي، تړي، شهیدانوي. جماتونه بمباروي، مدرسې ورانوي.

۱۳.پاکستان حکومت ځان ته د شریعت جوړولو، د قانون سازۍ او تحلیل او تحریم حق ورکړی دی. ددې خلاف نور ټول قوانین باطل او کالعدم ګڼي.

۱۴.پاکستان حکومت د قومیت او وطنیت په شرک کې اخته دی.

۱۵.پاکستان حکومت جهاد څخه انکار کوي، سود او شراب حلال ګڼي.

۱۶.پاکستان حکومت خپل مشران د قانون څخه پورته ګڼي.

۱۷.پاکستان حکومت د کفارو دوستي او غلامي کوي، پاکستان حکومت د الله تعالی د شریعت حدود تغیر کړي، پاکستان حکومت د جزیې او وینځو غلامانو قانون معطل کړی او انکار ترې کوي، پاکستان حکومت د شعائر الله بې عزتي کولو کې ممتاز حیثیت لري، د مساجدو ورانول، په هغې کې قرآن کریمونه په بمونو او ټینکونو ویشتل او سوځول، د حق پرسته علماؤ او موحدو عوامو مسلمانانو قتل عام حلال او قانوني حق ګڼل، همدغه رنګه موسیقي حلال ګڼل، جهاد پسې استهزاء کول، اسلامي نظام زوړ قانون ګڼل. ظلمونه یې له هیڅ چا پټ نه دي. د کوهاټ، نوښار، ګوړه قبرستان، اډیاله زندانونه او نور زیر زمیني زندانونه د مظلومو مسلمانانو څخه ډک دي. سلګونو عربان، مجاهدین او غیر مجاهدین، زنانه او معصوم ماشومان یې په صلیبیانو او یهودیانو خرڅ کړل. دغه وخت کې پاکستان کا مطلب کیا " لا إله إلا الله " چیرته و، دغه کلمه خو یې په لال مسجد، جامعه حفصه او نورو قبائلي علاقو کې په ټینکونو او توپونو وویشتله. هندوستان کې چې یو بابري مسجد شهید شو نو پاکستان خپلو تنظیمي عسکرو ته دا وظیفه ورکړه چې د عامو خلکو ذهن ته د انډیا نفرا ورواچوي. خو افسوس صد افسوس چې هماغه پاکستان خپله بې شمیره جماتونه او مدرسې ورانې کړې خو خپل درباري بلاعمه یې پرې آه هم نه کوي.

هغه هندو په یو مسجد ورانولو سره د قتال مستحق ګرځي خو پاکستان په لسګونو بلکې په سلګونو جماتونو او مدرسو ورانولو باوجود د جهاد مستحق نه ګرځي. دا لال مسجد او جامعه حفصه خو صرف مشهور شو، ځکه دا په اسلام آباد کې و، میډیا ورته لاس رسی لرلو، نور چې قبائلي علاقو، لکه وزیرستان، باجوړ ایجنسي، اورکزي ایجنسي، سوات او نورو علاقو کې کوم،کوم ظلمونه اسلامي شعائرو او بې وزله مسلمانانو سره وشو، هغه یو رب ته معلوم دي او د هغې نه وروسته د هغه ځای اوسیدونکو ته، خو دا خبره یقیني ده، چې ظالم کاسه به خامخا نسکوریږي، ان شاء الله، خو لږ حرکت غواړي.

یو طرف ته د پاکستان پوځ د کفر، شرک او مظالمو دغه حال دی او بل خوا یې د بې غیرتۍ داستانونه په تاریخونو کې ثبت دي، د مجاهدینو پر وړاندې د ددوی بزدلي خو څرګنده ده خو د هند پر وړاندې په هر میدان کې دې ناکام پوځ شکست خوړلی او له میدانه تښتیدلي دي، که هغه د کارګل جنګ و، که سیاچن و، که کشمیر و او که د بنګله دیش د لاسه ورکول و، هغه د ذلت تاریخي انځور په تاریخ کې نن هم ثبت دی چې پاکستانی جنرال خپل یو لک مسلح پوځ سره د هند پوځ ته سرټیټي تسلیم شو.

د پاکستان نوی سفیر چې هند ته لاړ شي نو هغوی یې لومړی نیشنل ډیفنس کالج ته رابلي، دلته ورته

غونډه جوړوي او د مراسمو څخه وروسته د چای څښلو لپاره هغه خونې ته بوتلل کیږي چې هلته د دوی د جنرال د تسلیمۍ شرمناک انځور لګیدلی، پدې سره ورته پیغور ورکوي، خپل حیثیت ورته واضحه کوي، او یوازې دا هم نه بلکې د نړۍ څخه راتلونکي میلمنو سره هم په دغه ځای کې په ویاړ سِلفیانې اخلي، لکه د سعودي عربستان لوي درستیز چې کله هند ته راغی نو هغه سره هم د هند لوي درستیز په دغه خونه کې د پاکستاني جنرال انځور تر مخه سِلفي واخیسته.

او پدې سره یې د سعودي او هند د تعلقاتو استحکام اظهار وکړو او خپل رقیب پاکستان ته یې داسې سیاسي ګزار ورکړو لکه د آی ایس آی پخواني رئیس جنرال فیض حمید چې کابل کې د چای پیالۍ سره ویستونکي انځور سره هند ته سیاسي ګزار ورکړی و.

دا د دې ناپاک پوځ ایمان او زړورتیا ده خو چې د مدرسې بې وسه طالبان او مظلوم مسلمانان راونیسي نو بیا پرې خپل زړه یخوي.

الغرض تقي عثماني په شمول د پاکستان ټولو درباري ملایانو ته وایو چې د پاکستاني حکومت او پوځ په دفاع کې ځانونه ولې ستړي کوئ، ولې د هغوی په شرک، ردت او ظلم کې ځانونه شریکوئ، د الله تعالی عذاب څخه وډار شئ او د کفر ملاتړ پریږدئ.

{ولا تَركَنُوا إلى الذينَ ظَلَموا فتَمَسَّكُمُ النَّارُ ومَا لكم مِن دُونِ اللهِ مِن أولياءَ ثُمَّ لا تُنصَرون} [سورة هود: 113]

ژباړه: او مه کږیږئ تاسې ظالمانو ته، وبه رسوي تاسې ته اور، او نه به وي ستاسې لره د الله عزوجل پرته څوک دوستان، بیا به تاسې سره کومک نشي کیدای.

او د پاکستان په طلباؤ او عوامو دا غږ کوو چې دې درباري ملایانو څخه ځان وساتئ، ځکه دا ستاسې دنیا او آخرت بربادوي، الله مه کړه که تاسې د دوی خبره ومنله او د مرتدینو ملاتړ مو وکړو نو قیامت په ورځ به بیا ارمان کوئ، الله تعالی به درته سخت عذاب درکړي.

{يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا * قَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا * رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا} [الأحزاب: 67، 68].

ژباړه: پدغه ورځ اړولې راړولې به شي مخونه د هغوی په اور کې، وایي به های ارمان دی چې مونږ

د اللــه او د رســول اطاعــت کــړی وی او هغــوی بــه وایــي اې ربــه زمونــږ! یقینــا مونــږ د خپلــو سردارانــو او مشرانــو تابعــداري کــړې وه، نــو مونــږ یــې د ســمې لارې څخــه گمــراه کــړو،اې زمونــږ ربــه! تــه دوی تــه دوه چنــده عــذاب ورکــړې او پــدوی بانــدې لــوي لعنــت وکــړی.

وَيَــوْمَ يَعَــضُّ الظَّالِــمُ عَــلَى يَدَيْــهِ يَقُولُ يَــا لَيْتَنِــي اتَّخَــذْتُ مَــعَ الرَّسُــولِ سَــبِيلًا (27) يَــا وَيْلَتَــى لَيْتَنِــي لَــمْ أَتَّخِــذْ فُلَانًا خَلِيلًا. [ســورة الفرقــان:27-27]

ژبــاړه: او پدغــه ورځ دا ظــالم بــه پخپلــو لاســونو چکونــه لگــوي او وایــي بــه هــای ارمــان دی مــا د رســول لار نیولــې وی. هــای تباهــي ده، ارمــان دی چــې فلانکــی مــې پــه دوســتۍ نــه وی نیولــی.

إِذْ تَــبَرَّأَ الَّذِيــنَ اتُّبِعُــوا مِــنَ الَّذِيــنَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَــذَابَ وَتَقَطَّعَــتْ بِهِــمُ الْأَسْــبَابُ (166) وَقَــالَ الَّذِيــنَ اتَّبَعُــوا لَــوْ أَنَّ لَنَــا كَــرَّةً فَنَتَــبَرَّأَ مِنْهُــمْ كَــمَا تَــبَرَّءُوا مِنَّــا كَذَلِــكَ يُرِيهِــمُ اللَّــهُ أَعْمَالَهُــمْ حَــسَرَاتٍ عَلَيْهِــمْ وَمَــا هُــمْ بِخَارِجِــينَ مِــنَ النَّــارِ. [ســورة البقــرة:167-166]

ژبــاړه: کلــه چــې بــراءت وکــړي هغــه کســان چــې تابعــداري یې شــوې ده، د خپلــو تابعــداراو نــه، او د دوی ترمنــځ خپلــولي پــرې شي. او وایــي هغــه کســان چــې تابعــداري یــې کــړې ده، کچیــرې وی د هغــوی لپــاره بیرتــه راتــگ نــو مونــږ بــه بــراءت کــړې وی د هغــوی نــه لکــه څنگــه چــې هغــوی زمونــږ څخــه بــراءت وکــړو، همــدا شــان ښــایي اللــه تعالــی دوی تــه خپــل عملونــه د دوی د افســوس لپــاره او نــدې دوی وتونکــي د اور نــه.

نو اې د پاکستان په سیمه میشتو مسلمانانو!

د پاکســتان فعلــي دینــي، ســیاسي او اقتصــادي بحــران څخــه د وتلــو یوازینــی لار تــوره او ټوپــک ده، نــو راځــئ چــي د اســلامي خلافــت تــر قیــادت لانــدې د اللــه تعالــی پــه لاره کــي ســپیڅلی جهــاد وکــړو او پــه ســیمه اســلامي نظــام نافــذ کــړو.

أرض خراسان / ١٥ رجب المرجب / ١٤٤٤ هـ ق

لنډه کیسه

سرې تیږې

بسم الله الرحمان الرحیم

له څو ورځو راهیسې یې جوش کریجوار خوړل، هغه هم نیږدې په خلاصیدو وو، پنځه کلن حذیفه او درې کلنه فاطمه به هر سهار په دې تمه راجګیدل چې سهار به یې پلار راشي، سبا به یې بیا توله ورځ په تریخ انتظار ماښام کړه، خو د پلار درک به یې راونه لګیده، هر ماسخوتن به یې د مور زړه په دې پوښتنو خوړ چې: پلارجان به کله راځي، د عایشې پلار هم راغی د سلما او معاذ پلار هم راغی او زموږ پلار نه راځي؟

مور به یې سیني ته راجوخت کړل په سرونو به یې ښکل کړل ورته به یې په جار او قربان کړه: بچو دعا ورته کوئ الله مهربانه دې نور یې د راتللو ورځې دي، د تشکیل وخت یې هم پوره دی، نور به راځي ان شاء الله.

مور یې حذیفه او فاطمې ته اطمنان ورکاوه خو خپله یې ورځ تربلې د زړه درزا زیاتیده او د فاطمې د پلار په اړه یې ډول، ډول فکرونه کول، کله به یې ویل شاید هملته سنګر کې به په مخامخ نښته کې شهید شوی وي، کله به یې ویل کیدای شي سنګر یې بمبار شوي وي، کله به یې زړه کې دا ورتیره شوه چې د تشکیل وخت یې هم یوه هفته وشوه چې پوره شوي، کیدای شي کور ته د راتللو په لاره کې ډرون ویشتلی وي.

سهار یې بچي ځان پسې کړل او د معاذ دوی کور ته لاړه چې د هغې د پلار څخه د خپل خاوند مالومات واخلي، خه وو، هغې ورته د خپلې میرمنې په خوله داړ ورکړ چې: انجنر صیب جوړ تیار وو، ماسره یو سنګر کې و، زما تر راتللو ښه و، ځینې ملګرو ته په انتظار و، چې هغوی وروسیږي نو نور نه ایساریږي راروانیږي، زه چې راتللم هم راته یې وویل کور کې به مې خوراکي توکي خلاص وي، الله شته زما اوس اراده وه چې درشم او حال مو واخلم خو دا فضا ډیره ګډه وه وه مال لږ حالات راخه شي درتللم.

د فاطمې مور خوشاله شوه، د خاوند له حاله چې خبره شوه نو د خپل کور حال یې هیر شو، چې د معاذ دوی چله کوره راوتله، نو د معاذ پلار ترې بیا مالومات وکړل چې کور کې مو څه شته که نه؟

حذیفه ورته په وره ژبه وویل: نه، کاکا اوره وخته خلاص شوي دي، دا یوه جمعه مو جوش کړي جوار وخوړل هغه هم بیګا خلاص شول.

د معاذ پلار خپلې میرمنې ته ورغږ کړ: هغه اوړه ورسره نیم کړه.

ددوی په بوجۍ کې هم یو من اوړه پاتې وو، هغه یې د حذیفه مور سره نیم کړل او په خوشالۍ خپل کور ته راوخوځیدل.

چې کور ته راورسیدل، نور نو د فاطمې او حذیفه صبر تمام و، هره شیبه به د خپلې ختېځې کلا شاته لږ ورپورته هغه کنډو ته ختل چې تر لرې ترې دده د پلار د راتللو لار ښکاریده، په دغه لار به هر راتلونکی کس دوی ته خپل پلار ښکاریده خو چې رانیږدې به شو هغه به بل کوم مهاجر انصار یا مجاهد وو، دویمه ورځ یې وه چې هغه د معاذ دوی له کوره راوړي اوړه یې هم خلاص کړي وو، خو ښه وو، خوا او شا نورو مهاجرینو به ورته څه ناڅه رالیږل، د ټولو مهاجرینو کورنو کې د خوراک څه نه پیدا کیدل، خو که کوم کور کې به څه وو نو هغه به بیا په ډیر اخلاص په نورو ویشل، دا داسې مهال وو، چې بهر د وتلو شان نه و، هر زنده سر د امریکایي ډرون له لوري په نښه کیده، نیږدې شپږ میاشتې کیدې چې د خراسان په تمکین له بل هر وخت زیات وحشت روان و، دا مسلسل د ځارګرو الوتکو څار او د ډول، ډول طیارو او کروزنو بمبار د نورو کلونو سره ډیر فرق درلود دا کال یې بیخي حالات راسخت کړي وو، همغه وو چې شپږ میاشتې وروسته طالب ملېشې د امریکایي طیارو په سیورو کې د اسلامي دولت په تمکین راوختل په داسې حال کې چې ددوی له بریدونو وړاندې یې مسلسل یو کال داسلامي دولت په تمکین داسې حال جوړ کړی وو، چې نقل وحرکت بیخي محدود شوی و، او هر اړخیز فشارونه ددې باعث شول چې مجاهدین د سختو حالاتو له کبله د مهماتو او خوراکي توکو او نورو امکاناتو د کمښت او په وخت خطونو ته د مجاهدینو د تشکیلاتو د نه رسیدو له کبله سخت کمزوري شول، د فاطمې او حذیفه پلار انجینر اسد هم دوه میاشتې کیدې چې د طالب ملېشو په وړاندې د یو قوي سنګر ساتنه یې کوله، انجنر څو کلونه کیدل چې هجرت یې کړی وو، د پوهنتون د استادۍ ترڅنګ څوځایه نور هم په دندو بوخت وو، خو دا هر څه یې د الله لپاره پریښودل، لومړی ځانته تمکین ته راماهاجر شوی و، مور پلار یې او خواښې او خسر یې دده زنانه او بچې ورته نه راپریښودل، میرمن یې هم له پوهنتون فارغه وه او الله عزوجل پرې د دیني علم لورینه هم کړې وه، اخر یې میرمن په دې وتوانیده چې خپله کورنۍ مجبوره کړي او ده ته هم د هجرت اجازه ورکړي، هغه هم ورځ وه چې د انجنر بچي تمکین ته راورسیدل، نوموړی له حده زیات خوشاله وو.

په هر صورت نن له سهاره وریځ وه، ماذیګر نری باران وریده چې حذیفه په خوشالۍ د خپل کور خره پرده پورته کړه او په مور یې زیری وکړ: مورجانې پلارجان مې راغی، نور دوه کاکاګان هم ورسره دي.

او لږه شیبه وروسته انجنر اسد لمدې څنګ په وره راننوت، میرمن

يې په موسکا ورولاړه شوه ، له غاړې يې ورته د شاجورونو او ګرنټونو ډکه لمده چانټه را ايله کړه ، کلاشن يې ترې واخست او د منډې سره يې ورته وچ کالي راوخستل .

انجنر اسد خپلې ميرمنې څخه دوه جوړه نور اوچ کالي هم وغوښتل حذيفه او فاطمه يې دواړه غبرګ غيږ کې ونيول او سره له وچو جامو حجرې ته ووت، لږه شيبه وروسته يې ميرمنې چاې تيار کړی و، خو خوړه ورکره نه وه ، انجنر له ميرمنې وپوښتل : د خوراک څه نه شته ، مونږ خو له سهاره څه نه دي خوړلي ؟

ميرمنې يې ورته خوږه موسکا وکړه : نه کور کې خو څه پاتې نه دي ، ته صبر د صبور دوی پلار نن سودا پسې تللی وو، که څه شی يې راوړي وي ، لږ وروسته يې د هغوی له کوره سپوره ډوډۍ راوړه په يوه ډوډۍ انجنر او ورسره دوه راغلو ميلمنو مجاهدينو ګذاره وکړه . د شپې انجنر حذيفه او فاطمې ته د سنګر ډيرې کيسې وکړې او هغوی هم ددې کيسو ته تږي ، تږي وو، خو حذيفه به په هره خبره کې وريادوله چې پلاره سبا سودا راوړې ، لوبيا هم راوړې ؟

د شپې يې ورته وويل : بچو که خير وو، سبا وريځ وه نو ان شاء الله سودا پسې ځم او لوبيا هم راوړم بچيه هو .

په سبا خه وو، وريځ وه ، ميلمانه يې رخصت کړل او انجنر د سودا په تکل له کوره ووت ، قضا ماسپخين وو، چې له اسمان څخه وريځې وکوچيدلې او ورسره جوختې امريکايي ډورن الوتکې راورسيدې ، د حذيفه د مور خپل خاوند ته ډيره انديښنه شوه ، ماذيګر يې د ډرون د توغنديو تريخ غږ انديښنه نوره هم ورزياته کړه ، چې يې وکتل له خپل کوره کوز يې د خوړ په غاړه له تللې نرۍ لارې لوګی پورته شو، په زړه يې وخوړه چې انجنر يې وويشت ، نور يې صبر ونه شو ، څادري يې په سر کړه حذيفه او فاطمه يې له ګوتې ونيول ، په چابکو قدمونو د ډرون د بريد ځای ته ور روانه شوه ، څومره چې د بريد ځای ته نيږدې کيده د زړه درزا يې زياتيده ، چې ور ورسيده له څه چې ويريدله همغه کيسه شوې وه ، د انجنر سپين مخ په وينو سور وو، د ږيرې او سر ويښته يې سوځيدلي وو، خړ ګردونه پرې پراته وو، د انجنر په ليدو يې ميرمن له الله څخه د صبر غوښتنه وکړه ، سر يې ورته راپورته کړ ، په خپل غيږ کې يې کيښود او په ټيکري يې ورته له مخ او سر څخه ګردونه پاکول ، حذيفه او فاطمه زبون وهلي ولاړ وو، دواړه سلګو نيولي وو، اوړه ، بوره هم شيندلي او په خاورو خړ لږ ، لږ مالوميدل ، حذيفه کيناست هلته په خاورو او وينو لړلي د لوبيا دانې يې راټولولې مور ته يې ورمخ کړ : په ژړغونې غږ يې ورته کړه : مورجانې پلارجان مې لوبيا هم اخستې وو، دا دی ټول ترينه کاپرو شيندلي، لږ وروسته د نيږدې کورونو څو زنانه نورې هم راورسيدې انجنر يې نيږدې کورونو ته د وروړو په نيت کټ ته ورپورته کړ ، ميرمنې يې هلته پرتې په وينو سرې تيږې راواخستې او د انجنر د ويشتو په ځای يې کيښودې .

سوال او ځواب

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! په دې ګڼه کې مو هم ستاسې ځينې رالېږلې پوښتنې ځواب کړي دي ،که تاسې نورې ورته پوښتنې لرئ نو زموږ په ادرسونو يې موږ ته راواستوئ

مجاهد لپاره تيمم وهل په وخت د ډار کې

سوال: مجاهد ته چې کله د دښمن له ډاره د اودس موقع نه وي، نو څه به کوي ؟

جواب:مجاهد ته چې کله ددښمن له وېرې د اودس موقع نه وي، نو تيمم وهل ورته جائز دي، ځکه چې دا پښان د هغه چا دی چې اوبه نه مونده کوي.(انظر بدائع الصنائع ١٧٠/١المجموع 2/298)

تيمم به په هر هغه څه سره وهي چې د مخ د ځمکې نه وي لکه: خاوره. لوټه. شګه. او په هغه ديوال چې ګرد او غبار لري.

دليل: عن أَبِي جُهَيْم بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ الْأَنْصَارِيِّ فَقَالَ أَبُو الْجُهَيْم : أَقْبَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَتَّى أَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ، ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ.)متفق عليه (

ژباړه: ابي جهيم الانصاري)رضى الله عنه(نه روايت دی، هغه وايي: چې نبي)عليه السلام(د بئر جمل) په مدينه کې د يو ځای نوم دی (د طرف نه راغی، نو يو سړی ورسره مخ شو او سلام يې پرې واچولو، نو نبي)صلى الله عليه وسلم(ورته جواب ورنکړ، تر دې چې ديوال ته رامخامخ شو، نو مخ او لاسونه يې پرې مسح کړل)يعنې تيمم يې وکړ (بيا يې د سلام جواب ورکړ.

الله تعالى فرمايي:[فَلَمْ تَجِدُوا مَآءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا] (سُورَةُ النِّسَاء : 43)

ژباړه: پس که تاسې اوبه ونه مومئ ،نو تيمم وکړئ، له پاکې خاورې څخه کار واخلئ او په هغې خپل مخونه او لاسونه مسح کړئ؛ بېشکه الله د عفوې څخه کار اخيستونکی او ببښنه کوونکی دی.

د صعيد معنى:[كل ما صعد على وجه الأرض فيدخل فيه التراب والرمل ونحوه.....)ابن كثير (

ژباړه: هر هغه څه چې د ځمکې د پاسه وي، نو خاوره او شګه وغيره پکې داخل شول.

د صلاة خوف يعني د وېرې لمونځ احکام

سوال:په جهاد کې د صلاة خوف)وېرې لمونځ(څه احکام دي؟

جواب: د علماوو اتفاق دی چې صلاة خوف مشروع او جائز دی، نبي)عليه السلام(خپله هم دا لمونځ کړی دی او د هغه د وفات څخه وروسته صحابه کرامو هم کړی دی.

دلیل : الله تعالی فرمایي: [وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ⊠ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةً ⊠ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓا أَسْلِحَتَكُمْ ⊠ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ ⊠ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا)سُورَةُ النِّسَاء : 102(

ژباړه: اې پیغمبره! کله چې ته د مسلمانانو په منځ کې یې او (د جنګ په حالت کښې) له هغو سره په لمانځه ولاړ یې، نو په کار ده چې له هغو څخه یوه ډله دې ستا سره ودرېږي او وسله یې باید اخیستې وي، بیا چې کله هغوی سجده وکړه، نو په وروسته دې لاړ شي او هغه بله ډله چې تر اوسه یې لمونځ نه دی کړی، را دې شي او ستا سره دې لمونځ وکړي او هغه دې هم تیار او په وسله سنبال اوسي، ځکه چې کافران دا غواړي چې که تاسې له خپلو وسلو او خپلو تجهیزاتو څخه لږ شان غافل شئ، نو هغوی به پر تاسې په یو وار توی شي (حمله وکړي)، البته که تاسې د باران له امله تکلیف احساس کړئ، یا ناروغان اوسئ، نو په وسله ایښودلو کښې څه باک نشته، خو بیا هم بیدار او تیار اوسئ. باور ولرئ چې الله د کافرانو لپاره رسوا کوونکی عذاب تیار کړی دی.

د صلاة خوف شرطونه :

اول شرط: دادی چې دغه جنګ به جائز وي لکه: د کفارو اومرتدینو او د باغیانو وغیره... سره به جنګ وي .

دوهم شرط: د دښمن د حملې خطره به وي په دې وجه چې دښمن به مجاهدینو ته نږدې وي او یا به ورسره ددښمن د حملې با اعتماده خبر موجود وي او یا به ددښمن د کمین او چل خطره وي او دا قول په نیز د جمهورو دی.

دلیل: الله تعالی فرمایي: [فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُبِينًا . (سورة النساء: 101)

ژباړه : نشته ګناه په تاسو باندې چې کم کړئ لمونځ، که چېرته وېرېږئ تاسو چې تکلیف به درکړي تاسو لره کافران، یقیناً کافران ستاسو لپاره دښمنان دي ښکاره.

دریم شرط : دادی چې مجاهدین به دښمن ته مطلوب وي او کوشش به ورپسې کوي او دوی به په حالت د ضعف او کمزورۍ کې وي او دښمن به په حالت د قوت او کثرت کې وي او یا به مجاهدین د جنګ هنر او چل جوړوي او یا به مجاهدین خپلې ډلې سره یو ځای کېدونکې وي، نو په دې وخت کې صلاة خوف لمونځ جائز دی (انظر الذخیره 2/442 ـ وحاشیة الخرشي (2/28499

خو د خوف یعنې وېرې لپاره دوه حالته دي:

اول حالت: الخوف غیر الشدید.

کمه وېره، د کمې وېرې لپاره قاعده داده چې صرف د دښمن د ناڅاپه حملې خطره به پکې موجوده وي؛ که چېرته په لمونځ مشغول شي او دا خطره ددې وجې نه وي چې دښمن به نږدې وي، چې یو بل به وینې او یا هم با اعتماده راپور او خبر ددښمن د حملې موجود وي ،چې په دې حالت کې صرف وېره د جنګ وي خو جنګ به نوي شروع شوی.

په دې حالت کې د لمونځ طریقه چې کله دښمن قبلې طرف ته وي په دې لاندې حدیث کې بیان شوې ده .

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ : شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ، فَصَفَّنَا صَفَّيْنِ ؛ صَفٌّ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالْعَدُوُّ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، فَكَبَّرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَبَّرْنَا جَمِيعًا، ثُمَّ رَكَعَ وَرَكَعْنَا جَمِيعًا، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَرَفَعْنَا جَمِيعًا، ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ، وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ، وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِي نَحْرِ الْعَدُوِّ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُودَ، وَقَامَ الصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ، وَقَامُوا، ثُمَّ تَقَدَّمَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ، وَتَأَخَّرَ الصَّفُّ الْمُقَدَّمُ، ثُمَّ رَكَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكَعْنَا جَمِيعًا، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَرَفَعْنَا جَمِيعًا، ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ الَّذِي كَانَ مُؤَخَّرًا فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى، وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِي نُحُورِ الْعَدُوِّ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُودَ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ فَسَجَدُوا، ثُمَّ سَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَّمْنَا جَمِيعًا. (رواه مسلم)

ژباړه : د جابر بن عبد الله (رضی الله عنهما) څخه نقل دي؛ هغه وایي: چې زه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره صلاة خوف ته حاضر شوم، نو مونږ یې دوه صفونو کې ودرولو یو صف وروسته نبي (علیه السلام) پسې ودرېدو چې دښمن زمونږ او قبلې تر مینځ و، نو نبي)علیه السلام(الله اکبر یعنې تکبیر تحریمه وکړه او مونږ هم ټولو (دواړو صفونو) تکبیر تحریمه وکړه، بیا نبي (علیه السلام) رکوع وکړه او مونږ هم ورسره ټولو)دواړو صفونو(رکوع وکړه، بیا یې د رکوع نه سر پورته کړ او مونږ هم ټولو سرونه پورته کړل، بیا سجدې ته لاړ او یواځې هغه صف ورسره سجدې ته لاړ کوم چې نبي (علیه السلام) ته نږدې ولاړ و او وروسته صف یعنې دویم صف ولاړ پاتې شو ددښمن په طرف، کله چې نبي (علیه السلام) سجدې وکړې او هغه صف پاڅېده کوم چې نبي (علیه السلام) ته نږدې و، نو وروستنی صف سجدو ته ښکته شو (دواړه سجدې یې ځانته وکړې) او بیا ودرېدل، بیا وروستنی صف مخکې شو او مخکنی وروسته شو، بیا

نبي (عليه السلام) رکوع ته شکته شو او مونږ هم ټول رکوع ته شکته شو، بيا يې د رکوع نه سر پورته کړ، نو مونږ هم ټولو سرونه پورته کړل، بيا نبي (عليه السلام(سجدو ته لاړ او هغه صف هم ورسره لاړ کوم چې نبي)عليه السلام(ته نږدې و، چې په اول رکعت کې وروسته و او وروستنی صف دښمن په طرف ولاړ پاتې شو، کله چې نبي)عليه السلام(دواړه سجدې وکړې او ورسره هغه صف چې نږدې و، نو وروستنی صف سجدو ته شکته شو او (دواړه سجدې يې ځانته وکړې) سجدې يې وکړې، بيا نبي (عليه السلام) سلام وګرځولو او مونږ ټولو ورسره سلام وګرځولو.

او کله چې دښمن د قبلې نه بل طرف ته وي نو د صلاة خوف طريقه په حديث کې داسې ذکر ده. عَن عبدالله بـن عمربن الخطاب رضى الله عنهماَ، قَالَ : صَلَّى بنارَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ في بَعْضِ أَيَّامِه، فَقَامَتْ طَائِفَةٌ مَعَهُ، وَطَائِفَةٌ بِإِزَاءِ الْعَدُوِّ، فَصَلَّى بِالَّذِينَ مَعَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ ذَهَبُوا، وَجَاءَ الْآخَرُونَ، فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَةً، وقضت الطَّائِفَتَانِ رَكْعَةً رَكْعَةً.(متفق عليه)

ژباړه: عبد الله بن عمر)رضى الله عنهما(نه روايت دی وايي: چې مونږ ته رسول الله)صلى الله عليه وسلم(د ويرې لمونځ وکړ په بعضې ورځو کې، نو يوه ډله د هغه سره ودريده او بله ډله دښمن په طرف، نو يو رکعت لمونځ يې هغه ډلې ته وکړ کومه چې ورسره ولاړه وه، نو بيا دغه ډله لاړه او هغه بله ډله راغله (کومه چې دښمن په طرف ولاړه وه(نو دې ډلې ته يې هم يو رکعت لمونځ وکړ، نو بيا دواړو ډلو يو، يو رکعت قضايې راوړو.

دويم حالت : شدة الخوف .

سخته ويره يا د لښکرو په منځ کې جنګ شروع کېدل، نو دې ويرې قانون دادی چې دښمن به په مجاهدينو دپاسه وي چې يو بل به ويني او لمونځ ته به يې نه پرېږدي، چې د سنګر نه شکته شي چې لمونځ اداء کړي، بلکې حمله به پرې کوي او مجاهدين به هم په بې پناه ځای او ميدان کې وي چې د دښمن غشي به ورته رسيږي، نو په دې حالت کې د فقهاؤ اتفاق دی چې مجاهدين به د خپل حال مطابق لمونځ کوي پياده او په سورلی قبلې ته او غير د قبلې نه، چې رکوع او سجده به په اشاره کوي .

دليل: الله تعالى فرمايي:[فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ...(سُورَةُ البَقَرَة : 239)

ژباړه: که امنيت خراب وي، نو که پلي ياست او که سپاره، په هر شان چې کولای شئ لمونځ وکړئ.

وقال ابن عمر رضى الله عنهما: فإن كان خوفا هو أشد ..... صلوا رجالا قياما على أقدامهم او ركبانا مستقبل القبلة أو غير مستقبليها. (موطا امام مالك رواية يحى بن يحى: 258/١)

ژباړه: ابن عمر (رضى الله عنهما) وايي که چيرته ويره سخته وه ....نو لمونځ دې وکړي پياده چې ولاړ وي پخپلو قدمونو باندې او يا په سورلی باندې، که قبلې ته مخ کوونکې وي اوکه نه وي.

مجاهد لپاره په سورلی وغيره کې د لمونځ کولو حکم

سوال: ايا مجاهد لپاره په سورلی، ټانګ، موټر وغيره کې لمونځ کول جائز دي او که نه؟

جواب: د فقهاؤ (رحمهم الله) په دې اتفاق دی، چې کله ويره سخته وي، نو مجاهد لپاره د سورلی دپاسه لمونځ کول جائز دي، خو رکوع او سجده به په اشارې سره کوي، که مخ يې قبلې طرف ته وي او که بل طرف ته وي، نو د خپل وس مطابق به لمونځ کوي.

دليل: الله تعالى فرمايي:[فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ...(سُورَةُ البَقَرَة : 239)

ژباړه: که امنيت خراب وي، نو که پلي ياست او که سپاره، په هر شان چې کولای شئ لمونځ وکړئ.

د مجاهد لپاره په دار الحرب کی قصر لمونځ کول

سوال: مجاهد به په دارالحرب کې قصر لمونځ کوي او که پوره لمونځ به کوي ؟

جواب: د مجاهد لپاره په دارالکفر کې قصر لمونځ بهتر دی د درې وجو نه:

اوله وجه: د مجاهد نيت د اقامت په دارالکفر کې نه صحيح کيږي.

دوهمه وجه: مجاهد په اطاعت د عمومي امير کې وي، نو پخپل اختيار په يو ځای کې نشي پاتې کېدلی.

دريمه وجه: د نبي)عليه السلام(او صحابه کرامو نه د قصر لمونځ لپاره، تعين د مودې په جهادي سفرونو کې ثابت نه دی.

د احاديثو نه ددې دلائل ډېر دي چې صحابه کرامو تر ډېرې زمانې د جهادي سفر له وجې قصر لمونځ کړی دی او په فتح د مکه کې(١٩) نولس ورځې قصر د نبي (عليه السلام) نه ثابت دی او په غزوه تبوک کې يې (20) شل ورځې قصر کړی دی. كما قاله شيخ الاسلام في (فتاواه 136/24)

اول دليل: روى ابن عباس رضى الله عنهما أن النبي صلى الله عليه وسلم أقام بمكة تسعة عشر يوما يصلي ركعتين.(رواه البخاري)

ژباړه: ابن عباس (رضى الله عنهما) نه نقل دي چې نبي (عليه السلام) په مکه کې (١٩) نولس ورځې پاتې شو چې قصر به يې کولو.

دوهم دليل: عن جابر)رضى الله عنه(قال أقام رسول الله (صلى الله عليه وسلم) بتبوك عشرين يوما يقصر الصلاة.(رواه ابوداود والبيهقي بإسناد صحيح)

ژباړه: د جابر (رضى الله عنه) نه نقل دي چې رسول

الله (صلى الله عليه وسلم) په تبوک کې (20) شل ورځې پاتې شو چې قصر به يې کولو.

دريم دليل: أنس بن مالک رضی الله عنه په شام کې دوه کاله پاتې شوی دی چې قصر لمونځ به يې کولو. (رواه الأثرم عن حفص بن عبد الله)

څلورم دليل: ابن عمر (رضی الله عنهما) په اذربيجان کې د واوري له وجې شپږ مياشتې حصار شوی و چې قصر لمونځ به يې کولو. (رواه الأثرم وسنده صحيح) و إلى غير ذلك من الأدلة

ددې وجه داده چې کله په مسافه د قصر کې د يو انسان پاتې کېدل مقصود لذاته نه وي بلکې د جهادي مصالحو له وجې نه هلته پاتې وي، يا متردد وي چې نن ځم سبا ځم او هلته يې پاتې کېدل پخپل اختيار هم نه وي، نو دا به هلته مسافر وي، اګر که ډېره زمانه هم پاتې شي، چې دغه علتونه بعضې علماوو ذکر کړي دي.

نو د مجاهد پاتې کېدل هم په يو ځای کې ددغه علتونو نه خالي نه وي، نو قصر ورته بهتر دی.

امير صنعاني فرمايي:

وأما من تردد في الإقامة، ولم يعزم ففيه خلاف أيضا. فقالت الهادوية يقصر إلى شهر لقول علي - عليه السلام - " إنه من يقول اليوم أخرج غدا يقصر الصلاة شهرا " وذهب أبو حنيفة، وأصحابه وهو قول للشافعي وقال به الإمام يحيى إنه يقصر أبدا إذ الأصل السفر ولفعل ابن عمر فإنه أقام بأذربيجان ستة أشهر يقصر الصلاة وروي عن أنس بن مالك أنه أقام بنيسابور سنة أو سنتين يقصر الصلاة وعن جماعة من الصحابة أنهم أقاموا برامهرمز تسعة أشهر يقصرون الصلاة ومنهم من قدر ذلك بخمسة عشر وسبعة عشر وثمانية عشر على حسب ما وردت الروايات في مدة إقامته - صلى الله عليه وسلم - في مكة وتبوك، وأنه بعدما يجاوز مدة ما روي عنه - صلى الله عليه وسلم - يتم صلاته، ولا يخفى أنه لا دليل في المدة التي قصر فيها على نفي القصر فيما زاد عليها، وإذا لم يقم دليل على تقدير المدة فالأقرب أنه لا يزال يقصر كما فعله الصحابة؛ لأنه لا يسمى بالبقاء مع التردد كل يوم في الإقامة والرحيل مقيما، وإن طالت المدة.

سبل السلام ج 1/صـ 391

او د هغه چا په اړه "چې په شک کې وي او د اوسيدو پخه اراده يې نه وي" د علماءو اختلاف دی. هادويه ډله وايي چې د علي رضي الله عنه د قول " څوک چې وايي نن ځم او سبا ځم دا به يوه مياشت قصر کوي " له وجې يوه مياشت به قصر کوي.

امام ابو حنيفه او د هغه ملګري چې دا د امام شافعي قول هم دی او امام يحيی همدا قول کړی چې دا به هميش قصر کوي، ځکه اصل سفر دی او د ابن عمر رضي الله عنهما د عمل د وجې، ځکه هغه په آذربيجان کې شپږ مياشتې تيرې کړې وې او قصر مونځ به يې کوو. او د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت کړی شوي دي چې هغه په نيسابور کې يو کال يا دوه کاله قصر مونځ کړی او د صحابوو د يوې ډلې نه هم نقل دي چې هغوی په رامهرمز کې نهه مياشتې تيرې کړې وې او قصر مونځ به يې کوو. او بعضې علماءو د دې اندازه پنځلس، اوولس او اتلس ورځې ښودلی د وجې د هغه رواياتو چې د نبي عليه السلام مکه او تبوک کې مودې تيرولو په اړه راغلي او دوی وايي چې کله دا موده تيره شي نو بيا به پوره مونځ کوي.

خو دا خبره دې پټه نه وي چې د نبي عليه السلام د قصر کولو موده کې د دغه مودې نه ډېر قصر کولو نفي نشته. نو کله چې د مودې په اندازې دليل نشته نو صحيح خبره دا ده چې دا به هميشه قصر کوي لکه څنګه چې صحابوو کوو. ځکه هره ورځ پدغه شک کې چې " ځم او پاتې کيږم " دې ته مقيم نه ويلې کيږي اګر که موده پرې اوږده شي.

شيخ عبد الله بن محمد بن عبد الوهاب رحمه الله د دښمن په وړاندی د مجاهد اقامت باره کې اوږد بحث کړی نو هغه وايي:

أن الصواب في هذه المسألة، ما اختاره غير واحد من الصحابة والتابعين لهم بإحسان: أن المسافر يجوز له القصر والفطر ما لم يجمع على إقامة أو يستوطن، فحينئذ يزول عنه حكم السفر، ويكون حكمه حكم المقيم. الدرر السنية ج 5 / صـ 330

پدې مسئله کې حق دا دی چې هغه د ډېرو صحابوو او د دوی ښايسته تابعداري کونکو (تابعينو) غوره کړی: مسافر لپاره قصر او روژه ماتول تر هغې جائز دي تر څو چې دا د پاتې کيدو پخه اراده يا دا علاقه وطن ګرځولو اراده ونه کړي، دغه ارادي په وخت د ده نه د سفر حکم لرې کيږي او دا د مقيم حکم اخلي.

بيا مخکې وايي: وقد قال أصحاب أحمد: إنه لو أقام لجهاد عدو، أو حبس سلطان، أو مرض قصر، سواء غلب على ظنه انقضاء الحاجة في مدة يسيرة أو طويلة.

وهذا هو الصواب، لكن شرطوا فيه شرطا لا دليل عليه من كتاب ولا سنة ولا إجماع ولا عمل الصحابة.

د امام احمد ملګري وايي: کچيرته د دښمن پر خلاف جهاد يا د سلطان د بند او يا مرض له امله پاتې شو نو دا به قصر کوي، برابره ده که د ده په ګمان کې دا کار زر کيږي او که وروسته. دا صحيح خبره ده. خو دوی ورسره يو شرط لګولي خو پدې شرط د قرآن، حديث، اجماع او د صحابوو عمل نه هيڅ دليل نشته.

الدرر السنية

نو د جنګ په حالت قصر مونځ کول د لاندې سلفو نه ثابت دي: عبد الله بن عمر رضي الله عنه د اذربايجان په محاذ شپږ مياشتې د قصر مونځ کړی. (السنن الکبری للبيهقي، رقم ح 5476)

حافظ ابن حجر په " الدراية" 1/212 کې دی سند ته صحيح ويلي.

انس رضي الله عنه دوه په نيساپور کې دوه کاله قصر مونځ کړی. (التمهيد شرح الموطأ لابن عبد البر)

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فتوى دا ده چې په جنګ کې لاس کاله هم قصر کولی شي. نصر بن عمران ترې پوښتنه وکړه چې مونږ خراسان په ساحه کې په جنګونو کې زياته موده تيروو هغه ورته وويل: صل ركعتين وإن أقمت عشر سنين. (التمهيد شرح الموطأ لابن عبد البر) ژباړه: دوه رکعته مونځ کوه اګر که ته لس کاله تيروې.

سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه شام کې دوه مياشتې قصر مونځ کړى. (مصنف ابن أبي شيبة رقم ح 8200)
عبد الرحمن بن سمرة رضي الله عنه کابل کې د جنګ په حالت کې دوه کاله قصر کړى. (مصنف عبد الرزاق، رقم ح 4352)

مشهور تابعي امام مسروق کلونه قصر مونځ کړى. مصنف ابن أبي شيبة امام علقمه د مرو په سيمه کې دوه کاله قصر مونځ کړى دى. مصنف ابن أبي شيبة
شيخ سليمان بن سحمان وايي:
امام سعود بن عبد العزيز په "ثاج " کې ډيره موده تيره کړه او قصر يې کوو همدغه شان په " حناكية " علاقه کې، همدا رنګه فيصل بن سعود رحمه الله په حجاز کې شپږ مياشتې قصر کوو. امام فيصل بن ترکي او شيخ عبد اللطيف په " مسيمير " کې دولس مياشتې قصر کوو. همدا رنګ امام عبد الله بن فيصل او شيخ عبد اللطيف " حيانية" کې دوه مياشتې، په أفلاج او دواسر نورو علاقو کې ډيره موده قصر مونځ کوو. الدرر السنية

امام مالک رحمه الله قول په المدونة (ج ١ / ص ٢٠٩) کې نقل شوي، هغه دا وايي چې دار الحرب حکم جدا دى، پدې کې به انسان قصر مونځ کوي اګر که په يو ځای کې يوه مياشت، دوه مياشتې او يا ډير وخت تيروي:
وقال مَالِكٌ: لَوْ أَنَّ عَسْكَرًا دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ فَأَقَامَ فِي مَوْضِعٍ وَاحِدٍ شَهْرًا أَوْ شَهْرَيْنِ أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، فَإِنَّهُمْ يَقْصُرُونَ الصَّلَاةَ قَالَ: لَيْسَ دَارُ الْحَرْبِ كَغَيْرِهَا، قَالَ: وَإِذَا كَانُوا فِي غَيْرِ دَارِ الْحَرْبِ فَنَوَوْا إقَامَةَ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ أَتَمُّوا الصَّلَاةَ.

نو خلاصه دا شوه چې دار الحرب کې د مجاهد د اقامت نيت نه وي، د قرار او قرار ترمنځ وي، لهذا قصر مونځ ورته کول پکار دي. هذا ما عندي والله أعلم بالصواب

د ښاري مجاهدينو لپاره د جماعت لمونځ حکم

سوال: نن سبا د ښاري مجاهدينو لپاره د جماعت لمونځ څه حکم دى ؟
جواب: الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد:
نن سبا دار الکفر کې چې ښاري مجاهدين اوسيږي نو دوى لپاره د جماعت حکم لزوم او واجب دى..
اول دليل: الله تعالى فرمايي: (وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ) الآية، النساء/102.
ژباړه: او کله چې ته د مسلمانانو په منځ کښې يې او (د جنګ په حالت کښې) له هغو سره په لمانځه ولاړ يې؛ نو په کار ده چې له هغو څخه يوه ډله دې ستا سره ودريږي او وسله يې بايد اخيستي وي.
دا وګورئ حالت د جنګ کې يا حالت د رباط کې د جماعت دومره اهتمام راغلى او امر لپاره د وجوب دى.
دويم دليل:
امام بخاري کتاب الجهاد والسير باب سفير الاثنين لاندې حديث راوړي، چې امام مسلم او نورو کتابونو هم ذکر کړى:
عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ ، قَالَ : انْصَرَفْتُ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : " لَنَا أَنَا وَصَاحِبٍ لِي أَذِّنَا وَأَقِيمَا ، وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا ".
مالک بن حويرث رضي الله عنه وايي: زه د نبي عليه السلام څخه تللم نو هغه ما ته او زما ملګري ته وويل: تاسې اذان وکړئ او اقامت وکړئ او په تاسې کې دې مشر کس امامت وکړي.
استدلال: وګورئ ستاسې پوښتلې موضوع څومره روښانه بيانه شوې ده، سفر دى او دوه کسان دي، دوى ته نبي عليه السلام په جماعت امر کوي.
دغه رنګ د جماعت په اړه نور چې څومره روايات راغلي دي نو هغه کې عموم دى، د مسافر استثناء پکې نشته او دا مذکوره دلايل خو په خپله موضوع کې بيخي صريح دي.
لهذا ټولو ملګرو ته د جماعت اهتمام پکار دى ترڅو د جماعت اجر او ثواب ترې فوت نشي. هذا ما عندي والله أعلم بالصواب.

ډېر ژر
ان شاء الله تعالی

دا خوندور او ګټور کتاب په استشهاد، جنت،
شهادت او د الله لپاره د ځان او مال په قربانولو راڅرخي.
نو راځئ! ولولئ او تر نورو یې ورسوئ!

مؤسسة العزائم
الإعلامية

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي